له درز سره د ښځو او ماشومانو کریغې اسمان ته پورته شوې، ټولوانګړ ته منډې کړې، له بل درز سره کانې او لرګي د کوټې په ښیښو را ووربدل، ورپسې داسې ډزې جوړې شوې چې ټول انګړ کې سپینه رڼا شوه، په خونو کې لمبې تاوېدې او زه هک حیران په ځای کې ناست وم، داسې لکه دا هرڅه چې په خوب کې وینم، همدا چې ډزې غلې شوې، د ځګېرویو غږونه پورته شول، د ماشوم ځوی چغې مې ترغوږونو شوې، چې پلار، پلار ناري یې وهلې، خونې نه مې دباندې منډه کړه، چې نا څاپه مې د بهرنیو پوځیانو چیغې او شور ترغوږ شو، له چیغو سره په ما زربې شروع شوې. له ډزو سره مې ځان ببرته شاته ګوزار کړ، پوه شوم چې بهرني عسکر کور ته راغلي دي، په وجود کې مې ثوځایه د سخت درد احساس کاوه، اوږې ته مې پام شو، لکه چینه وینې ترې راخوټېدې، سترګې مې پټې، پټې کېدلې، بهرني عسکر مې شاوخوا ولاړ وو، خو ډېر تت راته ښکارېدل، ما وې چې وروستۍ سلګۍ مې دي، په زړه کې مې کلمه وویله او په سترګو مې تیاره زوروره شوه.

===

زړه کې لږ،لږ بېدار وم، په ځان پوی شوم چې لا ژوندی یم، د سترګو پرانستلو کوښښ مې وکړ، سترګې مې یوڅه درنې وې، خو و غړېدې، په رښتیا هم ژوندی وم، لکه د ټانګې اس ټوک، ټوک وم او په سپینو بنداژونو تړل شوی وم..شاپه تخته چپرکټ کې پروت وم په اړخ نه شوم اووښتی، شاوخوامې وکتل ثوک نه ښکارېدل. د پاڅېدو کوښښ مې وکړ، خو توان یې راکې نه و.د تېرې شپې یادونه مې سترګو، سترګو ته کېدل، زامن، لوڼې، مور، پلار، مېرمن او خور، ټول مې زړه کې و ګرځېدل، زه چېرته یم ! چار راوستی یم، ولې؟ ددې پوښتنو ځوابونه مې اورېدل غوښتل، په مخ مې اوښکې روانې شوې، د پاکولو لپاره مې لاس پورته کول غوښتل، خو دم پکې نه ؤ، له دې سره دوه نظامي بهرني ځوانان خونې ته راننوتل، زما په بیداری [illegible] یو بل ته وکتل او مسکۍ شول، [illegible] یې رامخکې [illegible]، زما په زړه کې پرې [illegible] په [illegible] کښ، [illegible] ریزي څه ویل خو زه یې په خبرو پوه نه شوم، ما ورته په خپله ژبه وویل چې ستا په خبرو نه

Ketabton.com

ما وژلی!

Nasrat.ilhan

زی مارکېټ، بزازی

پانه

عري

اروا ته!

ارش ننګیال

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېږم، زلمی په خندا شو بل ملګري ته یې څه وویل او دواړه له خونې ووتل.

ما یواځې د یوې پوښتنې ځواب موندلی و او پوه شوی وم چې امریکایي ځواکونو نیولی یم، خو حیران په دې وم چې ولې؟ له دې سره هغه دوه امریکایان، له یوې ښکلې خارجي ټیپه جنۍ سره چې کاوبای پتلون او لنډ کمیس یې اغوستی دی، راننوتل، جنۍ په ما ته ګوډه پښتو سترې مشې وکړه، ما له واره ترې د خپلې کورنۍ پوښتنه وکړه او دا مې هم وویل چې دې کافرو زه ولې راوستی یم؟

جنۍ راته په کراره وویل: هرڅه چې وایې په آرامي ووایه ! (اوکی !) فامیل دې توله روغ، جول دي.

له دې خبرې سره مې قهر نور هم زیات شو، په چغو مې ورته وویل: ما په خپلو سترګو ولیدل چې دې کافرو وویشتل، ته وایې چې روغ جوړ دي؟

دربواړه غلي، غلي ولاړ وو، ما چیغې وهلې او د کورنۍ پوښتنه مې ترې کوله، هغه لومړني زلمي پوځي جنۍ ته څه وویل، جنۍ زما خواته رانېژدې شوه:

- که ته غلی نه شې هیڅوک به له تا سره خبرې ونه کلي، دا به تا ته د ېر تاوان وکلي، هر څه به درته وویل شي.ریلیکس ریلیکلس اوکی.

د هغې خبرې لا نه وې تمامې چې ما ورنه وپوښتل:

- دا کوم ځای دی؟ او دوی ولې راوستی یم؟

جنۍ ځواب راکړ: دا ځای بګرام دی، ته یې د طالب په نام نیولی یې، موږ پوهیږو چې ته طالب او القاعده نه یې، هسې په تا لږ شک دی، خو کله چې روغ شوې بیا دې آزاد کوو، هسې د څو ورځو لپاره به دلته یې، نو ته ولې وارخطا یې؟

- عجیبې خبرې کوې ! ولې وارخطا یې... زه د بند په کیسه کې نه یم، زما کورنۍ څنګه ده؟ هغوی چېرته دي؟

-ستا کورنۍ یو څه زخمي شوي وو، اوس په خپل کورکې روغ جول دي، اندرستیند ؟



له دې سره مې زړه یو څه په کراره شو، خو بیا مې هم باور نه کېده چې د دې خبره دې ریښتیا وي، جنۍ ته مې وویل: ته مسلمانه یې؟

- بلې زه افغان یم، مسلمان یم.

- ښه نو ته او خدای دې، که ریښتیا راته ونه وایې.کورنۍ مې څنګه ده؟

جنۍ یو وار په خندا شوه.

- ولې؟ زه درته دروغ وایم؟ کورنۍ دې اوس روغه او صحتمند دي، او په خپل کورکې دي، ته لږ د ېر زخمي وې، په همدې خاطر یې دلته راوستې.

هغه دوه امریکایان چې اوس لرې په څوکیو ناست وو، جنۍ ته یې غږ کړ، جنۍ یې خواته لاړه، څو شېبې یې ورسره خبرې وکړې. بیا دربواړه راپاڅېدل او ما ته یې وویل، چې دلته ډاکتران او خدمه شته، چې هرڅه ته اړتیا لرې درته راوړي یې، دا یې هم وویل چې ته به څو ورځې دلته یې، چې روغ شې، موږ دې بیا پوښتنې ته راځو او لاړل.

ما به ورته څه ویلي وای، د دوی په هکله مې له خلکو نه ډېرې کیسې اورېدلې وې، بس ما هم هغه د تبلیغیانو په اصطلاح پخه اراده وکړه.

==

یوه میاشت یې داسې وساتلم لکه د (لاندي) پسه؛ خو خدای شته چې د کورنۍ په تېره د اولادونو غم دومره دروند و چې ګرځول یې راته اسانه نه و، امریکایي ډاکترانو ویل، چې زه بختور یم، ځکه په څلورو مرمیو لګېدلی او لا ژوندی پاتې یم، د پښو درې واړه ټپونه مې تر ډېره ښه شوي وو، خو د چپې اوږې ټپ ډېر وځورولم، هغه هم په جوړېدو و؛ هغه دوه پوځیان چې په لومړي ځل له هغې ژباړنې سره راغلي وو، د یو نوم (مایک )، د هغه بل (مارټین) او ژباړنه (سونیتا ) نومېده، له دوی سره یو څه بلد شوی وم، یوه ورځ، مایک او مارټین له درې نورو (د ېوانو ) پوځیانو سره راغلل، یوه توره کڅوړه یې را په سر کړه، لاسونه یې راته شاته ولچک کړل، لکه ناوې، دوو کسانو له دواړو اوږو ونیولم او روان یې کړم، له یو څه مزل وروسته مې د پنجرې د خلاصېدو غږ واورېد، په لاره کې سره ډېر بنګېدل خو زه یې په خبره نه پوهېدم، څو شېبې وروسته یې زما له سر نه کڅوړه لرې کړه، زه وارخطا او په غوسه وم، ما په خپله ژبه په زوره، زوره کنځلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړې، هغوی یوه ډیکه راکړه او دروازه یې راپسې بنده کړه، اوس زه په یو وړوکې دوه متره کوټه کې، چې یو وړوکی (روشن دان) یې په چت کې درلود بندي شوم، د خونې لوړ سیمټي دېوالونه سپین رنګ شوي وو، په وره کې راته یوه وړه کړکۍ ښکاره شوه خو بنده وه، یوجای نماز، یوه کمپله، یوبالښت، یوتوشک او یو بوتل معدني اوبه پرتې وې، الله پاک انسان ته داسې غم او ستونزې نه ورکوي چې د زغم او وړلوتوان یې ونه لري، ځکه له غم سره زغم هم ورکوي، کنه څوک دچا له غمه مړ شوی دی؟ له څو ورځو وروروسته یو سهار زما د خونې ورخلاص شو، دوه توریان اویوه تکه سپینه جنۍ له خونې بهر ولاړ وو، هغه یو یې راننوت، کڅوړه یې را په سر کړه، لاسونو پښوکې یې ولچک اوزولنې راواچولې، بیا یې له تخرګونو ونیولم اوروان شو، هېڅ نه پوهېدم چې چېرته مې وړي، څه ډول ځای دی؟ پینځه دقیقې مزل به موکړی و، چې یوې خونې ته ننوتو، دخلکو غږ ترې راپوته شو، په څوکۍ یې کېنولم، کڅوړه یې له سر نه راته لرې کړه؛ ګورم چې د یو مېز شا وخوا درې امریکایان او یوه هغه افغانۍ جنۍ ناسته وله، سترګې مشې مو سره وکړه، جنۍ چې نرۍ مسکا یې په شونډو پرته وه راته وویل:

- ته مودلته دتحقیق لپاره راوستی یې، دوی وایي که ریشتیا ورته ووایې، نو تاسره هردول کومک کوي.

دې کې یو شین سترګي، چې تک سپین ویښته یې درلودل، جنۍ ته څه وویل، دامریکایي له خبرو وروسته سونیتا وویل: څارنوال وایي، چې دېر ارامه اوسه، تا ته به هېڅ خطرمتوجه نه شي.

ما هم د قهر په مُسکا ځواب ورکړ: زه حاضر اماده یم.

سونیتا په مُسکا، مُسکا زما خبرې امریکایانو ته وژباړلې، ټول سره مُسکي شول، شین سترګي امریکایي، سونیتا ته بیا څه وویل، هغې چې خندا یې لا په شونډو ښکاربده زیاته کړه:(تورن توماس)څارنوال دی (ډګروال مایکل) یې مرستیال او زه هم سونیتا یم ! اوس ته ځان معرفي که؟.

زه په فکر کې تللی وم، د هغې په پوښتنه وپوهېدم چې غواړي ځان معرفي کړم، خو پاشلي حواس مې چې تر څو را ټولول او خبرې ته مې ځان جوړاوه، مایک بیا سونیتا ته یو څه وویل او سونیتا د مایک د خبرو په ژباړه پیل وکړ



- مایک وایي چې موږ ستا په هکله په هرڅه پوهېږو، خوغوالو چې ستا له خولې یې واورو.

بس ما هم شروع وکړه: نوم مې توریالی دی، خلک راته له پخوا نه تورن وایي، په (۱۳۵۰) کال کې د ننګرهار ولایت د شېرزادو د ولسوالۍ په مرکیخېلو کې زېږېدلی یم؛ له حربي پوهنتون نه فارغ یم، د ډاکټر نجیب په وخت کې مې د جمهوري ریاست په (ګارد خاص )کې دنده درلوده.

له دې سره سونیتا چې په لیکلو بوخته وه په خندا وویل: ځوان پاتې شوی یې، میجر یې، ځکه خو په نظامي قانون پوهېږې.

بیا یې امریکایانو ته مخ واړاوه او زما خبرې یې ورته وژباړلې؛ یوه شېبه یې سره بحث وکړ، چې هر یو په خپلو کتابچو کې یاداشتونه نیول، دې سره هغه سپینو وېښتو والا (مایکل) په خندا وویل: ویري ګوډ.

سو نیتا له عادت سره په مُسکا وویل: تورن صیب نور؟

ـ بس نو د ډاکټرنجیب حکومت چې چپه شو، زه کلي ته لاړم هلته مې تر اوسه پورې دهقاني کوله او دکلي په ښوونځي کې ښوونکی یم، یو ورور مې په جهاد کې شهید شو، درې ژوندي دي، چې ټول سره بېل یو، په کلي کې دهقاني کوي، یو سپین ږیری پلارلرم، یوه مور، دوه زامن دوه لونې، ښځه دوه خوېندې مې واده شوي او یوه په کور ده.

څه به مو سر خوږوم، یو سات یې رانه پوښتنې کولې، چې طالبان چېرته دي؟ په کومو ځایونو کې په کومو عملیاتو کې دې برخه اخستې ده؟ نورملګري دې څوک دي؟ داسې ډېرې پوښتنې چې ما یې په هکله هېڅ مالومات نه درلودل.

دوی زموږ د کلي، کلیوالو اوسیمې په هکله ډېر مالومات درلودل، چې زه خپله ورته حیران شوم، له دې پېښې نه پینځه ورځې مخکې مې زموږ له یو قومي سره ښیښې وکړه او د شپې کوم شل دېرش کسان زما د وړوکې خور په دسمال پسې راغلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی ویل چې هغوی طالبان وو او ته ورسره لاس لرې، عجیبه وه هرڅه چې مې ویل دوی پرې باور نه کاو.

ددې ورځې تحقیق په خیر و خیریت خلاص شو ! خو زما د تور سپیناوی نیمګړی پاتې شو او بېرته یې خپل ځای ته بوتلم.

دوه ورځې وروسته یې بیا هماغه ځای ته بوتلم، داځل مایکل او هغه سپین سری پوځي چې یو بل افغان ژباړن ورسره و راغلل، په دې ورځ یې هم ټولې پوښتنې د طالبانو او القاعده په هکله وې، چې ما یې په اړه هیڅ هم نه شو ویلی، ځکه چې زه نه طالب وم او نه مې دهغوی په هکله څه مالومات درلودل، خودوی کله زما خبره منله؟ دوی ویل چې په ننګرهاراوخوږیانیو کې ټول بریدونه او چاودنې ما او زما په مشرۍ ملګرو مې کړي دي، زه دلسګونو کسانو قاتل یم، کله مې چې ددوی پوښتنو ته ددوی په خوښه ځواب ورنه کړ، زما وهل ټکول شروع شول، امر یې وکړ ! او زه یې له پښو په چت کې په رسیو سرچپه ځوړند کړم، هغوی درې واړه بهر ووتل، دوه عسکر پاتې شول چې ماته جزا راکړي، هغوی کوم یوساعت وروسته راغلل، بیا یې هماغه پوښتنې شروع کړې خو ماته چې څه نه و مالوم؛ نو ما به ورته څه ویلي وای، دوی زمونږ نوي خپلوان طالبان او ترهګر بلل خو دا خپلوان زمونږ د کلي او زمونږ لرې خپلوان هم وو، داسې احساس مې کاو، چې ماغزه مې له پوزې نه را ووځي، له پوزې مې بې اختیاره اوبه څڅېدې، ما وې سترګې مې له وینو ډکې شوي، چې څومره زارۍ مې ورته وکړې، خو دوی داسې د تیږې زړونه درلودل چې هغه دیوې میاشتې ښه راته ددوی چل وو ښکاره شو، چې زه یې د همدې ورځې لپاره داسې ژر روغ کړم.

ټپونه مې یو ځل بیا په درد شول، ځکه چې دوی ظالمانو په پخوانیو ټپونو په ډنډې وهلم او زما چغې به اسمان ته پورته شوې، ما به یواځې الله پاک ته توبې ویستې نورمې هیڅ هم نه ویل، کله چې په دې سزا څه ونه شوه، بربنډ یې کړم او داسې یې ودرولم چې لاسونه او پښې یې راته څلورو خواوو ته کش وتړل، مایکل راوړاندې شو څه یې ویل او په لاسي ډنډه باندې یې کرار، کرار په پوښتیو وهلم، پسې ژباړن هم راوړاندې شو.



- مایکل وایې ته خوافغان یې بیا پښتون یې تاسو ډېرغرورلرئ، ستاسو داغرور به تر پښو لاندې واچوم، اوس خو به هرڅه وایې، که ویې نه وایې نو غرور به دې څنګه شي ؟

له دې سره مې د ژباړن په مخ لاړې تو کړې او په کنځلو مې شروع وکړه

- د خر بچیه، دې انګریزانو ته خو زمونږ غرور او مېړانه مالومه ده، نورمې څه ویل، خو داسې ډنډه یې په (خوټو ) راکړه چې بیا په ځان نه یم پو شوی.

کله مې چې سترګې وغړولې، خپله خونه کې پروت وم، ټول ځان مې دردکاو ،د کورنۍ غم مې له یاده ووت اوس په خپل غم کې ډوب وم، که غوښې یې راته په امبور شکولې وای دومره نه خپه کېدم، لکه زه یې چې بې عزته کړم، ځان مې چې وکوت، لکه بانجان تک شین وم، بې اختیاره ځګېروي مې له خولې وتل، سخت تږی وم، ژبه مې په تالو پورې نښتې وه، وره نه دباندې مې د چاګنګوسی واورېد ، ورمې په پښې باندې وډباوه، د وره وړوکې کړکۍ خلاصه شوه، د سونیتا ښکلې سترګې ترې مالومې شوې، نظر یې ډېرخوږ راباندې ولګېد ،داسې لکه نژدې دوست چې مې پو ښتنې ته راغلی وي، له ځان سره مسک شوم او سونیتا ته مې وویل:

- سونیتا تږی یم، اوبه راوړه اوبه !

سو نیتا په منډه یووړکی بوتل اوبه راوړې، کړکۍ نه یې راګوزارې کړې، اوبه مې وڅښلې او اورېده سا مې واخیسته.

- مننه !

کله مې چې د سونیتا څېرې ته پام شو ، ډېره خواشینې راته ښکاره شوه، پسې یې غبرګه کړه.

- ډېر یې ووهلې کنه؟ دا د سپي بچیان، پرون یې یو زلمی هلک د تحقیق په وخت کې وواژه، ډېر ښه ښایسته هلک و.

په دې خبره مې د وجود زخمونو خارښت وکړ، ترې و مې پوښتل: د کوم ځای و ؟

- هلمندی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نوڅه مسلمانان خو نه دي چې ګیلې ترې کوې، په دوی مو لا پخوا تېره کړې اوس يې واردی، دا وو ايه چې د څه لپاره بيا راغلې يې؟

په لنډه يې وويل: هسې هسې ماوې چې کوم شي ته خو به ضرورت نه لري؟

دا يې ووې او نوره لاړه، زه اودردونه مې يو اځې پاتې شو.

څوشېبې وروروسته سونيتا را ته لږڅه درمل راوړل، همدا چې و مې خوړل لږ وروروسته مې دردونه يو څه غلي شول، د ارامۍ احساس مې وکړ او سترګې رابانديې درنې شوې.

په سبا يې دوه توريان راغلل يو څه دوا او ملهمونه يې راکړل، په درېيو ورځو کې يې ډېر ښه کړی وم، د دوی درملو کې عجيبه تاثير و، ژر يې اثرکاو، له يوې خوا مې وجود ټول په وينو ککړ و، له بلې خوا دا درې ورځې مې ملهم پټۍ لګولې، سم بوی را نه پورته کېده، زړه مې ورته سخت په تنګ و، له وېرې مې د لامبلو او ځان مينځلو غوښتنه نه کوله، ځکه وېره مې کېده چې وايي به روغ شوی يم، بيا به رابانديې د وهلو چلونه زده کوي، ترسبا مې هيڅ غږ ونه کړ، دوی بلا وهلې له پاک والي سره ډېره مينه لري، ځکه خو يې زندان او زندانيان هم پاک ساتل، د سهار له چای سره سونيتا له يوې نوې ښځې سره چې په نظامي جامو کې وه راغله، د وره له خلاصولو سره يو پوځې خونې ته راغی لاسونه يې راوتړل پسې هغه ميرمنه راغله، د ښځې سپيږمې مونجې شوې، پو شوم چې بوی دې ته هم ورسېد ، سونيتا مې پوهه کړه چې دا څوورځې مې ځان په ملهم غوړکړی، خو وينځلی مې نه دی، ځکه خو مې اطاق د ملهم بوی کوي، ښځې ته يې خبرې ترجمه کړې، هغې امر وکړ چې ما دې ژرتشناب ته بوځي، زه تشناب ته ننوتلم او ځان مې ووينځه، د بنديانو پاکې جامې يې راکړې، وجود مې سپک شو، کله يې چې بېرته خپلې خونې ته راوستم ګورم چې خونه يې هم پاکه کړې وه، د اودس د ماتېدو لپاره به مې کله کله ټوله ورځ خوب نه کاو، په څلورويشت ساعتونو کې به يې سهار او ماسپښين (تشناب) ته پرېښودم ډېرځله به مې په تيمم لمونځونه کول.

ولسمشر ما وژلی    ارش ننګيال

د مازديګر په لمانځه ولاړم وم، چې زما د خونې ور خلاص شو، پو شوم چې سونيتا او هغه بله ښځه دي، زه يې چې په لمانځه وليدم بېرته شاته شول دُعا چې مې خلاصه کړه ور مې وډباوه، خو پوښتنه راسره دا وه چې دا ښځه په ما څه کوي؟ سونيتا او دوه نور پو ځيان له خونې د باندې ودرېدل او هغه پوځې ښځه خونې ته راوړاندې شوه، له وړوکې چرمي بيک نه يې د ډاکټرانو سامان را وويست، د فشار آله مې چې وليدله لږ څه ډاډه شوم، ښه يې معاينه کړم، نسخه يې وليکله.

په ټوکو مې ورته وويل: همدا سې ښه يم، وهلو ته مې جوړوئ؟ هسې مې بيا هم تحقيق ته بيايي.

امريکايۍ ښځې سر د نه پوهېدو په مانا وښوراوه، سونيتا ورته زما خبرې ترجمه کړې، ښځه له خندا شنه شوه، بيا يې څه وويل چې سونيتا يې خبرې دا سې ترجمه کړې.

-(وارل) وايي، چې ستاسو لپاره دا سزا هم کمه ده، تاسو تل درواغ وايئ، تاسو چې ماشومان او ښځې وژنئ زړه مو درد نه کوي؟ تاسو قاتلين ياستئ !

له دې سره مې بې اختياره ښځې ته يوه عسکري څپېړه ورکړه، څومره زور چې راکې و، په ښي مخ مې په څپېړه ووهله، له څپېړې سره يې يوه چغه له خولې ووته، شاته يې ځان و غورځاوه او د خونې له وره سره يې اوږه په درز ولږېده، له دې سره له خونې دباندې شورماشور جوړ شو، عسکر چې له خونې د باندې به تل ولاړ وو په ټوپکو کې يې مرمۍ تېرې کړې او زما خواته يې را منډې کړې، عسکرو ښځه دباندې وويسته او په ما پسې يې ور بند کړ، له ډېره قهره مې ټول وجود رپېده، زړه مې په کنځلو ښه تش کړ، ورسره مې د ښې جانانه سزا تمه هم درلوده، خو سبا پورې نه د درملو درک مالوم شو او نه هم زما د سزا.

نه پوهېږم د شپې څو بجې به وې چې ورخلاص شو، کڅوړه يې راپه سر کړه، له يو څه مزل روسته يې په زينو کوز کړم، پوه شوم چې ښکته يې روان کړی يم، د يوې خونې د ور د خلاصېدو غږ مې واورېد ، دوه درې قدمه د کوټې منځ ته ورغلو په يوې څوکۍ يې وتړلم او له سر نه يې راته کڅوړه لرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه، ګورم هماغه ښځه ده چې ما په څپېړه وهلې وه، ما ته مخامخ د مېز شاته په څوکۍ ناسته وه، په مېز د سګرټو ډبې، یولاېټر، د شرابو دوه بوتلونه او درې څلور پلاستیکي ګیلاسونه ایښي وو، ښځې سپینه زېړپیراني اغوستې وه چې سینې یې ترې بوټې بوټې راوتې وې، په خونه کې اندامور پوځیان چې نیمه تورې څېرې یې وې هم په څوکیو ناست وو، داخل ژباړن پکې نه و، کرتې پرتې یې ډېرې کولې، پیکونه یې سره و جنګول، ښځې بوتل راپورته کړ او زما خواته راروانه شوه، نیکر یې اغوستی و، سپینو غوښنو ورنونو یې سمه ځلا کوله، داسې چې په شوندو یې مسکا خوره وه او خوله یې یوې خواته کږه نیولې وه په پلاستیکي، ګیلاس کې یې شراب واچول بیا یې ما ته په خندا راوړاندې کړل، ماترې مخ واړاوه، بیا یې راوړاندې کړل، څه یې وویل، ټولو په کړس کړس وخندل، سره له دې چې په څوکۍ ښه کلک تړل شوی وم، دوو نورو پوځیانو هم کلک کړم او ښځې راته د شرابو بوتل په خوله را ومنډه، پوزه یې راته په ګوتو بنده کړه، ما سا اخیسته او هغه د زهروګوټ مې له مرۍ تېر شو..کرار کرار یې نیم بوتل راباندې وڅښه، ما به نورڅه کړي وای وایې د زورور وهل او د کمزوري کنځا.

ما کنځلې کولې او هغوی خندل، ورو ورو مې ژبه درند بېده، سر مې ګنګس شو، څوشېبې وروسته، به چې د دوی وار راباندې ولګېده، یو ټکان به مې وخوړ خو په درد بیا نه پوهېدم، کله کله به ګوزار دومره درونډ و چې ټوله نشه به مې وتښتېده، خو وروروسته به بیا هم په ځان نه پوهېدم، نه یم خبر چې څه وخت به و، چې دردونو راویښ کړم، له غټې ګوتې نیولې تر وښتو پورې ټول درد او درد، نورکله به یې دوه درې وختــه او به ډوډۍ راتــه راوړه، خواوس چې مې شا وخوا وکتل هیڅ هم نه وو.

داخل یې پوره درې ورځې، نه او به نه ډوډۍ او نه هم دارو درمل راکړل او نه هم د تېر ځل په شان سونیتا راغله، په څلورمه ورځ په زړه کې ژوندی وم نور لکه مړی پروت وم، د خبرو توان هم راکې نه و او نه هم خوځېدلی شوم، زه د دوا دارو په تمه وم خو دوی ظالمانو په همدې ورځ ما زدیګرمهال یې بیا له خونې نه وویستم، د امریکایانو یوډول خاصه سزا یې راکړه، دا سزا داسې



وه چې ستوني ستاغ یې څملولم، په مخ باندې یې راته یو پلاستیک وغوړاوه، له پاسه یې راباندې د اوبو یو غټ پیپ را خوشې کړ، ما داسې احساس کاوه چې په یو سیند کې مخ په ښکته روان یم او ډوبېږم، خو ساه مې نه اوځې، ما وې که زړه مې وچاود، څو شېبې راباندې لکه کال تېرې شوې، او له څو شېبو وروسته اوبه راباندې بندې شوې او را ویې ایستلم، ما داسې فکر کاوه لکه چا چې د سیند له تل نه را ایستلی یم، دوی مانه زما د کسانو په اړه پوښتنې کولې، ماته یې ویل چې تاسو ته وسله څوک درکوي؟ خو که ما په کور کې وسله درلودای په هماغه ځای کې مې ورسره ډزوله؛ دا سزا یې څو ځل نور هم تکرار کړه چې په بدن کې مې هېڅ شیمه پاتې نه شوه؛ له دې سزا وروسته هم زما په تحقیق کې د دوی لپاره کوم پرمختګ رامنځته نه شو.

له تحقیق وروسته راباندې تبه راغله او بدن مې داسې مړ شو، چې له ځایه هم نه شوم پاڅېدلی، له دې ځایه یې بیا هغې لعنتي خونې ته راوستم، بس هر ځل تحقیق مې له وهلو ډبولو نه تش نه و، نور یې حساب رانه ورک و چې څو واره یې ډول ډول سزاګانې راکړې، خو یوه ورځ یې سر راته دوه ځایه داسې مات کړ چې د تحقیق خونه له وینو ډکه شوه، له دې پېښې نه وروروسته لس ورځې یې بیا تحقیق ته ونه غوښتم، یوڅه ښه شوی وم، چې یوه ورځ سهار وختي یې بیا د تحقیق لپاره بوتلم، دا ځل هغه د سپینو ویښتو والا پوځي، مایکل او دوه نورکسان چې ما مخکې نه ولېدلي په خونه کې ناست وو، ترجمان د جاوېد په نامه یو ښکلی زلمی و، له ټولو سره معرفي شوم، سپین سري وویل چې تاته یو ښه زیری لرم، خو که خپله پښتو هېره کړې او موږ ته هر څه ووایې.

د زیري پو ښتنه مې ترې وکړه، سپین سري پوځي په لوړ اواز چاته غږ وکړ، ګورم یوه ښځه چې د خوب جامې یې په تن دي، یوې پوځۍ جنۍ له لاسه نیولې خونې ته را دننه کړه، ښځې خپل سرټیټ نیولی و، همدا چې مخ یې راته ښکاره شو، سره له دې چې لاسونه مې تړل شوي وو، په خپل زور پوه نه شوم، له هغه مېز نه چې ټول چاپېره ناست وو، پورته مې که او په سپین سري او ملګرو مې ور واړاوۀ، دې کې عسکر راباندې راټول شول، په زور

(c) ketabton.com: The Digital Library



او وهلو یې ببرته کلک کړم، هغه ښځه زما مېرمن وه، خو هغې زما په لیدو، زما په چغو او زموږ په جنګ هېڅ غبرګون ونه ښود، یوازې یې رډې رډې ټولو ته کتل، له سترګو مې لمبې پورته شوې، دا سې شوم لکه لیونی، لاسونو او پښو کې مې ولچک او زولنې پرتې وې، خو بیا هم څلورو کسانو نه شوم ټینګولی، زما مېرمن یې ببرته بوتله او زه یې له ښه ډبولو وروسته ببرته خپلې خونې ته راوستم، خو زما لېونتوب نه غلی کېده، ساعت په ساعت مې غم له زغم نه وته، پښتنې مېرمنې او نجونې، ان له خسر او د خاوند له ورور نه هم مخ پټوي، نامحرم د هغوی غږ هم نه شي اورېدلی، بیا زندان او هغه هم امریکایان، ښځې ته مې قهر راته، چې ولې یې ځان نه دی وژلی، له دې ځای نه خو ښځې ته مرګ ښه دی، له ځان سره مې ژړل چې له خونې دباندې سونیتا له کوم چا سره په ګرم بحث لګیا شوه، سونیتا همدا ویل چې (اوپن ده ډور) سونیتا غوښتل چې زما د خونې ور ورته خلاص کړي او هغوی غوښتل چې له پنجرې راسره خبرې وکړي، همدې کې مې د وره د کړکۍ د خلاصولو غږ واورېده، همدا چې کړکۍ پوره خلاصه شوه ګورم چې د سونیتا ښکلې څېره را ښکاره شوه، ورسره له ځایه پورته شوم، دوړاه لاسونه مې په وره کېښودل او په قهر مې ورته وویل:

- تا خو ماته نه و ویلي چې زما مېرمن دلته بندي ده؟

زما له قهرسره سونیتا یو څه وډاره شوه

په بیره یې وویل: زه دلته ترجمان یم، زه دهیڅ شي صلاحیت نه لرم، څه چې راته هغوی وایي هماغسې کوم.

- ښه اوس د څه لپاره راغلې یې؟

- نه پوهېږم چې څنګه یې درته ووایم، تول دې دارکلي، اوس یې نه پرېشودم، چې بل غم جول نه کلې.

- نه یې جوړوم، اوس د هر ډول زیري اورېدلو توان لرم، ووایه!

سونیتا یو ډول راکتل او ویې ویل: له تا سره یې ستا میرمن چې زخمي و، هم راوستې وه، خو مېرمن دې خپل عصاب له لاسه ورکلي...



سونیتا د خپلو خبرو پر مهال زما د غبرګون سخته په تمه وه، خو ما د هغې د توقوع خلاف، هیڅ ټکان ونه خوړ، زه پوهېدم چې زما مېرمن ددې حالت زغم نه لري، پسې مې وپوښتل: او نوره کورنۍ مې؟

- هغوی نه زه هم خبر نه یم.

دې سره مې ورته وویل: ته د همدې خبرې د اورولو لپاره دلته راغلې وې؟

سو نیتا په وارخطایۍ وویل: نه نه زه یې راولېږلم، که ته غوالې نو مېرمن دې خپل کورته وړلی شې.

ددې خبرې داورېدو هېڅ تمه مې نه درلوده، سخت خوشاله شوم، بې اختیاره مې خوله د هغې تندي ته وړاندې کړه، خوله خو مې ونه رسیده خو له لرې مې په تندي ښکل کړه، هغې چې لږ مخکې زما د غبرګون تمه درلودله او وېره یې په سترګو کې ښکارېده، زما په دې غیر ارادي عمل حیرانه شوه؛ له دې سره یو څه خجالته شوم او له وره نه لرې لاړم.

ما له سونیتا سره کومه خاصه یارانه او عاشقي نه لرله، خو زۀ پوهېدم چې ددې په مرسته که نور څه نه وي، مالومات تر لاسه کولی شم او په راتلونکي کې له دې مالوماتو او لارښوونو نه په خپله تېښته کې ګټه اخستلی شم، څه وخت روسته زه پوه شوم چې لکه ما غوندې هغه هم راسره په چل کې ده؛ ژر مې خبره واړوله:

= که دا کار وشي، زه به له تا نه ډېر خوشاله شم

لا یې په شونډو مُسکا خوره وه چې ویې ویل: نه نه زما په واک کې هیڅ هم نشته، دا دهغوی خبره ده، اوس ته د خپل دوستانو یو د تیلیفون نمبر راکه چې موژ ورته زنګ ووهو او ستا مېرمنې پسې راشي، اوکی !.

ښه وه د اوښې د تلیفون شمېره مې په یاد و زده وه، شمېره مې ورته ورکړه.

سونیتا د شمېرې له اخیستلو سره له وره نه لرې شوه، ژر مې ورته وویل: زه به څه خبر شم؟

- زه یې درته وایم، او کی درست !.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سونیتا لاړه زه همدا سې په خپل ځای کې شا په تخته پرېوتم، له قهر نه مې ان ترسبا یو لمونځ هم ونه کړ، لکه لیوني کله به له ځان سره په جنګ وم، کله به له خدای پاک سره ((الله مهربانه دی راته به یې معاف کړي)) چې ولې دکوم عمل سزا را کوې؟ بیا زما برخه سزا خو یوائې ماته راکه، زما کورنۍ خو تر هر چا زیاته معصومه ده؟

==

د هغې ورځې په سهار چې کله د باګرام د هوایي ډګر د وره په مخ کې ځان مرګی برید وشو، یو عسکر زما دوه جوړه جامې راته راوړې، پوه شوم لکه چې ورور مې راغلی او مېرمن یې را ته بېولې، له ډېرې خوښۍ نه مې ورته په پښتو وویل سونیتا ته غږکه، له دې سره امریکایي په خندا شو، څه یې وویل، خو لکه چې زما په خبره پوه نه شو، یوځل مې د سونیتا نوم واخیست او بیا مې ځان ته ګوته ونیوله، امریکایي زما په خبره پوه شو، په خندا یې سر د ښه په مانا وښوراوۀ او لاړ، له ډېرې خوښۍ نه ځمکې ځای نه راکا وه، په یوه لوېشت خونه کې ښکته پورته ګرځېدم، اخیرمې پېښې سترې شوې، ځای په ځای کیناستم، یو عجیبه فکر راته پیدا شو، د تېښتې فکر، خو په څه ډول؟

د ډاکټر نجیب د واکمنۍ په وخت کې چې په ګارد خاص کې وم، سخت موساعت تېر و، ډېر قدر یې راکاوه، کله، کله به زما ملګری اجمل چې زموږ د رئیس ارکان وراره ؤ، له کور نه به یې ویډیو، جنایي او پولیسي فلمونه راوړل، ترسبا به مو فلمونه لیدل، کله به چې فلم نه و هم زما سات به په دې تېر و چې زما د ناولونو سره ډېره مینه وه، او چې فلم به رانه پاتې شو بیا به مې ناولونه لوستل، او جنایي ناولونه خو د ډېرو او نا اشنا پېښو په درلودلو سره ډېره تلوسه لري، چې زما به ډېر خوښېدل او د اسې ډېر نور کتابونه مې هم لوستلي دي، په هغو فلمونو او ناولونو کې به زندان او زندانیان څه بل ډول تصویرېدل، مثلاًپه یو اطاق کې به لس دولس بندیان اوسېدل، په لوی سالون کې به یې ډوډۍ ته کتار درول، تر ټولو ځواکمن به پکې د بندیانو مشر و. بندیان به تېښتېدل، په خوړو کې به ورته وسلې راوړل کېدې او ... خو زه لا په دې هم نه وم پوه چې زه په څه ډول ځای کې پروت یم، زېر زمیني ده؟



اول منزل دی که دوهم منزل دی، آیا دلته نور بندیان هم شته او کنه؟ په هېڅ هم نه پوهېدم.د فکرونو لړۍ مې د سونیتاغږ وشلوله، هغه د وره بلې غاړې ته په زوره غږېدله، له ځایه پورته شوم او په بېړه مې غږ کړ.

_سونیتا ته یې ؟ سونیتا !

امریکایانو به یې نوم لنډاوه؛ سوني به یې ورته ویله، خو زما له خولې نه به یې تل سونیتا اورېدل، دې کې د وره دکړکۍ د خلاصېدو غږ پورته شو او د سونیتا اوږدې ښورې سترګې را ښکاره شوې، سخت وارخطا وم، سونیتا نه مې په بېړه وپوښتل.

_ څنګه شو ؟ څنګه شو ؟

سونیتا په خندا وویل:

-وشو ، وروردې له درې مشرانو سره راغلی و ، ښځه دې ورسره لاله، هغوی غوښتل چې تا هم وګوري خو چا ورته اجازه ورنه کله.

بې اختیاره مې لاسونه پورته شول او د خدای شکر مې وویست، اوس په سونیتا ډېر زړور شوی وم، لکه دوه نیږدې دوستان، په ما هم خوږه لږېده، ځکه چې زما په چاپېریال کې یوائې همدا وه چې زه یې په خبره پوهېدم او هغه زما په خبرو پوهېده، همدا علت وچې ډېر ژر ورسره بلد شوم، سونیتا مې د تېر په څېر په وچلې ښکل کړه، ځکه چې دا ځل هغې خپل وچلې راوړاندې کړ، ډېره شېبه سره ولاړ وو، زړه مې غوښتل چې خپله پرېکړه له سونیتا سره شریکه کړم او مرسته ترې وغواړم، خو له هغه څه نه چې ما وېره درلوده هماغسې وشول، سونیتا راته له یوې لویې مقدمې وروسته وویل، چې اوسني ژوند د داد او معاملې ژوند دی که څه شي ترلاسه کوې نو یو څه به ورکوې هم، هغې ویل چې ته ما ته د طالبانو او القاعده په هکله مالومات راکه زه دا سې نه وایم چې دا مالومات مې له تانه ترلاسه کړي دي، هغې ویل چې دا مالومات زه هغوی ته ورکوم چې، دلته زما موقف لوړ شي، زه به تا سره نوره مرسته وکم.

خو سونیتا له یاده ویستي و چې زه هم یو نظامي افسر وم، پښتانه چې څومره لوړو پوړیو ته ورسېږي نو خپل هغه کلیوالي ژوند نه هېروي، دا منم چې زه به ساده پیاده کلیوال ښکارېدم او وم به خو په پنېرو او پوډري شودو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی شوي زه چېرته غولولی شوم، سونیتا غوښتل چې د ملګرتیا په تار زما په خوله کې ګوتې ووهي ، په ښکاره مې ځان پرې هیڅ پوه نه کړ چې ګوندې زه وربانديې پوه شوی یم او نه هم له ما سره د طالبانو او القاعدې کوم پټ راز و ، چې زما له خولې یې وباسي، ما ته اوس تر ټولو لوی راز د خپل تښتېدلو و ، چې نیږدې وه ورته ویې وایم خو اوس زه وپوهېدم چې دې ته خبره کول په خپله ځان رسوا کول دي، کله یې چې څه بود نه کړل، خدای په اماني یې وکړه او لاړه.

د سونیتا په دا ډول کړو ډېرخپه شوم ، د هغه امریکایي خبره مې یاد ته راغله، چې ویل یې: ستاسو غرور تر پښو لاندې کوو.

دا یوازې سونیتا نه وه چې له امریکایانو سره لـه امریکانه راغلې وه، د هغې په شان نورې ډېرې افغانې جنکۍ او هلکان هم راغلي وو ، چې شپه او ورځ ورسره همدلته اوسېدل، خو له سونیتا نه مې ددې خبرې هېڅ تمه نه کېده، هغې هم ځان ته افغانه ویله، خو افغاني غرور او غیرت لکه څنګه چې نورې افغانې میرمنې یې لري دې نه لاره، کنه ښه ښایسته جنۍ وه، په پینځو شپږو ژبو ډېره ښه پوهېدله، هر ځای کې ورته ښه کار پیدا کېده.

. اوس نو د تېښتې لپاره تیار او اماده وم، خو هېڅ نه پوهېدم چې په څه ډول ! ! ټوله شپه په همدې سوچونو کې ورک وم او د تېښتې لاره مې لټوله، همداسې وېده شوی وم، د وره په ډبولو مې ټوپ وواهه، نېغ په ځای کې کېناستم. پیره دار و ، د سهار ډوډۍ یې راوړې وه، ډوډۍ مې ترې واخېسته، ساعت ته مې چې و کتل اته بجې وې.

ډوډۍ مې و خوړه او خپل زاړه سوچونه مې بیا شروع کړل، چې څنګه کولای شم د تېښتې لاره پیدا کړم، هر څه ته مې په زیر کتل او په خپل شا و خوا مې نظر ساته، کله کله مې ځان ته داډ ورکاو چې زه یو نظامي افسریم، زه دا هرڅه کولی شم، که دوی، نظامیان دي زه هم یو وخت نظامي افسر وم، له ځان سره مې وویل، داسې فکر وکړه چې ته اوس هم هغه ګارد یې، اوس نو په څه ډول باید ځان له دې دوزخ نه وباسې، په زړه کې مې غوټه کړه چې هر چانس ته باید اماده و اوسم، او هېڅ موقع باید لـه لاسه ورنه کړم، ما تـه د زندان شپې سختې نه وې چې ما غوښتل وتښتم، بلکې اوس دا زما ارمان



ګرځېدلی و چې زه باید له دې ځای نه روغ وتښتم او خپل غچ هم په یو نه یو ډول واخلم، زه نه پوهېږم چې د دوی د عمل عکس العمل ورته ووایم او که ووایم چې زما زړه اوس لـه ژورو عقدو ډک و او بې کراري مې زیاته وه، بلاخره له خطره ډک تصمیم مې ونیو ، ما وې هسې هم مرګ دی دا چې بیا بې عزته شم، ښه ده چې مړشم او که ژوندی پاتې شوم نو لا ښه، په هرڅه مې ښه پوره فکر وکړ، خو یوازې له دې قفس نه زما وتل پاتې و ، کله چې یو څوک له خپل سر نه تېرشي، هرڅه کولی شي، زما پلان هم همداسې لـه سر نه تېرېدل و ، خپل وار ته مې انتظار ویسته؛ خو انتظار ډېر اوږد شو ؛ هیڅا زما خبر نه اخیست، البته دا به د هغه ځانمرګي برید له امله و ، چې د همدې مرکز د وره په خوله کې تر سره شو ، زه یې له یاده وتی وم، په دې ورځ یې ان تشناب ته هم بو نه تلم، په سبا سهار مې وره ته لغتې ونیولې، شور ماشور مې جوړ کـه لـه بهر نـه مې د چا غږونه واورېدل، څو شېبې وروسته کړکۍ خلاصه شوه، ګورم چې د جنۍ غوندې یو هلک ترجمان دی، په قهر یې راته وویل:

- چه ګپ اس؟ چرا غالمغال انداختي؟

په قهرمې ورته وویل:

- دوه ورځې کېږي، چې تشناپ ته نه یم تللی؛ بیا وایې چه ګپ اس ! !

هلک لـه ځان سره وبنګېد ، امریکایي تـه یې څه وویل، امریکایي په مخابره کې خبرې وکړې، ډېر وخت لا نه و تېر شوی، چې د وره د خلاصولو غږ مې واورېد ، اوس نو زما د پلان د پلي کولو وخت رارسېدلی و ، ځان مې حملې ته جوړ که، ور خلاص شو ، دوه عسکر د باندې ودرېدل او هغه یو چې ولچک او توره کڅوړه یې پـه لاس کې وه، خونې تـه راننه ووت، همدې کې مې پرې برېده وکړ ، څو چې په ځان پوهېده، له خولې مې ورتـه کجاوه جوړه کړې وه، دې کې هغه نور هم ورسره ملګري شول، له پښو یې ونیولم له خونې یې دالېز تـه کش کړم، دومره یې ووهلم چې هغوی هم ستړي شول، څه نورکسان هم زموږ په شور راغلل، د ټوپکو په میلونو یې سم سوری، سوری کړم، له وهلو وروسته یې بېرته خپله کوټه کې واچولم، کـه څه هم چې زښت ډېر یې ووهلم، خو پـه زړه کې سخت خوشاله وم، ځکه چې د خپل پلان پـه لومړي پړاو کې بریالی شوی وم، د توشک پوښ مې وشکاو او ټپونه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېوتړل، پاڅېدم آزاد حرکتونه مې شروع کړل، ما وې که همداسې شخ شوم، هم به مې درد پسې واخلي او هم به له ځایه نه شم پورته کېدلی، له هرحرکت سره به مې له خولې دودونه وتل، وجود مې له درده ډک و، ځان مې ښه خولې، خولې کړ بیا مې ترمازدیګر پورې ښه ارام وکړ، اوس نو د دوهم تکتیک نه د کار اخیستلو وخت رارسېدلی و، خونه مې شا و خوا وکتله هیڅ داسې تېره شی په ګوتو را نه غی، چې هیڅ مې ونه موندل کښېناستم او دېوال ته مې تکیه ووهله، دېوالي ساعت ته مې پام شو چې سونیتا راوړی و او دلته یې په دېوال کې بند کړی و، ساعت مې ژر را خلاص که، له ماشین نه مې یوه وړه، تېره وسپنه خلاصه کړه او سات مې بېرته په خپل ځای ولګاو، غوښتل مې چې په او سپنه د خپل لاس یوه برخه پرې کم او د دروازې په لاندینۍ برخه کې وینې وبهوم چې له دې ځایه د وتلو چانس پیدا شي، خو وسپنه ډېره نرۍ وه ژر قاتېدله بیا مې په وسپنه مې (ورۍ) درې ځایه پرې کړه، په یوه شېبه کې مې خوله له وینو ډکه شوه، وینې مې د وره په بېخ کې تویې کړې، په سپین فرش وینې د دروازې د چوکاټ نه په فرش و بهېدې، خوکوم عکس العمل مې ونه لید، چې څومره وینه مې خولې ته راتله، هما لته مې تو کوله، شاوخوا لس شل دقیقې مې صبر وکه، خو هیڅوک هم را نه غلل، دې کې مې دروازې ته سوکان ونیول، چې د عسکرو شر او شور جوړشو، د وره خواته پړمخ پرېوتم، ورپه بیړه خلاص شو، یو کس راغي په اړخ یې واړولم، د غاړې په رګونو یې راته لاس کېښود، خو ما چې له خولې مې هم وینې بهېدلې وې ځان داسې کړی و لکه مړی، کړتې پړتې یې وکړې، د روغتون تزکره یې راوړه او زه یې روغتون ته روان کړم، روغتون ته چې ورسېدو د قرارګاه یوه خوا مې ښه په ښه کړه، لوړدیوال، په سر یې اغزن سیم او په کونجونو کې پیره دارخونې ښکارېدې، چپرکټ کې یې واچولم، ډاکټران راټول شول، له کتلو وروسته یې یوه پیچکاري راچوخ کړه، لږه شېبه پس مې سترګې پټې شوې.

===

چې راپاڅېدم، شاوخوا خونه راته اشنا ښکارېده، دا هغه خونه وه چې دلومړي ځل لپاره ورته په همدې حال راغلی وم، دا خونې له کانتینر نه جوړې شوې وې، په سپینو بنداشونو مې ټول وجود تړل شوی و، خو خوشاله په دې وم چې زماد پلان دوهم تکتیک هم بریالی شو، اوس نو په دې فکرکې وم، چې په دې حال تښتېدلی شم او که نه؟ کوم خوا ته لاړ شم، د امریکایانو په مرکزونو کې خو ان د ورځې هم غټ، غټ ګروپونه لګېدلي وي، زړه مې صبر نه کاوه، کله به مې چې د تېښتې په پلان فکر کاو، ځان به مې د هماغو پخوانیو فلمونو په کرکټر کې لیده او کله به مې چې د دوی ظلم او تېری یاد ته راغی، ځان به راته ډېر بې غیرته ښکاره شو، په ذهن کې به مې د غچ اخیستلو په هکله فکرونه کول، غوښتل مې چې هغه د پښتنو غرور چې دوی یې تر پښو لاندې کوي ښکاره کړم، پلان مې جوړ و، اصلي خبره زما د وتلو وه، کله کله به نا هیلی کېدم، خو د ځان د ډاډ لپاره مې د رحمان بابا دا بیت وویلو: چې غوټې پسې وهې په لاس به درشي

په دې لعنتي کوټه کې یو وړوکی سوری هم نه و، کړکۍ خو لا څه کوې، بیا مې له ځانه سره وویل چې یو دوه ورځې به دلته پاتې شم، چې لږ نور هم ښه شم بیا به یو کار وکړم، خو زړه مې طاقت نه کاو، پاڅېدم چې بهر د تېښتې لار پیدا کم، شاوخوا سیمه او په لاره کې راته پراته خنډونه وګورم، چې د شپې لار رانه خطا نه شي، له چپرکت نه چې ښکته شوم اول مې په ځمکه غوړ کېښود، ماوې که شاوخوا نیږدې څوک وي نو پوهېږم، خو خیر او خیریت و، یوه دروازه د خونې په یو کنج کې وه او بله په بل کنج کې، زما ښي لاس ته ور دالېز ته وتی و، په دالیز کې تشناب و او دالېز نه هاخوا نه پوهېدم چې خونې وې او که بل څه، هغې دروازې ته لا نه ړم چې دالیز ته وتې وه، هغې بلې خواته لاړم، کرار مې دروازه خلاصه کړه، ګورم چې د ګودام غوندې خونه ده، د دوا کارتنونه کتار، کتار ایښې وو، د کړکۍ په لیدو سخت خوشاله شوم، د کړکۍ خواته لاړم، شاخوا مې ښه وکتل، پوی شوم چې شمال او شمال غرب خوا وه، د هډې په شمال غرب کنج کې یو دوه منزله تعمیر و داسې لکه د عسکرو قاغوش چې وي، د قاغوش غرب خواته بیا لوړ دېوال او ها خوا ترې بلاکونه وو، زموږ ترمنځ به یو نیم سل متره واټن و، مستقیم شمال خوا ته شپږ اووه الوتکې هم ولاړې وې، کړکۍ نه مې سر وویست شمال شرق خوا ته دوه خوا په خوا د الوتکې د (رنوی) سرکونه وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ها خوا ترې بیا نورې تیارې ولاړې وې، د هډې یانې بګرام شا وخوا لکه لویه کلا د یوالونه چې شا و خوا څلور متره لوړ پورته شوي وو او اغزن سیمان لکه ماران پرې پراته وو. داسې راته ښکارېدل چې د دې مرکز په هر ګُنج کې د وسپنې لوړې پیره دارخونې هم شته، ځکه چې په دوو ګُنجونو کې خو ما ولیدل، چې له دیوال نه به یو متره لوړې وې، غُرفو شا وخوا کړکۍ درلودې، د دیوال له بېخ نه ورته د وسپنو پوړۍ ورختلې وې، خونه پوهېدم چې دې غُرفو کې یو پیره دار کېناسته که ډېر؟ په همدې غُرفو کې غټ، غټ ګروپونه لګېدلي وو، چې شا وخوا سیمه یې ښه رڼا کړې وه، دوی آن د ورځې هم دغه ګروپونه لګولي پرېږدي، غوښتل مې چې بېرته لاړشم او هغه د جنوب خوا وګورم، چې دې وخت کې ْمې د پښو ښکالو واورېد، ډېر وډارشوم، په منډه خپل ځای ته لاړم، ښه و، پښې مې لوڅې وې، د پښو ښکالو مې نه پورته کېده، همدا چې په ځای کې پرېوتم، هغه ښایسته او مهربانه ډاکتره خونې ته راننوته، چې ورځ کې څوځله به زما پوښتنې او کتنې ته راتله، ډاکتره راننوته، زما په لیدو مسکه شوه، خو ما داسې ویش وای شروع کړی و چې بېرته لږ غوندې خپه شوه، څه کرت پرت یې وکه، دوه رقمه ګولۍ (تابلیت) یې راکړې اولاړه، لږه شېبه وروسته زه هم له چپرکټ نه را کوز شوم، یو وار مې بیا په ځمکه غوږ کېښود، ورپسې مې په دیوال غوږ کېښود چې پوه شم نیږدې خو څوک نشته، څه مې وا نهورېدل، کله مې چې ور خلاص کړ، مخامخ یو وړوکی دالېز و چې یو وړوکی تشناب او کمود هم پکې و، دا ځای خو مې لیدلی و ځکه تشناب ته به همدلته راتلم، خو له دالېز نه چې کومه دروازه ښکارېده، نه پوهېدم چې دلته څه شی و، خو اوس مې چې د وره د قلف له سوري وکتل، هلته بله خونه وه چې څوک پکې نه ښکارېدل، ور مې خلاص که، د وره له شانه یو څوک راښکاره شو، سم زړه یې رانه وویست، دا یو بل ډاکټر و! له هماغه تاکتیک نه مې کار واخیست لکه څنګه مې چې د هغې ډاکټرې سره ترې کار اخستی و، د ډاکټر په لیدو مې بیا زږېروي شروع کړل، ما یو ناول لوستی و د هغې ناول مرکزي کرکټر یو اروایي ناروغ وي چې ډېر د توقع خلاف، کارونه کوي، اوس مې خپل ځان د هماغه کرکټر په شکل کې لیده، ما ته به عجیبه ښکارېده چې زما اول ځل دي



چې اکټ کوم خو دومره بریالی یم، کېدای شي دا به هم زما د فلمونو او ناولونه سره د ډېرې علاقې له امله وه چې دلته مې د خپل اکټ کولو د کمال نه کار اخیسته، ډاکټر چې زما په زږېرویو یې ښه له تشویش نه ډکه شوه، وارخطا شو، زما لاس یې په خپله اوږه واړاوه، د اوږې لاندې مې ننووت او بېرته یې خپل چپرکټ ته بوتلم، پېچ کاري یې راته وکړه، ورسره مې سترګې درنې شوې او همداسې ویده شوی وم.

چې را پاڅېدم تیاره خوره شوې وه، په ځای کېناستم، او د تېښتې په پلان مې یو ځل بیا فکر شروع کړ، وایي انسان تر ګل نازک خو په ستونزو کې له کاڼي کلک وي، که په کور کې داسې ټوک، ټوک او ټپي، ټپي وای له ځایه به هم نه وم ښورېدلی، زه چې په درد نه پوهېدم، ما سره د ازادۍ فکر و، د آزادۍ قدر رښتیا هم بندي ته مالومېږي؛ ما د آزادۍ لپاره کوښښ او مبارزه کوله، ځکه خو په دردونو نه پوهېدم، د خونې سات ته مې پام شو، چې د ماښام پاو باندې اته بجې وې، بېرته په خپل ځای کې پرېوتم او په لاروچارو مې فکرشروع کړ؛ خو ما ته ترټولو مخکې یوه جوړه امریکایي پوځي دریشي پکاروه، ځکه چې د روغتون له سپینو جامو سره له لرې هم ښکارېدم.

زه په دې پوهېدم چې د دې ډاکټر او دې ډاکټرې نه چې کله، کله دلته وي بل څوک دلته نه راځي، نو کولای مې شول چې له دې ځایه ووځم، خو ما باید دلته یوه جوړه دریشي پیدا کړې وای او بیا له دې ځایه په خپله ځارلي لاره د شپې لخوا وتی وای، په زړه کې مې راوګرځېدل چې څلور خواوې د شپې له خوا وڅارم، پورته شوم او هغه ګودام ته بیا لاړم، ټول مرکز رڼا و ګروپونه پکې پړقېدل، په پیره دارخونو کې بیا څوک نه ښکارېدل، یو څه لرې وو، دې کې مې پام شو چې لږ وړاندې غټ غټ جنراتورونه د وسپنو ترڅپرې لاندې چالان دي، بیا مې د دالېز ور خلاص که، د هماغې دروازې په سوري کې مې یو ځل بیا وکتل، په کوټه کې بیا هم څوک نه ښکارېدل خو وېره راسره وه چې که دا ځل هماغه ډاکټر راشي نو نه شم کولای چې بیا یې و غولوم، د کوټې دروازه مې خلاصه کړه او په هغې دروازې مې سترګې ولګېدې چې له دې کوټې نه بهر وتې وه، ورغلم، همدا چې سر مې د باندې وویست ګورم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو عسکرلږ وړاندې ښکته پورته ګرځي، داسې لکه چې زما لپاره یې دلته پیره کوله. بېرته خپلې کوټې ته لاړم، څوشېبې غلی په خپل ځای کې کیناستم او سوچونه مې کول. بلاخره دې پرېکړې ته ورسېدم، چې باید دا هرڅه د شپې په وروستۍ برخه کې تر سره کړم، پیره دارختم کړم، جامې او وسله ترې واخلم، هغه لوی جنراتور مړ او خپل نورکارونه همداسې پرمخ بوځم، له ماښامه یې راته په یوځل مصرف لوښو کې ډوډۍ راوړې وه، ژر، ژر مې وخوړه، نور مې سرکېښود، ما وې هسې نه چې د شپې په پای کې ویده پاتې شم.

ټکان مې وخوړ او پاڅېدم، ژرمې ساعت ته وکتل، لس باندې دوه بجې وې، له ځایه پاڅېدم، یو ډول داکسیجن پیپ په ګودام کې ښه ډېر پروت و راوامې خیست، دخپلې خونې ورمې خلاص که، د وره شاته غلی ودرېدم، نور مې پښې ځمکې ته راواړولې او دوه، درې ډبه مې ورکړل، له دې سره د عسکر د پښو غږ پورته شو، ور خو له وړاندې نه خلاص و، همدا چې عسکر راننوت زما دچپرکټ خواته روان شو، همدې وخت کې مې له شانه ورته په غاړه کې پیپ واچاوه، پسې مې په زنګنونو په تشو، تشوکې ښه کلک، کلک وواهه، دې کې یې خوله له سر نه ولوېده ګورم چې جنۍ ده، ژیړ وېښتان یې په اوږو راپرېوتل، نژدې به مې خوشې کړې وه ! ! لږه چې بې حاله شوه مرۍ مې ورته سسته کړه، خو په مرګ مې زړه ونه شو، ځکه جنۍ وه، لاسونه، پښې او خوله مې ورته کلک وتړل او هغه ګودام ته مې بوتله، عجیب ځواک راکې پیدا شوی و، له هیڅ شي مې وېره نه کېده، ما چې ورته کتل جنۍ بې هوښه وه، زما پاخه، ګوزارونو ډېره ژوبله کړې وه، هغه اوس په ځان نه پوهېده خو ماته داسې ښکارېدله لکه دا چې هم زما په شان تمثیل کوي، ژر، ژر مې پتلون او جمپر ورنه وویستل، سپین نازک بدن یې پوره لوڅ نه و، نیکر او زیرپیراني یې اغوستي وو، جنۍ لا بې هوښه وه، چې یو امریکایي نظامي افسر له خونې نه ووت، چې لنډ پتلون یې په تن و، اوس نو زه چا نه شوم پېژندلی، لومړی شمال خواته لاړم، هلته چې غټ جنراتورچالان و او د دېوالونو د سرګروپونه پرې روښانه وو، هاخوا ترې بل جنراتور هم چالان و، دجنراتورشاوخوا داسې رڼا وه چې له هر ځایه ښکارېدل، بیا مې په پروت



باندې ځان ترجنراتور پورې ورساوه، خو په ګولولو یې نه پوهېدم، ډېرې تنۍ یې درلودلې، ما هم د ټولو سو چونو په اړولو پیل وکړ، له دې سره تپه تیاره شوه، همدې وخت کې بیرته جنوب خوا ته لاړم، ګورم چې شرق خواته درې تعمیرونه څنګ په څنګ پراته دي او پیره داران یې هم شاوخوا ګرځي، خو زه غرب خوا ته د دېوال بېخ ته روان وم، ځان مې د جنوب پیره دارخونې ته ورساوه، د زینې شاته غلی کېناستم، تقریباً پینځه دقیقې به ناست وم، چې د لاسي برقونو رڼا ګانې شوې، خو د خلکو غږ ترما نه رارسېده، پیره دار خونې او زینې سره ارتباط درلود ځکه چې او سپنې له یو بل سره وېلډینګ شوې وې، د پورته ختلو زینو ( پوړیو ) په څنډه د وسپنې په میلې باندې، مې غوږ کېښود، پو شوم چې پیره دار کرار ناست دی، زه هم په کراره ور پورته شوم، په یو لاس کې مې هغه امریکایي لاسي برق، چې ډېره تیزه رڼا لري، او بل لاس کې مې پیپ و، برچه هم راسره وه، اخیر امریکایي مجهز عسکر وم، د پیره دارخونې وره ته ورسېدم، ما غوښتل چې لنډ د ېوال ته واوړم چې نا ثاپه د پیردار د پښو ښکالو پورته شوه، ژر مې د پیردارخانې لاندې ځان وردننه کړ، پیره دار په لاسي برق باندې شاوخوا سیمه وکتله، او بېرته کېناست، څوشېبې وروسته پاڅېدم او په ښیښه کې مې د ننه غرفې ته وکتل، پیره دار پوځي په څوکۍ ناست او په وړوکي میز یې یو وړوکی ټیمي بوتل ایښی و، په غوږونو کې یې واړه غوږۍ ایښې او د سندرې غږ هم ترې بهر راووځي، خدای خبر چې د امریکا د کوم ښار په کوم کنسرت کې به ګرځېده، کله کله به یې غږ ورسره پورته کړ او اوږې به یې پورته پورته واچولې.ټوپک یې څنګ ته ایښی و، ما هم سستي ونه کړه، دا خدای وهلي چې لږ ټپیان شي داسې چغې وهي چې درېیم کلی هم خبروي او زه هم له همدې وېرېدم چې که زما د تېښتې پته ولګېده او دوی راباندې پوی شي خامخا مې بېرته راګرځوي، خپله چالاکي مې وښوده، پیپ مې په لاس کې و، خو پیپ ډېر لوی و او دا ځای تنګ و برچه مې راوویسته په کراره مې پیپ لږ وړوکی کړ، د پایپ یوه برخه مې په کراره لاندې کېښوده ورنیږدې شوم، د پیره دار خونې ور مې خلاص کړ، هېڅ خبر نه شو، شاته یې ودرېدم، په پوره چالاکۍ مې پیپ ورته په غاړه کې واچاوۀ، څوکۍ نه مې لاندې ګوزار کړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د برچې په څټ باندې مې څو ګوزاره په سر وواهه، پښې یې ورو په ځمکه وغځېدې، هغه مې همدا سې خپلې پیرې ته پرېښود، ما اغزن سیم په برچې لرې کړ او ځان مې له دېوال نه ځوړند که، ښه په ارامه وغورځېدم، لاندې ځمکه پسته خاوره وه، ځان مې هم ونه ښنډه، نورمې شمال خوا ته په منډه شروع وکړه، ډېر ژرستړی کېدم، ټپونو مې هم درد کاوه، د وېرې منډه وه، داسې روان وم لکه غشی، ډېر مزل مې وکړ، خونه پوهېدم چې کومه سیمه به وي، ما غوښتل چې چاریکار ته ځان ورسوم، چې د ې وخت کې مې د سهار اذان واورېد، آزان ماته د کلي لاره راوښوده، موذن لا تر حی علی الفلاح نه و رسېدلی چې زه ور ورسېدم، د اودسونو ځای ته په منډه ننوتم، ډېر وختي و خلک لا له خوبه نه و پاڅېدلي خو یو دوه سپین ږیري ټوخېدل او اودسونه یې کول، زه یې له شانه تېر شوم، خو هغوی په خپل کار بوخت وو، هلته مې نظامي جامې وویستې څو سوه ډالر پکې وو هغه مې ترې واخیستل، هغه د ناروغانو جامې مې په تن پاتې شوې، جومات ته ننوتم، ملا صیب ته مې وویل، چې زه مسافر یم لاره کې غلو رانه هر څه لوټ کړل، بس دغه د خوب جامې مې په تن کې پاتې دي، ملا صیب ښېرې وکړې او لاړه، لږه شیبه وروروسته یې یوه جوړه توري جامې راوړې، جامې مې بدلې کړې، د چاریکار لاره یې راته وښوده او ویې ویل چې لمونځ وکړه بیا به لاړ شې، د اودس په بانه ترې وتښتېدم، دریشي او تفانچه مې په یو پټي کې ښخ کړل.

لمر لا نه وختلی چې چاریکارو ته ورسېدم، ځینو دوکاندارانو خپل دوکانونه خلاصول یو واسکټ یو سور پکول او یو هغه وړوکی د اوږې دسمال مې واخیستل، سراچه موټر مې تر (تګاب ) پورې په کرایه کړ او حرکت مو وکړ.

څو شېبې وروسته د ژورنالستانو خبره په اسمان کې چورلکې ګرځېدې راګرځېدې او ماته داسې ښکاره شوه لکه په ما پسې چې یې پروازونه کړي وي، زموږ موټر هم ښه په مزه روان و، موټروان ځوانکی بدرنګه، خو ښه اخلاقي هلک و، نوم یې راته شیرین اغا وښود.

مستې، مستې کېستې یې اچولې، خو یوه هم پکې زما د خوښې نه وه، تر ټولو یې د نازیه اقبال سندرې ډېرې اورېدې، د موټروان کره وړه مې

ولسمشر ما وژلی ارش ننګیال

وخارل او پوه شوم چې د ملګرتیا هلک دی، باید ملګری یې کړم، ما سره ددې وېره وه چې کېدای شي په سړکونوکې زما د بېرته نیولو لپاره تالاشي وي، شیرین اغا په دې سیمو کې ښه بلد ښکارېده، د ځان د ډاډ لپاره مې ترې وپوښتل.

- ښه اوس په کومه لار ځو زه خو په دې لار چندانې بلد نه یم.

دې کې شیرین اغا ما ته راوکتل او وې ویل: دامخامخ سړک راستن صیاد ته وځي، بیا چپ لاسته تاوېږو او د ګلدان سیمې ته ووځو، بیا محمود راقي ته ځو د کاپیسا مرکزدی، ښه لوی بازار لري، محمود راقي نه بیا مر (لمر ) خاته ته ځو، هلته د اوغانانو کلی دی ټول پکې پښتانه دي.

زه د شیرین اغا خبرو ته غوږ وم که چېرې له ده نه جدا شم چې لار راته مالومه وي.

- پسې یوه دښته راځي، چې نیم سات مزل په دښته کې وي، بیا د(اله سي ) ولسوالۍ ته رسېږو بیا نو د تګاو بازار ته رسېږو، نور خو به بلد یې؟

- هو ! له تګاو نه سروبي ته څومره لار ده؟

- دوه ساته به وي.

شیرین اغا ویل چې د تګاب له الکوزیو نه دی، پرون یې له تګاب نه یو دربس چاریکارو ته راوړی و او اوس تش روانېده چې زه پرې پېښ شوم، د شیرین اغا په هکله په سوچونو کې وم، موټر د صیاد خوا ته ګړندی روان و، د سوچونو مزې مې شیرین اغا پرې کړه.

- که اجازه دې وي زه به دا سګرټي وسکم، تیار مې ډک کړی دی.

- ما به ورته څه ویلي وای، له مخکې نه مې پرې شک راغلی و زه ورته په برېتو کې مسکی شوم.

- وځکه په ماېې دود ښه لګېږي، خوځکلي مې کله نه دي، زه پوهېدم چې دا خبره په چرسیانو ښه لګېږي او ما هم غوښتل چې د لارې ملګری باید درسره خوشاله وي.

له دې سره مسک غوندې شو، څه یې ویل چې ما ترې خبره ونیوله:

- هسې کدو یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سګرټ یې له خولې لرې که او پخ یې وهل، ښه ډېر یې وخندل، زما بیا د شیرین اغا خندا ته خندا راغله، په خندا مې ورته وویل:

- پو شوم مخکې له دې چې تا راته ویلي وای ما په خپله درته وویل، ډېرو ملګرو به راته دا خبره کوله، خو ستا په هکله مې هم یوه ټوکه زده ده..

هلک په خندا شو، په حیرانۍ یې وویل: زما په هکله ؟

- هو، د شیرین اغا په اړه.

یو غبرګ لوګی یې له خولې وویست، دوه درې تختې، تخته توخۍ یې وکړل.

- ته یې ووایه

دې سره مې ټوکه ورته شروع کړه

- د ننګرهار ولایت د سُرخرود ولسوالۍ ته که کله لاړې او څوک دې پکې نه پېژندل، هرسړی دې چې ولید ورته ووایه، زه د شیرین اغا، یادل اغا ملګری یم، بس دستي دې کورته بیایي، ځکه چې هلته په هر کور کې د دل اغا او شیرین اغا په نامه یو څوک خامخا شته.

دې خبرې سره هلک له خندا داسې تور اوشین شو چې سترګې پکې ورکې شوې او له ډېرې خندا پورته، پورته الوته، په بېړه مې ورته وویل:

لارې ته ګوره چې اوس به موټر ټکر کړي، هغو دله ګانو نه خو را وتښتېدم، چې ته مې مړ نه کې.

یو وار شیرین اغا راته وکتل په وارخطایۍ یې راته وویل:له چا نه؟

چا سره مې مغزو کې کرنګ شو، خو خبره مې له خولې وتې وه، کله کله ځینې خبرې بې اختیاره د سړي له خولې نه ووځي او دلته مې چې خبره له خولې ووته کېدای شي چې نور مې له شیرین آغا نه خطر نه حس کولو، خو بیا هم ځان مې تېر کړو.

- هسې

(هسې) مې داسې وویل لکه چې هیڅ خبره نه وي، عجیب هلک و، سترګې به یې ما خواته وې او موټر به یې ښه تیز روان کړی و، پوخ او خام سړک یې نه لیده، څه به مو سر پړسوم، هلک کلک شو، د چرسیانو د صداقت کیسې مې ډېرې اورېدلې وې، ما هم غوښتل، چې ملګری یې کړم،

ولسمشر ما وژلی ارش ننګیال

ټوله کیسه مې ورته وکړه، که بل هر څوک وای له دې کیسې سره خامخا ډارېده خو شیرین اغا ته زما کیسې داسې خوند ورکړی و، چې پام مې شو موټر داسې کرار روان و لکه چکر ته چې وتي یو، هغه خو سګرټي وهلې و او زه د آزادۍ په نېشه کې داسې غرق وم چې هر ځای راته جنت ښکارېده، ما لا خبرې ته خوله جوړوله چې له شانه د هارنډونو باران شو، دا د پولیسو دوه د رنجر موټرونه وه، چې ډېره تادي یې درلوده، د موټرو په لیدو مې شیرین اغا ته په خواشینۍ وویل: بچو خانه لکه چې ویې نیولم.

خبره مې لا نه وه تمامه چې موټر مو له خوانه تېرشول، ایله مې زړه په کرار شو، له دې کار سره شیرین اغا هم ویښ شو، په جدي انداز یې وویل:

خبره خرابه ده، تګاو ته چاکره ځې؟

- تګاو ته په (۱۳۷۵) کال کې یوځل له ملګرو سره تللی وم، بیا نه یم تللی او نه پکې څوک پېژنم، ما وې چې بیا به له هغه ځای نه جلالاباد ته بل موټر ونیسم.

شیرین اغا یوه شېبه غلي شو، خو په دې کمه موده کې شیرین اغا ډېر ښه پلان جوړ کړ، عمر یې راته اته ویشت کاله وښود، خو له بلا ډک و، هغه ویل چې څومره وخت ډېر تېرشي ستا د نیولو امکان ډېر دی، هرځای کې به تالاشي ګانې وي، زه وایم هغوی به تاپسې اوس کابل اوبګرام لټوي، هغوی څه پوهېږي چې ته شمالي خواته راغلی یې او له دې لارې جلال آباد ته ځې، چې له قصده به دې داسې کړي وي که څنګه خو ښه چل دې کړی دی.

له دې چرسي نه مې د داسې هوښیارې خبرې هېڅ تمه نه وه، خو (لېونی هم په خپل کار کې ښه پوهیږي).

- نو څنګه به وکو؟

- تګاو کې ښه حجره لرو، که کال هم پکې تېرکړې څه خبره نه ده، خو زه وایم چې (ډایرک) جلال اباد ته لاړ شو، اوس د شپې لخوا په لاره هېڅ خبره نه وي، خو چې یو څو زنانه په موټرکې وای، بیخي مو کارجوړېده.

- څنګه مو کار جوړیده؟

- اوس دوه په دوه یو، د هر چا پام موږ دواړو ته اوړي، خو بس چې یو ځل کلي ته لاړ شو، بیا نور زه پوهېږم او کار مې، ته بیا له هرڅه بېغمه یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شیرین اغا داخبره راته ښه ښکاره شوه، زه لږ څه سوچونو کې تللی وم، چې نا څاپه موټر له عمومي سړک نه فرعي سړک ته تاو شو، وارخطا شوم، سړک ته مې وکتل، هلته په لوی سړک پولیس ولاړ و او تالاشي روانه وه، لږ وړاندې موټر ودرېد، شیرین اغا ویل، چې له فرعي سړکونو نه به ځان د تګاب ولسوالۍ ته وکاږو، هغه ویل چې په دې ځای کې مې هېڅ کله تالاشي نه وه لیدلې.

په داسې حالاتو کې یو بلدې ملګری ډېر ضرور وي، اوس مې یو تکړه ملګری پیدا کړی و، چې دا درونند بار یې راسره وړ، داکوم تصادف نه و، په اسلام کې تصادف نشته موږ مسلمانان هر څه د الله پاک له لوري ګڼو، الله پاک راسره ملګری و چې له دا ډول زندان نه وتښتېدم،

شیرین اغا ته مې وویل: شیرین آغا ! یوه خبره درته کوم !

یو چاته نوم اخیستل د بلدتیا لومړی او مضبوط پړاوی دی، ور پسې مې خبر و غزوله: ته پښتون یې اوس مې ځان تا ته سپارلی، چې هر څه کوې، خو ما ژوندی ورسوه، چې په زړه کې مې ډېرې غوټې دي، نوره ستا خپله خوښه.

شیرین اغا له خندا شین شواو وې ویل: داسې پښتو درسره وکم چې ته ام ورته حیران شې، ددې رشوت خورو پولیسانو په چل زه ډېر ښه پوهېږم، یو رګ مې لغمانی دی.

دې سره دواړو ښه وخندل.

دا وخت مازیګر قِضا و، شیرین اغا ویل، چې د شپې ډوډۍ به زموږ په کور کې وخورو، نا وختـه به لاړ شو، ما هم ورسره ومنله، د تګاب د بازار تر څنګ یې کور و، چای او ډوډۍ مو سره وکړل، ټپونه مې وینې شوي وو، لږ درد یې هم کاوه، شیرین اغا له درملتون نه یو څه دوا دارو راوړه، پاکې جامې یې راته راوړې او پوره لس بجې له کوره ووتو، کلي نه یې درې نور هلکان هم له ځان سره راوستل ټول موټر کې کېناستو او جلال اباد ته مو حرکت وکړ، له هلکانو سره یې معرفي کړم، پسې یې یوه لُنګۍ هم راکړه، ښه شخه لنګۍ مې ووهله، د موټر په مخکې ښیښه کې مې ځان ته وکتل حیران شوم، ځکه څو میاشتې مې ځان په ښیښه کې نه وکتلی، زړه کې مې ویل



خپل ځان مې چې په خپله ونه پېژنده نو خلک به مې څه وپیژني؟ په لاره کې بنې ډېرې تالاشۍ وې، کوم ځای کې چې به تالاشي وه د شیرین اغا دماما ځوی اجمل به ځان داسې ناروغ که چې عسکرو به ورته دستي اجازه ورکړه، چې لږ به ترې لرې شول نور به یې له خندا زاره راوچوله، داسې تمثیل یې کاوه چې حیران ورته پاتې وم، دده له ناروغۍ سره به زموږ هغه بل ملګري شامحمد داسې نارې جوړې کړې لکه یوه بوره ښځه چې په خپل زوی ویر کوي؛ زما سترګیا او بې خوبي ډېره وه، دوی ټول د لږې شېبې لپاره غلي شول او زما سترګې سره ورغلې وې، چې سترګې مې لوڅې کړې د لغمان په سرخکانو کې مو د جلال آباد په لوري د موټر څراغونه بلېدل، ورورسته سیټ ته مې چې وکتل، نورعلي ویده شوی و، اجمل او شامحمد خپلو کې ټپې سره ویلې، دې کې اجمل یوه پلاستیکي وړه بشکه راواخیسته او طبله یې هم ورسره شروع کړه، د عسکرۍ په دروان کې به موږ هم دا کارونه ډېر کول، چې ما به کله کله پکې منګی واهه، خو اوس مې زړه مات و، پوی نه شو چې ترجلال آباد ښار پورې څه ډول ورسېدو، اوس نو د شپې دولس بجې وې، خو شیرین اغا د موټر وانۍ حوصله ډېره لرله، شیرین آغا پوهېده چې څنګه مزل وکړي او څه وخت ځان ورسوي، ځکه خو به یې کله کله زمونږ خبرو ته هیڅ پام نه و او خپله ډرېوري به یې کوله، ځکه خو وختي راورسېدو، د شپې تېرولو لپاره قصبې ته د تره کور ته مې لاړو.

===

سهارمې شیرین اغا ته په وچ زورپیسې ورکړې، هغوی په خپله مخه لاړل او زه په کور کې پاتې شوم، هماغه د شپې خبرشوم چې لونې، زامن مې، مور پلار او خور؛ ټول په هماغې شپه وژل شوي وو، تره مې دا هم وویل چې ښځه مې سوچه لیونۍ ده، ټوله شپه مې وژړل، ما به کله له ځان سره ویل، هغه کسان چې ځان مرګي کوي څومره بې عقله دي، پښتانه بې کلتوره دي چې جنګونه کوي خو اوس پوه شوم چې دا دهغوی کلتور دی، چې د ظلم پر وړاندې چوپ نه پاتې کېږي، خو نن زه تیار شوی وم چې دې سور مخو دله ګانو ته ځانمرګی شم، تره ته مې وویل چې زه کلي ته ځم، خو هغه راته اجازه رانه کړه، هغه ویل چې ما امریکایي وژلی، خامخا به ما پسې کلي ته تلاشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځي، د تره خبره راته پرځای ښکاره شوه، شل ورځې له کور نه ونه وتم، نژدې خپلوان مې جلال اباد ته راته راتلل، د کلي دهرې ورځې خبر به راته رسېده، په يو ښتمه ورځ کلي ته له څلورو موټرو سره چې له ترونو، خوريونو اوتره زامنونه ډک وو لاړو، همدا چې کلي ته ورسېدو، ټول په ګډه زما د کور خواته روان شو، خپلو خپلوانو راته يو ډول کتل، د کور په لېدو نور هم ودردېدم او دغچ لمبې مې په زړه کې تاوې راتاوې شوې، تاسو کې به داسې درد چا نه وي څکلی؟ درد او غم هغه وخت له تحمل نه ووځي چې مور او پلار ته د ځوي مړی او اولاد ته د مور او پلار مړي پروت وي، خو زما ټوله چرګۍ مړه وه.

د کلا ور يې په بم الوځولی و، د خونو کړکۍ او دېوالونه داسې سوري سوري وو لکه سل کلنه ورانه کنډواله، په دوه خونوکې مې پلار، مور او خور سوځېدلي وو، خونې اوس هم تکې تورې وې.

ژوند راته يو ډول بې مانا شی ښکاره شو، هېڅ شي خوند نه راکاوه، ميرمن مې خسر پېښور ته د دوا لپاره بېولې وه، سخت نا کاراره وم.

د تره په کورکې مې واړول او فاتحې شروع شوې، هره ورځ به ډله، دوستان راتلل، بيا مو خيراتونه هم وکړل.

درې ورځې وروسته مې ميرمن هم راغله، چې په ليدلو يې سخت پښيمانه شوم؛ ځکه زما په ذهن کې د هغې هغه پخوانی تصوير و، خو هيڅ مې هم د لاسه نه کېدل، زه يو بې وسه انسان وم.

لس دولس ورځې مې په کلي کې وتې وې چې يوه ورځ، له شېرزادو ولسوالۍ نه زما يو پخوانی ملګری خان لالا چې جهادي قومندان هم و دولسو مسلح کسانو سره کلي ته راغی، شپږ کسان يې له حجرې نه شاوخوا پيرې ته ووتل او شپږ کسان يې له ماسره کېناستل، يو پکې مولوي غفورجان و، چې هغه مې هم پېژنده، همداسې هغه نور کسان يې هم معرفي کړل، له فاتحې وروسته يې رانه د تښتېدو په هکله پوښتنې شروع کړې، له لومړۍ ورځې مې ورته کيسه پيل کړه او تر پايه مې ورته ورسوله، مولوي غفورجان خو داسې ژړل چې اوښکې يې نه ودرېدې، ويل به يې دا ټوله د ايمان او اسلام جذبه ده چې په مخ کې يې غرونه هم نه شي تم کېدای، هغو



نورو به توبې ويستې او ښيرې به يې کولې، خان لالا راته وويل، چې دوی ټول له ماسره دي او که زه وغواړم نو دوی زما غچ او زما په شان د نورو بې ګناه افغانانو غچ هم اخيستلی شي، هغه د تبليغيانو خبره دعوت يې راکه او نور پاڅېدل، خان لالا په روانه کې خپلو نورو ملګرو ته وويل: توريالی يو واقعي مسلمان او يو واقعي توريالی دی، چې دومره لوی کار يې کړی، بس د الله امداد ورسره و، او بله يې دا چې توريالی يوتکړه، زړور او باتجربه نظامي افسر دی تېر شوی، توريالی د خدای په مرسته ډېر څه موږ او افغانانو ته کولی شي.

خان لالا خپله د تليفون شمېره راکړه او ويې ويل که مونږ سره يو ځای کېدل غواړې، نو په دې شمېره بيا زنګ ووهه، خدای په اماني مو سره وکړه او د سپين غره خواته روان شول.

دا زموږ کلي ته د دوی لومړی راتګ نه و، هغوی به هروخت خپلو کورونو ته راتلل، ځکه هغوی هم افغانان دي، د همدې سيمې خلک دي کورونه، مور پلار لري، زموږ په کلي کې هرکور وسلې لري، هرځای ته چې ځې دا وسلې ورسره وي، ځکه دلته خلک په شخصي دښمنيو هم اخته دي، داسې لکه ازاد قبايل... يوه ورځ زموږ يو ملګری چې ژونالست و او په ښار کې لوی شوی و، دلته راغی، دا خلک، ټوپک، او وسله وال کسان د شخصي دښمنيو کيسې يې چې واورېدې حيران دريان و، څه وخت وروسته يې زموږ د کلي په پېښو کيسې ليکلې وې او په ځينو مجلوکې چاپ شوې وې، چې بيا زموږ کليوالو هغه مجلې کلي ته راوړې او کليوالو هم لوستلې وې.

سره ددې چې ما هم په بګرام کې همداسې فکر کړی و، لکه خان لالا چې راته وويل، زه په يو ډول خپل غچ اخيستلی شم چې له دوی سره يو ځای شم، کنه يو کس به يې څنګه له ټولې امريکا سره ووهي.

خو کله يې چې دعوت راکه يو ډول زړه نا زړه وم، دا وسله وال به راته يو ډول نا منظمه خلک ښکارېدل او لکه څنګه چې زه يو تورن وم نو د سپلين زمونږ لومړی شرط دی.

خو کله مې چې ځان سره فکر وکړ، چې زه به په څه شي و ډار شم، په پلار که په اولادونو، هغه خو يو هم نه دی پاتې، له شرمه خلکو ته نه شم کتلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوځنګه به وګورم هرڅوک به وايي چې ددغه سړي ښځه امريکايانو بېولې وه او بېرته يې ليونۍ راوسته، دې سوچونو سم لېونی کړم، خولا وروستۍ پرېکړه مې نه وه کړې.

شپې ته مې خور ميلمه کړی وم چې کور يې زموږ له کلي نه يو څه لرې و ، د شپې په ډوډۍ ناست و چې د تره ځوی مې سردار راته زنګ وواهه، ويل يې چې د امنيت کسان راغلي او ستا پوښتنه کوي، چا ورته ويلي دي چې ته موږ کره يې، زموږ ټول کور يې تالاشي کړ، دا يې هم وويل چې که ستا په هکله ورته هرچا مالومات ورکړل انعام هم لري، له دې خبرې سره دا ارته دُنيا راباندې د ميږي له سترګې تنګه شوه، نه مې غوښتل چې بيا ددې کافرو په لاس ورشم، مشرې خوراو خورزو مې چيغې او نارې شروع کړې، اوښی مې هم وارخطا ښکارېده، هغوی ته مې ډاډ ورکه چې دلته نه شي راتللی، خور مې نه منله، دې کې مې د تره زامن له ټوپکو سره زما خواته راغلل، پرېکړه مو وکړه چې هرڅوک راغلل بس تر مرګه به و ر سره جنګ کوو ،تر سبا مو په وار پيرې وکړې، خوڅوک مالوم نه شو.

سبا سهار مې تره راته زنګ وواهه، چې د امنيت کسانو شپه همدلته تېره کړې، اوس يې بيا دوه موټره راغلل. هغوی خبر شوي چې ته کلي ته راغلی يې، پوه شوم چې نور مې په کلي او ان په افغانستان کې ژوند ګران دی، تليفون مې له جيب نه راووېسته او خان لا لا ته مې زنګ وواهه، ټوله کيسه مې ورته وکړه، خان لالا ويل که محاصره يې کسان درلېږم، ما ورته وويل چې زه له کلي نه لرې پټ يم، ځای مې ورته وښود ، د شپې يوولس بجې وې چې خان لالا له شاوخوا پنځو سو مسلح، کسانو سره راغی،هيڅ باور مې نه کېده چې دوی دې دومره ژر راورسېږي.

حجره کې يوه شپه کېناستو ، خان لالا غوښتل چې د امنيت کسانو پسې کلي ته لاړ شي خو ما ورته وويل چې ترونو ته مې ستونزه جوړه نه کړي، چانټه او يو مخصوص دوربين داره ټوپک يې هم له ځانه سره ماته راوړی و ، چانټه مې وتړله ټوپک مې په اوږه کړ او ټول سره روان شولو.

===

ولسمشر ما وژلی ارش ننګیال

سره له دې چې ډېره موده مې په کلي کې ژوند تېر کړی و ، خو دا مې اول ځل و ، چې سپين غره ته لاړم، هغه دعسکرۍ د تمريناتو په دوران کې چې غره ته ختلی وم، له هغه وروروسته مې دا لومړی ځل و ، ژر ، ژر ستړی کېدم او په ښکته کېدو کې مې پښې رېږدېدلې، خان لالا به راپورې خندل، په ډېرو ستونزو د سلطان په نامه سمڅې پورې لاړم، هر کلي ته مو د غره له هر کنج نه يو ، يو زلمی وسله وال لکه پېری راپيداکېده، يو نيم به له لرې سلام وکړ او بېرته به ورک شو ، له هر کس سره به غټ دوربين، چانټه، بمونه، برچې، يانې داسې وسلې ورسره وې چې ما لا نه وې ليدلې، ډېرې پر مخ تللې وسلې وې.

د سمڅې خوله به شاوخوا دوه متره مربع وه، خو کله چې ور دننه شوو ، پراخه د اوسېدو او په عين حال کې د پټېدو ځای و ، تقريبًا شپېته اويا کسان پکې نه ښکارېدو ، خان لالا ويل چې د سمڅې ترپايه څوک نه دي تللي، غار کې ډول، ډول درنې او سپکې وسلې او چاودېدونکي مهمات پراته وو ، له سمڅې د باندې (ترپالونو ) لاندې (۱۵)ډول، ډول موټر سايکلونه چې په ځينو يې يو ډول ماشين دارې هم لګول شوې وې ودرول شوي وو ، موټرسايکلونو نه يې يواځې د عملاياتو په وخت کې کار اخيسته، هغه هم د خان لالا په اجازه.

خان لال به په يو ډول ځانګړې مخابرې له خپلو مشرانو سره تماس نيولو ، خان لالا د سبحان الله په نا مه يو کس خاص د راډيو د اورېدو لپاره ګمارلی و ، هغه د مهمو خبرونو ، ياداشت له ځانه سره په کتابچې کې ليکل، له همدې سمڅې نه مو په ننګرهار او لوګر د څو برېدونو پلانونه سره جوړ کړل، خان لالا زما له پلان جوړولو نه ډېر خوشاله ښکارېده، ځکه چې د دوی پلان به پنځوس فيصده کامياب او پنځوس ناکام او تلفات به خامخا ورسره وو ، خو زما پلان په داسې ډول و چې (۹۰ ) فيصده کامياب او پرته له تلفاتو نه تر سره کېده، د لوګر ولايت په يو چارواکي پسې مو درې ځله هلکان واستول، خو بېرته به تش تور راغلل، بلاخره درې تکره هلکان مې له ځانه سره واخيستل خان لالا دُعا راکړه ځکه چې دا هغه د امرکايانو خبره زما لومړی ( مشن ) و زما لويه ستونزه دا وه چې زه په سيمو کې ښه بلد نه وم، د شپې دوه بجې مو حرکت وکړ او سبا سهار مې سړی لاس ترلی راووست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاوخوا یوه میاشت مې په دې سمڅې کې تېره کړه، له څو بریالیتوبونو نه وروسته خان لالا راته وویل چې مرکز ته ورځو، لږکارمې دی، مشران وايي چې توریالی هم درسره راوله، له دې سره سخت خوشاله شوم، په جامو کې نه ځايېدم.

سبا سهار ما، خان لالا او زلمي چې موږ به ورته چیریک ویلو، تش لاس مو (ګرمې) ایجنسۍ ته حرکت وکړ، څو چې کرمې ته رسېدو، څو ځایه په سمه او په غره کې مو له خپلو وسله والو ملګرو سره دمه کوله او خان لالا به ورسره څه پټې خبرې کولې، یوه شپه مو په لاره تېره کړه په دریېمه ورځ ګرمې ایجنسۍ ته ورسېدو، دا هغه سیمې وې چې ما په لومړي ځل ولیدې، خان لالا نه مې د ملا محمدعمر مجاهد په هکله پوښتنه وکړه، چې هغه چېرته دی؟ خان لالا وویل چې ملا محمد عمر، حکمتیار، اسامه او ملګري یې لا چاته مالوم نه دي او که چاته مالوم هم وي ځای یې نه ښيي، ان که څوک یې مړ هم کړي.

ګرمه دا سې ځای دی چې اب او هوا یې ګټ مټ زموږ د کلي په څېر ده، خوشاوخوا غرونه یې د ګورګورو او مزرۍ په ونو پټ دي ښکلي درې او د مرکیخیلو په څېر روڼ رود په کې بهېږي چې خلک یې کلک پښتانه مسلمانان دي، ټوپک د دې ځای د ترانو سینګار دی، هلک چې زلمی شي بیا یې ټوپک په غاړه وي، په جوماتونو کې دیني سبق ویل کېږي او دیني مدرسې هم پکې ډېرې زیاتې دي.

یوې لویې کلا ته ورننوتو، چې شاوخوا شل خونې به پکې وې، په انګړ کې کټونو باندې، لس دولس کسان ناست وو چې زموږ په لیدو ټول راپورته شول، سترې مشې مو سره وکړه، کټونو کې یې ځای راکړ، بیا خان لالا له ټولو سره معرفي کړم، دا سې لکه دوی مې چې ښه پېژني.

د خان لالا په وینا جبار مولوي صیب ناستو کسانو ته مخ واړو.

- ملګرو توریالی یو باتور او چې کوم دی ډېر زړور او چابک زلمی دی، چې په کمه موده کې یې خپله زړورتیا موږ ته ښکاره کړه، الله دې ورته معافي وکړي د ډاکټر نجیب په وخت کې نظامي صاحب منصب و.

دې کې یې خان لالا خبره پرې کړه.



- توریالی یو غازي دی، یو اتل دی، په همدې نېژدې ورځو کې له بګرام نه تښتېدلی او دوه کافران یې مردار کړي دي.

دې سره ناستو کسانو په لوړ غږ د الله اکبر ناري پورته کړې، پسې یو کس چې سپین دسمال یې له سر نه تاو کړی و، په خبرو پیل وکړ، له خبرو یې پوه شوم چې عرب دی، خو ډېره ښه پښتو یې ویله.

- دا سې زلمو ته خو دغه تحریک اشد ضرورت لري، اوس به د خپلو مجاهدینو ورونو سره نور هم ورزل شي او په خپل جهاد کې به لا کامیاب شي، زه یقین لرم چې دی به ډېر نور کارونه هم وکړي.

خو خان لالا یې په ځواب کې وویل، چې اوس خو دلته یو بیا په سره ګورو، نور د ماسپښین لمانځه ته پاڅېدو.

===

شپه مو همدلته تېره کړه، په سبا یې خان لالا ما ته لس زره کالدارې راکړې او خپله چېرته لاړ، زه یې منصور ته وسپارلم، ټوپکې مو په اوږه کړې او ښار خوا ته روان شولو، دا ړتیا وړ شیان مې واخیستل غرمه مو په هوټل کې ښه مزه داره کړايي وخوړه، منصور سره مې ګپ شپ ولګاوه، بېرته مرکز ته راغلو، مازدیګر زه خان لالا، جبار مولوي صیب او دوه درې نور ملګري لږ لرې یو بل کلي ته لاړو، نور له ډېرو پوښتنو نه شرمېدم، ځکه هر څه ماته نوي وو، دا څه دي؟ او دا کوم ځای دی؟... ما وې اخیر به بلد شم اوس خو مې همدا ځای دی، تقریباً نیم ساعت مو په پښو مزل کړی و، چې یوې لويې کلا ته ورسېدو، له کلانه د ختهو دېوال تاو شوی و، کلاته چې ورننوتو، ګورم تقریباً د سلو کسانو په شاوخوا کې تنکي، تنکي زلمیان په نظامي تمرینونو لګیا دي، موږ د هغو کټونو خوا ته لاړو چې دوه د پاخه عمر کسان، غټې غټې لونګۍ یې تړلې وې، په غاړه یې سترې مشې وکړه او ټول په کټونو کې کېناستو؛ همدا چې د شیدو چای مو وڅښنۀ، منصور په غوږ کې راته وویل: راځه چې لږ ځانونه ګرم کو! ډېر وخت به تا هم تمرین نه وي کړی.

زما له پخوا نه ورته زړه تخنېده، خو عمر مې دا تقاضا نه کوله چې زه دې لکه ځلمیان منډې ووهم او ټوپونه واچوم خو زړه مې صبر نه شو، خان لالا ته مې وویل چې زه غواړم، لږ تمرین وکړم، خان لالا راته وویل چې د همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره مې دلته راوستی یې، زه او منصور بلې خونې ته لاړو جامې مو بدلې کړې او د تمرین مېدان ته راووتو ، زموږ او ددوی تمرینونو سره ډېر فرق درلود ، دوی موږ ته د موټرسایکل ځغلول، له موټر سایکل نه د بریدونو چلونه، اختطاف او نور تکتیکونه رازده کول، چې ما په ډېره کمه موده کې هرڅه ډېر ښه زده کړل، خان لالا ویل چې ته به دلته دې هلکانو ته نظامي درس هم ورکوې، خولکه چې چا ورته اجازه نه وه ورکړې، دوه میاشتې دلته پاتې شو او دغه دوه میاشتې مې هره ورځ تمرین کاوه، داسې خلک مې په دې قبایلو کې ولیدل چې حیران ورته پاتې وم، په رښتیا چې ازاد قبایل دي، د چیچین خلک، ایرانیان، عربان، غربیان، پښتانه، تاجک، پنجابیان هر ډول خلک مې هلته ولیدل، په دې قبایلو کې څوک وسلې ته لایسنس نه جوړوي، په همدې سیمه کې وسلې هم جوړېږي چې دره وال ټوپک ورته وایي، خو د افغانستان د دولت له دغو وسله والو مخالفینو سره به ځینې وخت داسې وسلې هم تر سترګو کېدې چې د نوي او پرمختللي ټکنالوجۍ حیرانوونکې وسلې وې، خو په عام حالت کې به موږ د وسلې د کمښت سره مخ و ، خو لکه مخکې چې مې وویل دلته وسله هم جوړېږي نو باروت زیات و چې زمونږ انجنیرانو آن دیګ بخار بمونه هم جوړول.

پخوا به مې له خلکو نه اورېدل چې طالبان خلک په تبلیغ باندې ځان مرګو بریدونو ته اماده کوي، داسمه وه خو کله به چې امریکایانو ملکي خلک ووژل او دا خبر به په طالبانو کې خور شو ، ان ښځې به ځان مرګو بریدونو ته اماده کېدې، پرته له دې چې څوک ورته ووایي.

د ځانمرګو بریدونو لپاره ډېر ځوانان اماده وو ، چې هلته به مونږ ورسره خبرې کولې، هغوی به د ځانمرګي برید لپاره اماده وو ، خو په څېره یې د خپګان نښې نه ښکارېدې، مازدیګر به چکر ته تلو ، چې په دې ځانمرګو کې د هر عمر او نژاد خلک موجود و ډلې، ډلې ځوانان به تیار شول نومونه به یې ولیکل بیا به افغانستان ته د جهاد لپاره را تلل. هغوی به ویل که کله د کوم کس په ناموس،هېواد اودین تېری کیږي چې وس یې ور سره برابر نه وي نو ځان مرګی ښه او رواکار دی، دوی به ویل چې دا هر څه په افغانستان کې شته او شوي.

ولسمشر ما وژلی ارش ننګیال

یوه شپه خان لالا په یوې ورقې کې په پاکستان کې د افغانستان د یو چارواکي د تښتولو پلان جوړ شوی ماته راکه، زما نظر یې پکې غوښته، دوی د دې پلان د عملي کولو مشر هم زه ټاکلی وم؛ په دې ځای کې نو اوس له مونږ سره د مبارزې لویه حوصله ملګرې وه، اوس مونږ باور درلود چې دښمن به خامخا په ګونډو کوو ، پلان داسې و چې موږ درې کسان به حیات اباد ته ځو او هلته به د افغانستان هغه چارواکی چې د حیات آباد په یوه بنګله کې اوسېږي تښتوو ؛ خان لالا ته مې ویل چې بیخي ښه پلان دی.

په سهار زه، منصور او سردار باجوړي ځانونه سره راجوړ کړل، سپینې جامې، او تور واسکټونه مو واغوستل او تش لاس روان شو ، یو ډول وېره او تشویش را سره و ، داسې نه چې زه ډارېدم؛ هو ! ډارېدم خو په دې چې پلان ناکام نه شي چې هم به خان لالا او هم به زه خام شم، په پېښور کې زمونږ لپاره یو کور ښودل شوی و ، په دې کور کې مېشتو ملګرو درې تمانچې یو کلاشینکوف، د پولیسو جامې، موټر راکړل شول، د پولیسو جامې مو واغوستې او تمانچې مو په قاشونو کې ومنډلې، حیات اباد فیزون ته لاړو ، منصور ته د هغه چارواکي کور ډېر ښه مالوم و او د هغه موټر یې هم پېژانده، د کوڅې په سر کې له خپل موټر سره ودرېدو ، له موږ نه دوه سوه متره لرې د پولیسانو یوه پوسته هم وه، شاوخوا سیمه مې ښه له نظره تېره کړه، د تېښتې لار مو وټاکله او د ښاغلي په تمه ودرېدو ، شل دقیقې به مو انتظار کړی و چې له کور نه موټر راووت یو کس باډیګارد هم ورسره ښکارېده او یو موټروان، همدا چې له کوڅې نه راووتل موټر مو د هغه د موټر مخ ته ودراوه، پسې درېواړه له موټر نه ښکته شولو ، باډیګارد له مخکې سیټ نه راښکته شو ، زه د دیپلومات خواته روان شوم، ما لا د موټر ور نه و خلاص کړی چې ډزې شوې، ګورم چې موټروان او باډیګار په ځمکه پراته دي، په دوی مې چیغه کړه خو کار شوی و. نه مې غوښتل چې څوک مړه شي، سردار د دیپلومات موټر ته کېناست منصور خپل موټر ته او زه د دپلومات تر څنګ کیناستم او تفانچه مې ورته بغل ته ونیوله، موږ چې حرکت وکړ ګورم چې هاخوانه درې پولیسان موږ خواته رامنډې وهي، غوښتل یې چې د موټر مخ ته ودریږي چې دې کې مې ښیښه ښکته کړه.پښو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته مې ورته درې ډزې وکړې، هغوی شاته شول او زموږ موټر تېر شو. دې کې د ډزو غږ راغی پولیسانو هم هوا یې ډزې وکړې، خو موږ ترې لاړو؛ نور نو چې له هغې ځایه راووتو، هرځای مو موټرو ته لاره خلاصه وه، توربینز او شاته یې د پولیسو موټر، خپل ځای ته ورسېدو، شپه مو همدلته تېره کړه، ما خان لالا سره تماس ونیو، ورته مې وویل چې سړی مو ژوندی نیولی څنګه یې کړو، هغه ویل چې نیم سات وروسته درته ځواب درکوم، نیم سات وروسته خان لالا زنګ وواهه هغه ویل چې ژوندی یې میرام شاته راولئ، په انګړ کې لس دولس ملګري نورهم وو، ټول سره راټول شولو او په دې مو بحث کاوه چې په څه ډول هغه دیپلومات تر میرام شاه پورې بوځو، چا یو څه چا بل څه ویل خو داسې خبره هیچا هم ونه کړه چې اسانه اوبې خطره وي او د ټولو په خوښه هم وي، په دې ورځ دا پرېکړه همداسې پاتې شوه، ټوله شپه مې سوچونه وهل چې څه باید وکړو؟ نه پوهېږم چې دولس که یوه بجه به وه، چې یوه خبره مې په فکر کې وګرځېده، له خوشالۍ نه مې منصور او سردار له خوب نه راویښ کړل، هغوی مې چې له خپل پلان نه خبرکړل را سره یې ومنله، په سبا مې نجار راوغوښت او داسې تابوت مو پرې جوړ که چې په منځ کې دوه کسان ځای شي، خو د باندې نه ډېر غټ ښکاره نه شي، تابوت بایدلکه تونل ګول وي او پاسه خوا یې لکه سم تابوت؛ دیپلومات مو بې هوښه که، تابوت کې مو واچاوه، بیا مو د هغه شاوخوا ښه ډېر مالوچ کېښودل، سردار مو هم بې هوښه که او د دېپلومات په سر مو لکه چې مړی په تابوت کې اېښودل کیږي ځملاو، د تابوت شاوخوا مو له مالوچونه ډک کړل، کله چې تیار شو هغه نور ملګري چې راغلل له خندا راته شنه شول، فلنکوچ موټر مو راوغوښت، تابوت مو په جنګله ښه کلک وتاړه، زه او منصورپه سیټ کې کېناستو او حرکت مو وکړ، د پېښور په ښار کې سخته تالاشي شروع وه، هرموټر به یې سم تالاشي کاو، کله چې زموږ د موټر وار راورسېد، ما او منصور لکه ډېر نیږدې څوک مو چې مړ شوی وي، تمثیل شروع کړ، پولیسانو د مړي سر لوڅ کړ له کتلو وروسته یې خپله خواشیني له موږ سره شریکه کړه او روان شول، هر ځل تالاشۍ سره به د منصور رنګ تک ژېړ شو، خو دا هم زموږ په ګټه و، داسې به ښکاره شوه چې ښه ډېرې

ولسمشر ما وژلی ارش ننګیال

ژړلي، که رښتیا ووایم زما په زړه کې د سردار اند ښېښنه وه چې هسې نه له ډېرې نېشې نه څه پرې وشي، څو واره مې د تابوت سر پورته کړ او د دواړو جاج مې واخیست؛ تر علیزیو پورې څو ځایه تالاشي شو، کله چې علیزیو نه واوښتو خان لالا ته مې زنګ وواهه، چې موږ نیږدې یو، هغه ویل چې کسان دې مخ ته درلېږم؛ همداسې وشول لږ وړاندې چې لاړو یوه ډاټسن کسان مو هرکلي ته راغلي وو، تابوت مو له فلنکوچ نه ښکته که او ډاټسن کې مو بار که، شل دقیقې وروسته مرکز ته ورسېدو، همدا چې د ننه شولو ګورم چې شاوخوا شپېته اویا کسان په انګړکې دي، تر ټولو خان لالا لومړی زما خواته راغي غېږ کې یې کلک ونیولم، پسې نورو ښه ګرمه ستړې مشې وکړه، خو ځینې بیا حیران شول چې په تابوت کې څوک دی، هلکانو ته مې امر وکړ، چې ژر دواړه له تابوت نه وباسي، ما ویل چې په سردار څه چل ونه شي ځکه څلور پینځه ساته بې هوښه وه، خان لالا ډاکتر راوغوښت دواړو ته مو دوا دارو وکړل، ښه وو دواړه رک روغ شول، له دې عملیاتو سره دهر ملګري په خوله کې زما نوم و، سخت قدر مې پیدا کړ د انعام په توکه یې یو لک کلدارې هم راکړې، چې بیا لس لس زره کلدارې مې منصور او سردار ته هم ترې ورکړې.

===

کله چې مرکز ته راغلو یو ډول د خوښۍ فضا رامنځته شوې وه، ټوله ورځ به د مشرانو جلسې اوغونډې روانې وې، ځکه چې افغان حکومت او امریکایانو د سعودي عربستان په منځګړیتوب موږ ته وړاندیز کړی و، چې هرڅه د خبرو له لارې حل کړو، زموږ څو مشران عربستان ته تللي وو، چې له افغان حکومت سره خبرې وکړي، خو پرته له کومې پایلې نه دا غونډې پای ته ورسېدې.

عجیبه خو دا وه چې کله کله به ډېرې تښتونې، چاودنې چې موږ به نه وې کړې په مطبوعاتو کې په موږ تپل کېدې، چې ټول به ورته له خندا شنه وو، بس موږ نه اوس لاس پاک جوړ شوی و.

په همدې ورځو کې امریکایانو زموږ د کابل د عملیاتو مسئول په هوایي بمبارۍ کې شهید کړی و، په دې پېښه باندې ټول خواشیني وو، هغه ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو سم د قیامت ورځ وه، چې کله یې مړی راوړ، خو په ښه بدرګه او عزت خاورو ته وسپارل شو.

له دې وروسته جلسې شروع شوې، چې د کابل د عملیاتو مسئول انتخاب کړي.

په دې ورځ زه او منصور پاس غره ته لاړو، موږ چې پکې اوسېدو دا ډېره ښکلې سیمه وه، شاوخوا لوړ تک شنه غرونه له ځېړیو او نښترو نه ډک وو، د دواړو غرونو تر منځ لوی خوړ او د خوړ دواړو خواوو ته کلاګانې وې، زه او منصور تر ډېره په غره کې سره ناست وو، منصور ویل چې زه ډېر جدي یم، کله مې چې د خپل ژوند کیسه ورته وکړه، حیران پاتې و، یوځه ډاډ یې راکه، ویل یې چې زموږ وار به هم راشي، موږ خو د مرګ لپاره پیدا شوي یو، زموږ د خبرو په منځ کې د خان لالا زنګ راغی، وې چې ژر راشه.

زه او منصور په بیړه له غره نه رابښکته شولو، د غفورجان کلا ته لاړو، ګورم چې بلا ډېر ملګري راټول شوي دي، زما په لیدو خان لالا او درې نور مشران چې ما لا نه پېژندل، را پاڅېدل، ستړي مشې مو سره وکړه، خان لالا سره معرفي کړو، په دې غونډه کې مې ډاکټر نور عالم ولید، او په همدې غونډه کې زه د کابل ولایت جنګي مسئول وټاکل شوم، ما هم دغه دنده ومنله او د ټولو پروړاندې مې ژمنه او قسم یاد کړ چې خپله دنده کې به صادق واوسم.

په سبا یې ډاکټر نورعالم زه او خان لالا وغوښتلو، چې خان لالا ما ته په کابل کې د ملګرو او هغو کسانو، چې په دولت کې وظیفې لري او موږ ته کار کوي ادرسونه او شمېرې راکړي او هم د نورو عملیاتو په هکله وغږېدو، څو ورځې وروسته زه او خان لالا له دولسو نورو ملګرو سره له ګُرمې ایجنسۍ نه مخ په خوست روان شو، په لاره کې خان لالا را ته د هغو کسانو ادرسونه او تلیفون شمېرې راکړې چې له دولت سره یې کارکاو، یانې دا هغه کسان وو چې په ډول، ډول پوستونو کې یې کارکاو، له رئیسانو رانیولې ان تر والیانو او وزیرانو پورې له موږ سره په تماس کې وو.

څه به مو سره خوړوم، په ډېره لږه موده کې مې د خپلو ملګرو په مرسته د کابل امنیت له سخت ګواښ سره مخ کړ، د یوې میاشتې په برېدونو کې مو



یوځې یوسل اولس امریکایي او د ناټو پوځیان ووژل، دا پېښې خو د هرې ورځې په خبرونو کې راتلې، خو زموږ اساسي هدف د خارجیانو وژل وو، خو د افغانانو سرزوري تاسو ته مالومه ده، چې اوبه په پیچومي پورته کوي، هرځای کې به افغان پوځیان مخ مخ ته کېدل.

یوه ورځ ډاکترصیب زه، خان لالا، د کندهار د عملیاتو مشر او د کاپیسا مشر میرام شاه ته وغوښتو او داسې خبر یې را باندې واوراو چې ټولو یو ډول ټکان و خوړ، دا خبر د افغان ولسمشر د وژلو خبر و، چې باید د ثور د اتمې په جشن کې ووژل شي.

بل سبا مازدیګر خان لالا له یو بل زلمي سره زموږ خونې ته راغی، په څوشېبو کې یې پلان راته تشریح کړاو دایې هم وویل چې دا کار به جاوید ترسره کوي، ځکه چې دی ډېر ښه او مسلکي نشان زن دی.

د جاوید خبرې ته مې چې وکتل چندانې باتور راته ښکاره نه شو، لږ وروسته مې خان لالا ته وویل

- خان لالا !

- ام

- لکه چې زموږ پلان ناکامه شي.

دې سره خان لالا له خنداشین شو او ویې ویل: نه سړی ښه مسلکي دی.

- فوجي دی؟

_ نه یم خبر.

_ ما ته فوجي ښکاري.

خان لالا د نه پوهېدو په مانا خپل سر وخوځاوۀ.

څه به موکړي وای، دا فیصله نه ردېده، جاوید مو له ځان سره واخیست او ټول بېرته افغانستان ته روان شوو، سخت قهر مې راغلی و، چې ولې یې دا مسئولیت ماته ونه سپاره، خو ما باید د مشرانو خبره منلې وای.

کله چې کابل ته ورسېدو، په سراجي کې مې د یوه زاړه تعمیر په څلورم منزل کې دوه اطاقه په کرایه کړل، چې د جشن سیمه ترې ډېر ښه ښکارېد، یو څه د ماشومانو د لوبو پلاستیکي سامانونه مې په لویو بوجیو کې ځای په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای کړل؛ دلته زما ټول ملګري نابلد و خو زه يې مشر او راهنما وم، ماته د کابل کوڅه، کوڅه مالومه وه.

د مارکيټ له منشي سره مې خبره خلاصه کړه هغه ته مې د خپل کاروبار به اړه ډاډ ورکړ، داسې مو ښودله چې موږ تجاران يو او دا خونې مو د ګودام په ډول نيولي دي، ور پسې مې يو زوړ کور د عيدګاه جومات شا ته په کرايه کړ، چې وسلې مو ورته د کور په سامانونو کې راوړې او د سراجي اطاقونو ته مو د لوبو د سامانونو په غټو بوجيو کې ور وړې، يوه پيکا، يو دوربين داره ټوپک، دوه کلاشينکوف او دوه تفانچې مو راوړې، کله مو چې د اړتيا هر څه برابر کړل، نور بې غمه په خپلو نورو کارونو پسې لاړو، درې ورځې چې جشن ته پاتې شوې، جاويد مې له درې کسانو سره سراجي او څلور کسان مو د عيدګاه شاته کور ته واستول، په سراجي کې زه او د عيد ګاه څنګ کور ته د قندهار مشر لاړه، خپلو ځايونو ته ځکه مخکې لاړو چې دا ځايونه بيا بنديدل، شاوخوا يوه مياشت وړاندې دا ځايونه د افغان عسکرو له خوا محاصره شوي وو، د جشن په سهار مو ځانونه اماده کړل، همدا چې ولسمشر ستيج ته راغی، ګوشکي خو مو تياري په غوږونو کې وې، ټولو ته مې د تيارسۍ امر ورکړ، خو په ټولو کې جاويد ډېر وارخطا ښکاريده، څو واره مې ورته وويل: جاويده ناروغ خو به نه يې؟

خو هغه به ويل: نه جي، هسې د کابل موسم راباندې ښه نه لګي.

موږ لا په همدې خبرو لګيا و، چې د ولسمشر غږ پورته شو، د وربين کې مې چې وکتل ښه صفا ښکاريده، افضل ته مې وويل چې له موږ نه مخکې څوک ډزونه کي او نه څوک په عامو خلکو ډزې وکړي، جاويد خپل دوربين داره ټوپک د کړکۍ په لانديني چوکاټ کېښود (جري جَوګ ) يې ښه سره برابر کړل؛ ما په دوربين کې ورته کورديناټ ورکول چې دې کې د نورو ملګرو د خندا غږ پورته شو، دوربين مې له سترګو لرې کړ، ګورم چې د جاوېد لاسونه ريږدي، جاويد ته مې وويل: جاوېد جي ! اماده يې؟

جاويد په رېږديدلي غږ وويل: تيار يم جي !.

ما هم دوربين راواخيست، چې ومې کتل ولسمشر لکه نښه ولاړ دی او خبرې کوي، په ټولو مې غږ وکړ: اماده يئ ؟



د ټولو ځواب مې واورېد، ټول تيار وو، يوازې د جاويد جي، غږ مې وانه ورېد.زه د خپلې پوښتنې ځواب ته غلی وم چې جاويد په کراره وويل: تيار يم جي !

ما ورو وکتل هغه سترګه د ټوپک په دوربين ايښې وه ! سمد ستي مې وويل : اماده ! يو ... دوه ... درې.

دې سره ډز شو، پوی نه شوم چې مرمۍ په کوم ځای ولګېده، خو له ولسمشر نه لرې کوم ځای لګېدلی و، چې يودم ګډوډي شوه، افضل سره په تماس کې وم په هغه مې غږ وکړ: افضله خطا شو.

دې سره افضل په کنځلو شروع وکړه، دلته جاويد دوربين داره ټوپک لرې کړ او پيکا يې راپورته کړه په پيکا يې د جشن په لور يوه زربه خوشې کړه، هلته افضل په قار شو، وې چې اوس مو نيسي يو څه خو بايد وکړو، کله مې افضل ته ويل چې، ډزې مه کوه چې عام خلک دي، او کله به مې جاويد ته مخ ورواړاوه، خو کار ګډوډ شو، جاويد ته مې وکتل، د هماغې پيکا سره چې په لاس کې يې نيولې وه ناست و، د جاويد سر ته مې توفانچه ونيوله، له ډزسره يې ماغزه بادشول.

افضل راباندې غږ وکړ، چې زمونږ ځای ته رانئوتل، هغوی ته مې ويل چې ځانونه وباسئ، ملګرو ته مې ويل چې وسلې همدلته ختاکئ، يوه تفانچه مې له ځان سره راواخيسته، د لوبو د سامان بوجۍ مې په اوږه کړه، ځانونه مو سړک ته ورسول، په سړک د پخوا په څېر ډېره ګڼه ګوڼه نه وه، موټر خو له سرنه ليدل کېدل، يو نيم کس چې د سړک تر غاړې ناست و يو څه او تر ښکارېدل ځينو پو ليسانو او عامو خلکو په سړک منډې رامنډې وهلې، ملګرو ته مې ويل خواره شئ، هغوی نه خو خبرنه شوم چې کومه خوا لاړل، زه د سراجي په کوڅې (لاهورۍ ) دروازې ته ووتم، خو دلته بيا پوليسان او ترنه ښکاريدل، څو ځايه پوليسانو ورټلم او د شان بوج يې راته څو ځايه ښه تا لاشي کړۀ خو خدای پاک ړانده کړي وو، زه يې له سره تا لاشي نه کړم، څو ځايه مې زړه و چې تفانچه چېرته وغورځوم خو زړه مې ونه شو، کله چې شاه شهيد ته ورسېدم، پوه شوم چې دلته په امن کې يم په کلاره مې ځان د کارته نو سيا سنګ ته ورساوه، کوم ځای کې چې مو وعده کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته هم ټولې لارې کوڅې بندې وې، سړکونه تش تور وو ،خو عام خلک بیا د سړک تر غاړې یو څه ډېر تر سترګو کېدل، هلته خلک نه پوهېدل چې څه خبره ده، ان هغه عسکر چې د امنیت لپاره په لارو کوڅو کې ودرېدلي وو، له پېښې نه خبر نه وو.

د سیاسنګ کور زموږ ډېر پخوانی مرکز و، چې دلته به مو د برید لپاره تیاری نیوه.

په دې ورځ مې فکر سخت خراب و، خان لالا ته مې زنګ وواهه ورته مې وویل چې ستاسو تورزن خو هرڅه خراب کړل، هلته هغه په ځمکه، ځمکه لګېده چې ولې؟ سره له دې چې موږ ټولو په تېره ما د خان لالا ډېر احترام کاوه؛ خو دا ځل زه ورته په قهر شوم، .ټیلیفون مې له ډېره قهره په ځمکه وویشت.

لږه شېبه وروسته یو اځې زما هغه ملګری چې موږ سره په سراجي کې و، کورته رادننه شو، ډېر وخت د نورو ملګرو په تمه وو، خو په راډیو کې یې ویل چې ټول یې وژلي، کله مې چې تمه وشلېده، زه او میراغا بېرته لوګر او بیا سپین غر یانې خپل زوړ مرکز ته لاړو.

===

عجیبه وه کله، کله چې به مې له ځانه سره فکر کاوه، ټول ژوند مې له پېښو ډک شوی و، ځکه چې موږ په خپله پېښې رامنځته کولې.

له یوې خوا ډېر سخت ژمی تېر شوی و، زموږ د تګ راتګ ډېرې لارې د واورې له امله بندې شوې وې، خو بیا هم یو نیم ځای به مو بریدونه کول، له بلې خوا امریکایي بې پیلوټه الوتکو زموږ کار خراب کړ، په هرې بمبارۍ کې یې زموږ لس شل کسان وژل، له بلې خوا پاکستان هم په موږ جنګونه شروع کړل، چې دې جنګ هم موږ ته ډېر زیان واړاو، څه موده زموږ او د افغان دولت تر منځ د روغې جوړې خبرې روانې وې، هغه هم غلې شوې، د دې لپاره چې موږ یو ځل بیا خپل ځواک او په هر ځای کې خپل موجودیت د



افغانستان دولت او نړیوالې ټولنې ته ورښکاره کړو، د مشرانو لخوا موږ ته د یو نوي برید پلان راکړل شو، داسې نه چې مشرانو له ماسره مشورې کولې، دا خبرې ما له خان لالا او مولوي جبار نه اورېدلې ما سره هم دومره سیاسي درک شته، هسې خو هر افغان په سیاسي بې ځایه بحثونو کې مېړنی دی، خو زه بیا له پېښو او مرکز سره نیږدې پاتې شوی وم.

دا چې په همدې ورځ نور بریدونه چا کول او څوک یې مشر و نه وم خبر، خو ما ته یې په عدلې وزارت د برید مشري راکړه، دا پلان د هند په هغه هوټل د برید تقلید و، خان لالا وویل چې له تا سره باید څلور کسان د عدلې په وزارت برید وکړي، عام وګړي و نه وژنئ خو که وزیر یا معین په لاس درغی ژوندی یې مه پرېدئ.

په سبا مې خپل ګروپ تیار کڼ، د برید ورځ او ساعت مالوم شول، چې په همدې ورځ او ساعت به یو اځې په کابل کې څو ځایه بریدونه تر سره کېږي.

زه څه له مور نه قاتل نه وم زېږېدلی، زه همدې دولت قاتل کړم، له هیڅ شي مې وېره نه کېده، ما به ویل، زه چې په دې ارته نړۍ کې یو اځې یم، زه چې د خوښۍ او مستۍ په نړۍ کې خپه یم ټول خلک دې خپه وي، ټول خلک باید وژاړي، دوی دې خاندي او زه دې ژاړم ولې؟ عجیب وخت راغلی و، کله چې روسان زموږ هېواد ته راغلل، نو عام او خاص، ښځه او نر ټولو د جهاد اعلان وکړ، د روسانو دې کور ودان وي، له کلي نه به ټول نارینه ګان غرونو ته لاړل ښځې او ماشومان به په کورونو کې یو اځې پاتې شول، خو هیڅ داسې پېښه به پیدا نه کړئ، چې روسانو دې کومه ښځه بې عزته کړې وي، او یا یې له ځانه سره بندي ساتلې وي، خو دوی نه هلک پرېږدي، نه ښځه او نه هم واړه، دا لا څه کوئ، زموږ خپل افغان پولیسان چې کوم کلي ته لاړ شي چې څه یې زړه غواړي هغه کوي او زموږ هغه جهادي مشران بیا له امریکایانو او د نورې دنیا پوځونو او مشرانو سره په یوه دسترخوان کیني، آیا داسې څوک شته چې ماته ووایي، ولې دوی له روسانو سره جهاد کاوه او له دوی سره یې نه کوي؟ خیررا به شم اصلي کیسې ته.

تاسو به وایئ چې په څه ډول موږ د کابل ښار ته راتلو ایا چا نه تالاشي کولو؟ هغه دولت کې چې رشوت عام وي او کومه ګناه هم ونه ګڼل شي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه دولت کې هر څه کېدونکي دي او بل دلته خو یو چارواکی د بل دښمن وه، یو بل ته غله دي، لنډه دا چې د دولت په بې کفایتۍ، او د ظرفیت په نشتوالي خو ټوله نړۍ خبره ده، چې علت یې زما په فکر د لیاقت پرځای د بې ځایه مصلحت نه کار اخستل ؤ.

په کابل کې پلار په ځوی او ځوی په پلار باور نه شي کولی، د هر چا چې وس ورسېږي د نوک پر ځای سوک منډي، د مالوماتو لپاره یوه ورځ په یوې ټکسي موټر کې سپاره شئ بیا وګورئ چې ایا تاسو څوک تالاشي کوي، که تالاشي مو هم کړي زرافغانۍ ورکړئ لار هم درته ښیي، موږ سره خو نیمو دولتي چارواکو هم لاس درلود، لاس یې څه درلود زموږ خپل کسان وو.

په رڼا ورځ مې له خپلو کسانو سره له جلال اباد نه کابل ته حرکت وکړ، پلچرخي کې یې ښه تالاشي کړو هېڅ یې هم راسره پیدا نه کړل، موټر نه په دربیم مکروریانو کې د شینو زاده کلینک سره ښکته شولو، ټیکسي موټر راته تیار ولاړ و، پکې سپاره شولو د میدان هوایي په لاره یې د تیمنیو پینځم سړک کې یو کور ته وردننه کړو، ډله، ډله یې په هره سیمه کې موږ ته ځایونه جوړ کړي وو، څکه که یوه ډله ونیول شي نوبله خوبه پاتې وي، سهار وختي پاڅېدو، چای مو ښه په مړه ګېډه وڅښه، ځانونه مو مسلح کړل او په هماغه ټکسي کې سپاره شولو، زه له دې ویرېدم چې په لاره کې مو تالاشي نه کړي، تر فروشګاه پورې چاراته ونه ویل چې په مخ دې څوسترګې دي، دې ته وایي دولت!! د مخابراتو وزارت تر څنګ له ټکسي نه ښکته شولو ځادرونه مو له ځان نه چاپېره کړي وو، ښه ډاډه روان ووس، همدا چې د وزارت ورۀ ته نیژدې شولو، زما ملګری بصیر وارخطا شو ماشینه یې په پیره دارانو وچلوله، همدې وخت کې وزارت ته وردننه شولو، ملګرو ته مې وویل چې ملکي خلک که هرچا ووژل زه به هغه کس خامخا وژنم، موږ به کوښښ کاوه چې وزیر ووژنو، ملګرو مې زما خبره ومنله، نور په وزارت کې سره تیت شولو، موږ لا د وزیر شعبه لټوله چې دولتي عسکر راورسېدل، سختې چغې پغې شروع شوې، مامورینو ته مې غږ کړ چې موږ له تاسو سره کار نه لرو، خو له شعبو نه د باندې مه راوځئ، خو چا زموږ خبرې ته چېرته کتل بس ګډوډي شروع شوه، څو عسکر وزارت ته دننه شول یوه شېبه مو له



هغوی سره جنګ وکړ، بصیر سخت ځای کې ایسار و، دواړو خواوو نه محاصر، شوی و دالېز نه د تېښتې لار هم نه وه، نور نه یم خبر چې بصیر ځان وویشته او که عسکرو، تقریباً ډېر وخت مو ډزې سره وکړې، دې کې درې واړه ملګري یو ځای ته راټول شولو، او عسکر مو له وزارت نه وویستل مامې ملګرو ته وویل چې تاسو د بام له لارې ځانونه وباسئ زه ورته پاتې کېږم، خو هغوی راسره ونه منله، داود ویل چې ته او اجمل وتښتئ زه ورته پاتې کېږم، بلاخره همدا سې مو وکړل، څکه چې بله چاره نه وه او بله دا چې دوی کې یو هم په کابل ښار کې بلد نه و، زه او اجمل چې کله بام ته وختو ګورم چې هیڅ لاره نشته، بېرته ښکته شولو، په منډه یوې شعبې ته ورننوتو ګورم چې ټول د مېزونو شاته پراته دي، دوه کسان مې ترې راپورته کړل، هغوی فکر کاوه چې وژنو یې په کراره مې ورته وویل چې موږ له تاسو سره خپلې جامې بدلوو، خو هغوی نه منله، هغه یو ته مې د پښو په منځ کې په لغته ورکړ، بې اختیاره یې چیغې کړې، او په منډه یې د شعبې په منځ کې راسره جامې بدلې کړې، ښې لوکسې دریشۍ وې، شعبې نه راووتو او شعبه مې له باندې نه پسې بنده کړه، داود ته مې ویل چې موږ ته لار صافه کړه، داود ښه وړاندې لاړ، موږ هم ورسره مرسته وکړه، همدې کې ما او اجمل دوهم پوړ ته ښکته شولو، داود په دربېیم پوړ کې پاتې شو، ټوپکې مو دزینې لاندې کېښودې دیوې شعبې ورمې خلاص کړ، مامورینو ته مې ویل راځئ چې لاره صافه شوه، دې کې ټولو رامنډه کړه ما یوه میرمن له لاسه ونیوله او اجمل یو بوډا امامور، دومره بوډا هم نه و خو سخت وېرېدلی و، ګورم چې دوهم منزل ته یې له دباندې خوانه دلرګیو زینه ایښې او مامورین ترې ښکته کوي موږ هم همدې ځای ته ځانونه برابرول، د عسکرو په مرسته ټول ښکته شولو، خوما بیا هم هغه ښځه کلکه نیولې وه سختې دعا ګانې وکړې، خوځینو مامورینو یو ډول راکتل او یا به ما داسې احساس کاوه، سړک نه هاخوا ګورم چې ډلې ډلې ژورنالستان ولاړ دي چاسره غټې او چا سره وړې کامرې په لاسونو کې وې او عکاسي یې کوله، نورما او اجمل یاالله کړل.

===

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې خبر شوم نو سمه کودتا شوې وه، خو د عامو خلکو په وژلو سخت خپه شوم، کله چې زما له ژوندي راوتو نه مشران خبر شول، بې شمېره تلیفونونه راته راتلل، ډېر خو مې پکې نه پېژندل، خو خان لالا راته ویل چې د هر ملګري په خوله کې ستا نوم دی، خو زه به یو ډول د وجدان عذاب ځورولم، ځکه په ماکې اوس هغه پخوانۍ عاطفه، رحم او احساس نه و پاتې، ځان راته قاتل ښکارېده، کله به په خوب کې خلکو له ګرېوان نه نیولی وم، کله به په دوزخ کې وم، هغه شپه مې هېڅ کله نه هېرېږي، چې په خوب کې مې د قیامت ورځ وي، ټوله دنیا تپه تیاره وي، زه په منډه قران شریف ګورم چې آیا ټکي خویې نه دي الوتي، کله مې چې قران کریم وکوت ګورم چې پاڼې یې تکې سپینې دي، له خولې مې سخته چغه ووته، ور سره ویښ شوم پوره یو سات مې زړه ځای ته نه راته، خو کله به مې چې ماشومان، میرمن، پلار، مور، خور را یاد شول، زړه به مې غوښتل چې هم ځان او هم هغه کسان چې په دې مردار دولت کې کار کوي، ټول له څېرمه ووژنم، دا درد هغه څوک درک کولی شي چې انسان یې وژلی وي، ټول ژوند کې به ارامه ورځ او شپه ونه لري، ځکه موږ په خپل قران او دین ایمان لرو او زموږ په دین او قران کې وایي چې د یو کس بې ګناه وژل د ټولو انسانانو وژل دي، خو بیا زموږ مشرانو ویل چې دې وخت او شرایطو کې که د کفارو تر څنګ څو بې ګناه خلک هم ووژل شي پروا نه کوي، هغوی به شهیدان شي.

همدې ورځو کې مې مېرمن سترګو ته کېده، دا وخت ان کندهار ته عملیاتو لپاره تللی وم، ځکه چېرته چې به تکنیکي عملیات وو زه یې ورته لېږلم، له عملیاتو نه وروسته خپل مرکز یانې سپین غره ته راغلم، شل کسان مې له ځانه سره واخیستل او د شپې یوولس بجې خپل کلي ته راورسېدم، اوښي ته مې زنګ وواهه، ورته مې وویل چې د وره شاته ولاړ یم، هغه په منډه راغی او دروازه یې خلاصه کړه، څه ملګري مې په حجره کې کېنول او څه د باندې پیرې ته ودرېدل، زه د ننه کورته لاړم، ټولو سره مې ستړې مشې وکړه، د مېرمن پوښتنه مې وکړه، د خواښې سترګې مې له اوښکو ډکې شوې، پسې خسر اوښو ټولو په ژړا شروع وکړه، ما داسې فکر وکړ چې ګوندې مېرمن مې مړه شوې ده، دې کې مې خواښې له لاسه ونیولم او خپلې خونې ته یې بوتلم، خونه کې لاټین لګېدلی و، ګورم چې مېرمن مې په کټ پورې تړل شوې، ویده ده، خواښې مې ویل چې ټوله ورځ خپل ماشومان غواړي، یو ډول حمله پرې راځي، هر ځای کې چې وي لوېږي، مخ، وېښته شکوي، زړه مې غوښتل چې چغې ووهم خو د سترګو اوښکې مې پټې نه شوې کړای، بې اختیاره اوښکې مې له سترګو روانې وې، د سلګو په اواز مې خسرا او اوښی له بلې خونې نه راغلل، خسر مې په غېږ کې ونیولم، نور مې طاقت ونه شو، له خولې مې داسې چغې ووتې چې میرمن مې ور سره په وارخطايي ویښه شوه، غوښتل یې چې له ځایه پورته شي، خو نه شوه پورته کېدای، ځکه چې کلکه تړل شوې وه، د کټ په بازو کېناستم، پړی مې خلاص که، ښه شېبه یې راته کتل نا څاپه یې له ګریوانه ونیولم. په چغو چغو یې خپل ماشومان غوښتل، خسر او خواښې مې کلکله کړې وه، د هغې له چغو ژړا او د ماشومانو له غوښتلو سره ټولو په ژړا شروع وکړه، همدې وخت کې بې هوښه شوه، نور مې حوصله ختمه شوې وه. په منډه له خونې ووتم، ښه شېبه مې وژړل، زړه مې یو څه سوړ شو، په رښتیا چې ژړا کله، کله انسان ته تسکین ورکوي او زړه ورسره سپکېږي، زه په دې تمه راغلی وم چې یو څو شپې دلته خپلې میرمنې سره تېرې کړم، کېدای شي زما په لیدو یې حالات یو څه ښه شي، خو زما لیدلو یې زاړه زخمونه بېرته تازه کړل، چې زه یې هم ډېر خپه کړم، خو د هغې حال مې چې ولید، د زغم وړ راته نه و، اوښي ته مې په قهر وویل چې تا خو به په تلیفون کې ویل چې له پخوانه یو څه ښه شوې؟

هغه په عاجزۍ وویل: نو ما به درته څه ویلي وای.

خسر مې راته وویل چې نه په افغانستان کې ډاکټر پاتې او نه هم په پاکستان کې، نه مو کوم ډاکټر پرایښی او نه هم کوم زیارت، ډاګټران وایي چې دا په ژور خپګان اخته شوې ده.

- نو څه وخت پورې به داسې وي، ډاکټران وایي چې نه ښه کېږي؟

خوسر مې په نهیلي انداز وویل: ډاکټران وایي دا ناروغي یو څه وخت دوام کوي، خو که هندوستان ته یې بوځئ نو ژر به ښه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه دلته په دې تمه راغلم چې اعصاب مې یو څه ارام شي، مېرمن مې وګورم، ښه شوې به وي، خبرې به ورسره وکړم او خپل غمونه به ورسره وژاړم، خو خبر نه وم چې دا ځای هم راته دوزخ کېږي، میرمن مې په دې حال نه شوه لیدلی، هغې له مانه خپل ماشومان غوښتل، هغه ماشومان چې اوس یې هډوکي هم خاورې شوي وو.

اوس راسره د پیسو څه کمی نه و او نه مې د پیسو لپاره بېل او کلنګ واهه، اوس مې د سر په بیه ګټلې ځکه خو ډېرې وې، ما له ځان سره پینځه لکه کلدارې د مېرمنې د دوا دارو لپاره راوړې وې، کنه پیسې راسره ډېرې وې؛ خو په کرمې کې مې له یو ملګري سره امانت ایښې وې، حجرې ته لاړم ملګرو ته مې وویل چې زما پیسې پکاردي، نه پوهېږم چې پینځلس کسان وو او که شپاړس، څوتنه چې د باندې ولاړ وو هغوی ته مې څه ونه ویل ځکه چې دولس لکه له دوی سره برابرې شوې، دوه لکه مې بېرته ورکړې، لس مې ترې واخیستې، خسر ته مې ورکړې، ما وې که نورې پیسې دې پکار وې زنګ راته ووهه، خدای په اماني مو سره وکړه ، مخ په غره روان شولو او هغه ځای ته کرمې ته لاړم.

ډېره موده په کرمې کې پاتې شوم، بیا څه وخت وروسته کوټې ته له څو نورو مشرانو سره لاړم شاوخوا دوه میاشتې هلته پاتې شولو ، هغه ځای نه میرام شا ته لاړو ، میرام شا کې مو همدا اوله شپه وه چې امریکایي بې پیلوټه الوتکو زموږ په کلا بمونه وغورځول، په اول بم ټول راویښ شولو دوهم سره بیا نه یم خبر شوی.

دا چې په موږ څومره موده تېره شوې وه نه وم پوه، چې لږ لږ بیدار شوم، پوزې کې مې پیپ تېر شوی و ، خلک مې لیدل چې ښکته پورته ګرځي راګرځي خو څېرې یې راته سمې نه ښکارېدې، زړه مې غوښتل چې خبرې وکړم ، هر څومره کوښښ مې چې وکړ ژبه مې نه چلېده، ټول وجود مې داسې و لکه زما چې نه وي، سترګې راباندې درنې وې، کله به په هوښ وم او کله به بې هوښه، ملګري به راته راتلل، خبرې به یې راسره کولې، میوې یې راوړې، خو زه داسې وم لکه بت، ټول وجود کې مې یوازې سترګې زما په واک وې چې کله، کله به مې ملګروته پرې کتل، بس کله په هوښ او کله بې هوښ



وخت تېرېده، یو وخت داسې هم راغی چې خبرې مې وکړې او کلاره په خپلو پښو وګرځېدم، خو دا هرڅه په کم وخت کې ونه شول، له ډېرې مودې وروسته پر ته له لرګیو وګرځېدم، د ژوندي پاتې کېدو هیله مې نه وه، خو خدای پاک یې چې ونه غواړي هیڅ قدرت څوک نه شي وژلی، په هغه بمبارۍ کې یو زه او یو تن بل ژوندي پاتې وو ، نور څلورویشت کسان د خان لالا په ګډون ټول وژل شوي وو ، خو زه داسې ټپي شوی وم چې ان تریو کال پورې پخواني حال ته رانه غلم، ځکه پلی مزل مې نه شو کولی، له جګ ځای نه مې ټوپ نه شو اچولی، خو پخوا تر ټپي کېدو داسې وم لکه پړانګ، که څه هم چې ډېره موده له نظامي دندې لرې پاتې شوی وم او عمر مې پوخ شوی و ، خو په لږ وخت کې مې ځان بېرته جوړ که.

اوس چې مې ځان ته کتل ډېر وخت ته مې اړتیا درلوده، ځکه زموږ لویه ستونزه دا وه چې ټپیان مو روغتونونو ته نه شو وړای، ځکه د پاکستان حکومت څو واره زموږ ناروغان له روغتون نه زندانونو ته بیولي وو.

زما د ناروغۍ په دوران کې د افغانستان د ولسمشرۍ انتخابات هم وشول، خو زموږ خبرې او روغه جوړه لا نه وه شوې، دقیق مې یاد ته نه راځي چې زما د ناروغۍ به څومره موده کېده، خو کله چې زه د وروستیو ماعیناتو لپاره کوټې ته لاړم، له نیکه مرغه معاینات مې ټول مثبت راووتل، هغه اند ښښي چې ما د ځان په هکله کولې ټولې غلطې وې، ما به ویل چې ښه پوخ عیبي شوم، ډاکټرانو راته وویل چې زه باید ورزش وکړم، چې وجود مې وغوړېږي، ما هم ناراستي ونه کړه، په هماغه ورځ مې د (باډي بیلډنګ) په کلپ کې ځان داخل کړ، پوره دوه میاشتې مې په کوټه کې تېرې کړې، هلته هم زموږ بلا ډېر مرکزونه وو ، چې په هر مرکز کې زما ډېر قدر کېده، په همدې شپو ورځو کې پوه شوم چې نوی ولسمشر نه غواړي چې له موږ سره روغه جوړه وکړي، زموږ مشران سخت په قهر وو ، ځکه خو یې خپلو بریدونو ته زور ورکړی و او له بلې خوا زموږ مشرانو په داسې پلان باندې خبرې کولې چې افغان ولسمشر په یو ډول نه یو ډول له مخې لرې کړي، فیصله په دې وشوه چې ولسمشر باید ووژل شي ! ځکه، سره له دې چې موږ سره یې د خبرو مخالفت کاو ، د افغانستان ټولو پښتنو ته یې د ترهګر په سترګه کتل ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په دې پښتنو کې ریښتوني ترهګر هم لکه زما دوی جوړ کړي و، د هغې وخت سیاسي شنونکو به ویل چې دوی پخپله غواړي چې عکس العملونه راوپاروي او خپل دښمن غښتلي وښیي، چې تر ډېره په سیمه کې پاتې شي او د رقیبو هېوادونو په منځ کې خپلې ګټې خوندي کړي، ځینو پخوانیو ډلو، ګوندونو او نورو بهرنیو هېوادونو هم لاسوهنې کولې، دوی چې زمونږ ټولو وژل غوښتل او په خپل کور کې یې له مونږ سره جګړه او په مونږ تېری کاوه، ددې حقیقت نه نه وو خبر چې دوی باید څومره انسانان ووژني، دوی چې څومره خلک وژل د دوی دښمنان لا زیاتېدل، په دومره تعداد کې خلک وژل خو د قتل عام په مانا راځي، دا ولسمشر هم د غربیانو لخوا راستول شوی او ددوی ایجنټ و، چې د همدوی د ګټو لپاره یې کار کاوه، هغه ټول پښتانه القاعده او طالبان ګڼل، د دولت دا ډول سلوک پخپله زمونږ لیکې مضبوطې کړې او د جنګسالارانو او ورانکارو نه جوړ دولت ورځ تر بلې بدنامېده؛ پخوا داسې پرېکړه شوې وه، چې په واک کې به زموږ پوره ونډه وي او زموږ څه نور شرطونه یې هم منلي وو، لکه د بهرنیانو د وتلو مهال وېش او داسې نور، خو دې ولسمشر هر څه له منځه یوړل.

په هر صورت، دا چې دوی څه ډول پرېکړې ته ورسېدل زه ترې خبر نه وم، بس د مشرانو پرېکړه زمونږ پرېکړه وه، زه او زموږ درې مشران کرمې ایجنسۍ ته لاړو، ملګري مې په لیدو سخت خوشاله شول، میلمستیاوې راته جوړې شوې، پسونه راته حلال شول، باندارونه مو سره وکړل، خو زموږ د خوښۍ شېبې به ډېرې لنډې وې، هره ورځ به د یو یا هم ډېرو ملګرو د وژلو خواشینوونکي خبرونه راتلل، زما چې څنګه نږدې خپلوان ووژل شول، همداسې مې یو یو نږدې ملګری هم له لاسه ورکړی دی، ما به هم هر مازدیګر تر ماښامه له ځان سره لکه لېوني ګوتې شمارلې، چې یو ډول روحي ستونزه یې راته پیدا کړې وه، په ډېره وړه خبره به هم ډېره غوسه راتله.

یوه ورځ زه او منصور چې تازه له هلمند نه راغلی و، زما د خوښې ځای په شنه غره کې سره ناست وو، چې ما ته له مرکز نه زنګ راغی، په بیړه کلي ته ښکته شولو، مرکز ته چې دننه شوم، دلاور راته وویل، چې د غونډې خونې ته لاړ شم، کله چې خونې ته ننوتلم ګورم، چې زموږ لس دولس مشران سره



ناست دي او د کسانو نومونه لیکي، ډاکټر مولوي صیب راته وویل، چې موږ تا ته یوه له خطره ډکه وظیفه درسپارو، پلان جوړ دی یو څه کسان یې هم انتخاب کړي وو، ویل یې چې نور کسان ته په خپله انتخاب کړه، ځکه له موږ نه تا ته ښه مالوم دي چې څوک د کار سړی دی!! دا یې هم وویل، چې د اړتیا په وخت کې مناسب تغیرات په پلان کې راوستلی شم، ډاکټر مولوي صیب ویل چې زموږ هدف د ولسمشر وژل دي، نور ته په خپله پوهېږې، خو چې څوک درنه ژوندی ونه نیسي او نه هم څوک سهوه او خطا وکړئ، ویل یې چې د اړتیا وړ هر څه ته مو چې ضرورت وي، په ننګرهار کې تاسو ته اماده کېږي او هره شېبه له مرکز سره په تماس کې اوسئ، نور یې راته وویل چې ته ځه او خپل ګروپ جوړ کړه، دا پلان به تاسو سره یو راز وي، هیڅوک حق نه لري چې بل کس خبر کړي، که هغه هرڅوک وي.

په همدې ورځ مې خپل پینځه کسیزه ګروپ اماده که، چې یو پکې منصور هم و، ټول مې د غونډې ځای ته راوستل ډاکټر مولوي صیب هلکانو ته ویل چې توریالی مو د ګروپ مشري په غاړه لري، تاسو یې د هرې خبرې اطاعت وکړئ او که هرچا نا فرماني وکړه د مرګ سزا لري، د ټولو پر وړاندې یې قسمونه راکړل، دُعا مو وکړه او له کلا نه ووتو، سبا سهار مو ږیره، برېت او وېښتان جوړ کړل پکولونه او لنګۍ مو لرې کړې او مخ په ننګرهار مو حرکت وکړ.

مونږ خبر و چې ولسمشر له نورو چارواکو سره ننګرهار ولایت ته راځي، او په سراج العمارت کې به یوې لویې غونډې ته وینا کوي.

موږ په قصبه کې یو کور درلود چې زمونږ مرکز و، زموږ ملګري پکې اوسېدل چې زمونږ دې ملګرو به مونږ ته دلته د خوراک او اوسېدو ښه بندوبست کاوه، زه او منصور په سپینه کورولا کې سپاره شو، د سراج العمارت تر څنګ د سپین غر هوټل په دویم منزل کې مو د لسو ورځو لپاره دوه اطاقه په کرایه کړل، د سپین غر له بام نه د سراج العمارت بڼ لږه سیمه ښکارېده، خو د احتیاط لپاره مې د حاجي قدیر د هوټل بام هم په نظر کې ونیو، که له هرځای نه ښه په ښه ښکارېدهٔ، هماغه ځای نه یې ولو، خو لا مې د حاجي قدیر هوټل کې ځای نه و یقیني کړی، یو کس مو باید په غونډه کې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وای چې موږ ته یې کوردینات راکړي وای، په سراج العمارت کې ډېرې ونې دي، چې د سپین هوټل خوانه او د حاجي قدیر هوټل خوانه یې زمونږ یو څه مزاحمت کاوه، خو بل داسې ځای نه و چې موږ ترې برید کړی وای، زما ځای (سپین غر هوټل) یو څه په امن کې و او د تېښتې لار یې هم درلوده، خو د حاجي قدیر هوټل ډېر رسوا ځای کې و، نه بام ته د پورته کېدو لاره وه او نه هم د کوزېدو، خو فیصله مو په دې وکړه چې هر ډول کېږي باید یو کس په دې هوټل کې د ګارسون به توګه ومنل شي، جلال مو ورته ولېږه خو بېرته خواشینی راغی، سخت په قهر و، کنځلې یې ورته کولې، ګواښونه یې کول چې اول هغه کس وژنم، ملګرو پرې سختې ملنډې ووهلې چې ته خو ان د ګارسونۍ لیاقت هم نه لرې ځکه خو یې ونه نیولې، دې کې مې مرکز ته خبر ورکه او خپله ستونزه مې ورته وویله، هاخوا نه خبر راغی چې یو بل کس ورته ولېږم، همداسې مو وکړل، (نورسید ) مو ورته ولېږه، داځل جلال ته وخت په لاس ورغی دومره ملنډې یې پرې ووهلې چې ټول له خندا ورته شنه وو، هلته به پرې څه څه کارونه وکړي، د لوښو وینځل، د میزونو پاکول، دالوګانو او پیازو سپینول، ځکه د غونډې جوړېدو ته شپږ ورځې پاتې وې او دا شپږ ورځې به هغه د ګارسون دنده ترسره کوله، په رښتیا چې همداسې وشول، ماسخوتن به غوړې جامې کورته راننوت، ځو چې به ویده کېده هلکانو به پرې ملنډې وهلې.

غونډې ته یوه رځ پاتې وه، (نور سید ) ته مې وویل چې ټوپک په څه ډول هوټل ته وړو، کوم ځای دې ورته انتخاب کړی؟ دې کې له خنداشین شو، وې که څو ورځې نور هم دلته پاتې شم، نو د هوټل منیجر به شم، ټول مې په ځان رامات کړي، نور سید ویل د بام په سر د اوبو یوه غټه (ډیګۍ) ده، څنګ کې یې یو غټ جنراتور ته څپره جوړه کړې، همدا ځای زما انتخاب دی، ما ورته وې چې نور په خپله ښه پوهېږې ځکه چې اوس نو د هوټل په هره کوټه کې بلد یې.

نه یم خبرچې نورسید به څه ډول ټوپک هوټل ته وړی وي؛ ما خپل ټوپک د موټر شاته سیټ لاندې کېښود او سپین غر هوټل ته مې یوړ، دا نو

ولسمشر ما وژلی ارش ننګیال

هغه ورځ ده چې په سبا یې غونډه ده، ځوورځې وړاندې د باغ امنیت نیول شوی و، خو موږ ته بې تفاوته وه.

جلال آباد هسې هم د امن په کور مشهوردی، دلته به د طالبانو او یا هم ځان مرګي وېره له خلکو او دولت سره نه وه، زه د شپې په هوټل کې پاتې شوم او هغوی ټول په کورکې وو، جلال ته مې دنده ورکړه چې له غونډې د باندې له یو موټر سره د پوهنتون روغتون سره ودرېږي، او د اړتیا په وخت کې به له موږ سره مرسته کوي او هر یو دې دلته ځان را رسوي، نورسید د حاجي قدیر هوټل ونیو، منصور په مرکز کې مخابرې ته پاتې شو چې موږ ټول له یو بل سره په تماس کې وساتي، د ټولو په غوږونو کې باید ګوشکۍ وای، او یعقوب ته مې په غونډه کې دنده وروسپارله چې له هغه ځایه موږ ته مالومات راکړي.

د سهار په نهه نیمو بجو غونډه پیل شوه، زښت ډېر خلک ورته راغلي وو، مشران دننه په څوکیو او کوچونو ناست وو او عام خلک بېچاره ګان له باغ بهر د پنجرو شاته لکه بندیان ولاړ وو او د غونډې ستېج ته یې سرونه پورته پورته کول، د ننګرهار ټول دولتي چارواکي په غونډه کې ناست وو، یعقوب لا وخته غونډې ته ننوتی و، هغه نیم ننګرهار سره بلدتیا درلوده، ډېر وخت یې په همدې ښار کې تېر کړی و، هغه ویل چې ورور یانې ولسمشر په الوتکه کې ننګرهار ته رارسېدلی دی، لکه چې نیژدې دی، ما په نورسید غږ که.

-نورسید ه بیدار شه

هغه ویل: زه هوټل کې ناست یم، کله چې راغی نو بیا به ځان ورک کم او پورته به د هوټل بام ته وخېژم، پینځه واړه اماده وو، لږه شېبه وروسته نورسید غږ که چې وروړله موټرو سره د هوټل له مخې نه تېر شو، لکه چې په لویې دروازې باغ ته دننه کېږي یانې په جنوبي دروازې، چې عمومي سړک خوا ته ده، ماله ټوپک او یوې کمبلې سره ځان بام ته ورساوه، نورسید ویل چې زه بام ته لاړم

دې کې یعقوب غږ که: ورور غونډې ته راورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه په بام پړمخې څملاستم او په ځان مې هغه کمپله خوره کړه، چې چا ته ښکاره نه شم، په پروت د بام څوکې ته لاړم، د ټوپک په دوربین کې مې کتل خو څوک راته نه ښکارېدل

په یعقوب مې غږ که: ما ته نه ښکاري.

هغه ځای نه (نور سید ) په قار غږ کړ: تورنه ! ته ملنډې وهې، دې ځای نه هیڅ شی هم نه ښکاري.

غونډه د ماښې مخ ته جوړه شوې او د نور سید زړه و چې د حاجي قدیر هوټل نه یې ووینې.

په قهر مې ورته وویل: دیوانه ! ستا یې په دې ځای څه کار دی، هغه له غونډې وروسته ستا خوا ته درځي او له هغې دروازې نه د ولایت قصر ته ورځي، دا څو وم وار دی چې درته یې وایم که ما نه ختا شو نو ستا خوا ته خو درځي، ته دوهم یې اول باید ما ته ښکاره شي او دادی اوس زه مخامخ ستېج او شاوخوا فضا یې ښه وینم.

پوه شو چې زه په قهر یم په کراره یې وویل: ښه ښه ، سمه ده سمه ده .

هاخوانه منصور پرې غږ که: دېوانه اوس غلی شه.

یعقوب غږ کړ: که چېرې وروړ ستېج ته پورته شي نو زه فکر کوم چې تا ته به ښکاره شي، که څنګه؟

- هو ستیج راته لږ څه ښه ښکاري خو سمه نه.

غونډه روانه وه، هر کس چې به پورته شو خپل صفت به یې کاو، یا به یې د ولسمشر صفتونه کول او یا به یې خپلې ستونزې ویلې، ساعت ته مې چې کتل نو یوولس بجې وې.

دې کې منصور او نورسید سره و نښتل، نورسید ویل چې زما خو دلته خوب راغي، هخوا نه منصور ورته کنځا شروع کړې.

دې وخت کې د ننګرهار والي له خبرو خلاص شو او نطاق ولسمشر ستېیج ته راوغوښت، ټول ناست خلک ورسره پورته شول.

یعقوب غږ کړ: وروړ ستېیج ته روان دی، دادی نژدې شو ،

ماځان راجوړاوه، چې یعقوب غږ که

- تورنه ! غږ یې اورې؟



- هو یو اړخ یې راته، لږ ښکاري خو زما مخ ته ډېر کسان ولاړدي، دا څوک دي؟

- یو نطاق دی، هغه نور به څوک وي...لکه چې باډیګاردان یې دي.

داسې قهر راغی چې څه ووایم، کله مې زړه غوښتل چې اول له همدوی نه خرپ تېر کم، بیا به مې ویل که ما نه ختا شي نورسید خو شته.

ټول ددې په تمه وو چې اوس به د ولسمشر په لور سرې مرمۍ وورېږي او غونډه به ګډه وډه شي، ټول چپ شول، زه یو څه ووېرېدم، ما فکر وکړ که زمونږ اړیکه سره پرې شوه، په قهر مې غږ که:

- مړه شوئ ! ! ولې غږ نه کوئ؟

یعقوب غږ کړ: څه ووایم دله ګان ترې چاپېره ولاړدي.

ما ورته په ځواب کې وویل، چې زه اول د مخې کس ولم بیا ولسمشر.

هاخوانه دېوانه غږ که: هو ، ویې وله، هغه به درته هلته ولاړ وي، چې تورن صیب مې وولي.

دې خبرې سره ټول په خندا شول.

پسې جلال غږ که: تورن صیب دا لېونی درته رښتیا وایي، لږه ګوزاره کوه، موږ لا په همدې مشورو کې وو ، چې ولسمشر د عادت خلاف ژر له ستېیج نه ښکته شو.

نور مې زړه طاقت نه کاوه، ما وې وچاودلم، ځکه دا زما ناکامي کېده.

دې کې یعقوب په وارخطا یۍ غږکړ:

-(نور سیده) ! تا خوا ته دروان دی.

نورسید باندمې نارې کړې

- نورسیده ! اماده یې؟ درته ښکاري؟

-کله ښکاري، کله نه ښکاري.

- دا څه د لېوانیانو خبرې کوې؟

- مخ ته مې د نارنجو ونې دي، که مخکې لاړ شم، عسکر مې وینې، خو یو کار خامخا کوم.

دې وخت کې له ځایه پورته شوم، غوښتل مې ورته ووایم چې پورته نه شې، چې پولیس شاوخوا ولاړ دي، کېدای شي ودې ویني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غږیې کړ:

- څوک بام ته راپورته کېږي، زه نور صبر نشم کولی، اوس یې باید وولم.

چې ناڅاپه ډزې شوې، پسې د خلکو چغې پورته شوې، ډزې ډېرې شوې.

یعقوب ویل: دېوانه ډزې وکړې

ما په دېوانه غږ کړه: مه مه مه کوه

همدې سره ډزې په ګوشکیو کې ډېرې نژدې راغلې.

دې وخت کې یعقوب غږ کړه:

- نورسید یې وویشت؟

همدې خبرې سره مې غوږ ته د ځګېږویو اواز راغی، خو ډېر ژر غلی شو..ملګرو ته مې ویل، چې ځانونه ځای ته ورسوئ او بې اختیاره مې له سترګو اوښکې راروانې شوې، د هوټل په اطاق کې پرېوتم، دومره مې وژړل چې نور ستړی شوم، نیم ساعت به مې دلته تېر شوی و، چې تلیفون مې وشرنګېد، ګورم چې منصوردی، ویل یې چې دېوانه خو کار کړی، ولسمشر یې ویشتی دا چې روغ دی او که مړ، مالومه لا نه ده، له دې خبرې سره د نورسید غم لږ کم شو، ماوې که د ولسمشر په مرګ په موږ کې یو یا دوه هم مړه شي کومه خبره نه ده، خو چې بې ځایه راکې څوک مړ نه شي، ټوپک مې خلاص که، په موټر کې مې ځای په ځای که، نور په موټر کې خپل ځای ته روان شوم، کله چې ورسېدم ګورم چې درې ما سره راغلي ملګري او دوه ځایي ملګري په خونه کې ناست دي او ژاړي، دېوانه زموږ د ډلې مالګه او مرچ و، هغه په ټولو ګران و، ما هم ځان ټینګ نه شو کړای، هر یو په وار غاړه کې رالوېده او ژړل یې، یعقوب نه مې د کیسې پوښتنه وکړه، هغه وویل، ولسمشرد خلکو په منځه کې روان و، د لارې شا وخوا ته کتار ونې ولاړې دي، کله چې ونې خلاصېږي د باغ تر دروازې پورې تقریباً پنځوس متره کې ونې نشته، کله چې ولسمشر همدې ځای ته ورسېد، نورسید یو وار په بام ودرېد او ډزې یې شروع کړې، سمدسي ورباندې له شا وخوا نه زربې شروع شوې، همدې وخت کې یې دوه، درې نورې ډزې هم وکړې او همالته ولوېده، ولسمشر مې ولید چې په ځمکه پروت و، والي او څو نورو کسانو ورنه تاو



شول، زما ډېر یقین راغی چې ولسمشر ولګید، بیا نو سیمه محاصره شوه او خلک ټول سره خواره شول، بس خپل لیونتوب یې وکه.

زه د یعقوب په خبرو کې وورلوېدم: هغه لېونی هم مجبور و، ما واورېدل چې ویل یې څوک بام ته راخېږي، چې د پښو اواز یې اورم، کېدای شي کوم پولیس بام ته ورختلی وي.

یعقوب ځواب راکړ: هغه ویل چې په دې ورځ په هوټل کې یو زه او یو بل ملګری را سره دی.

ما یې په ځواب کې وویل: نو بیا خو خامخا پولیس بام ته ور ختلی دی.

بیا مې ډاکټر مولوي ته زنګ واوهه، همدا چې زموږ د ناکامۍ مې ورته وویل، سرې په قهر شو

- تورزنه تاخو غورې کولې چې پلان سل په سلو کې کامیاب جوړ شوی دی، تا باید ځان وژلی وای، ته له هغو ځوانانو نه چې ځان پورې بم تړي څه زیات یې، تاسې باید دلته د خپل عمل ځواب ووایئ.

له دې سره یې تیلیفون بند که، د ډاکټر مولوي خبرو مې په غوږونو کې ازانګې کولې، ځان راته ډېر وړوکی او ناتوانه ښکاره شو، کله مې چې د ډاکټر صیب خبره ملګرو ته وکړه هغوی هم ډېر خپه شول، د تګ تابیا مو ونیوله، خو کله مې چې د جلال اباد وضعه کتله سختې تالاشي ګانې روانې وې، ما مناسبه نه ګڼله چې تر دوو درېوو ورځو دې له کوره ووځو.

کله چې د راډیو له لارې خبر شو نو ولسمشر په ښې لاس ټپي شوی او یو وزیر یې وژل شوی و، دا نو داسې پېښه وه، چې ټوله نړۍ یې وخوځوله، په هرې راډیو او په هر تلویزیون کې ددې پېښې په هکله بحث کېده.

په هر صورت، له هغې پېښې نه درې ورځې وروسته ماښام مو په سمه لاره کلي یانې، شېرزادو ولسوالۍ ته حرکت وکړ. له ټپي کېدو نه راپه دېخوا چې په کوټه کې مې اخیري معاینات وکړل، له کور نه، نه ؤم خبر، اوس نو کلي ته روان وم، چې د خپلې مېرمنې خبر واخلم او پوه شم چې په هندوستان کې یې تداوي شوې او کنه، ماښام چې مو حرکت وکړ، شا وخوا نهه بجې به وې چې کلي ته ورسېدو، ملګري مې په حجره کې کېنول او زه کور ته دننه شوم، زما په لیدو خواښې خسر مې ډېر خوشاله شول، هغوی فکر کاو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوندې زه وژل شوی یم، ځکه ډېره موده یې زما په هکله کوم خبر نه درلود، مېرمن یې چې راته هند ته وړې وه، دارو دوا یې ورکړې وه، ډاکټرانو ورته ویلي وو چې دوا ورته په خپل وخت ورکوئ، ځینې درمل یې باید د څو کلونو لپاره خوړلي وای، خو، خوابښې مې یو څه خوشاله وه، ویل چې له پخوا نه لږه ښه شوې ده، کله کله رکه روغه شي، ستا نوم اخلي او کله د ماشومانو، خو همدا چې ماشومان ونه ویني نو بېرته بې هوښه کېږي او یو ډول چپې پرې راځي، ځان وهي، خپل ویښته شکوي، خو ډاکټرانو ویلي وو چې ښه کېدو ته یې ډېر وخت ته اړتیا شته.

چای او ډوډۍ مو وخوړل، زما زړه و چې د غرونو له لارې خپل مرکز یانې کرمې ته لاړ شو، خو ملګري مې چندانې روغ نه وو، دوه ورځې کېدې چې د جلال معده خرابه شوې وه، موږ ویلي ګوندي ښه به شي، خو دلته یې ناروغي لا پسې ډېره شوه، ملا اذان مو جلال اباد ته حرکت وکړ، هلته مو په ډاکټرانو باندې معاینه وکړه، پای کې مالومه شوه چې امیب لري، په دې ورځ مو تګ ونه شو، بېرته پخواني ځای قصبې ته لاړو، په همدې شپه له مرکز نه راته د ډاکټرصیب زنګ راغی، ویل یې چې بس نور راستانه شئ، په سبا سهار د تورخم په لار روان شو، همدا چې کارخانو ته ورسېدو، پولیسانو و نیولو، له واره یې جلال ته وویل: -څنګه یې پوډري؟

دې خبرې سره موږ ټول په خندا شو، یو وار پولیس په قهر شو او په کنځلو یې شروع وکړه، کله خو مې زړه ویل چې همدلته یې را چپه کړم، خو بیا مې حوصله وکړه، لکه چا چې ورته ویلي، همدا یې ویل چې تاسو دماکو ته راغلي یئ، په تانه کې به سره ګورو مخکې شئ، دې کې منصور ورته په خندا وویل:- مړه هېڅ خبره نشته، هسې دې پیسو ته چل جوړ کړی.

دې خبرې سره پولیس نور هم په غوسه شو، دې کې یعقوب ورته په اوږو لاس واچوو له موږ نه یې لرې بوته، هلته یې ورته څو روپۍ ورکړې، بس نور نو بیا هیڅ خبره نه وه، بیا ان ترمیرام شا پورې چا راته څه ونه ویل.

===

کله چې مرکز ته ورسیدو، په موږ کې یو هم زړه نه ښه کاوه چې مشرانو ته ځان ورښکاره کړي، په یو چل مې له ځان سره د ډاکټر صیب خوا ته بوتلل،



ډاکټر صیب او نور مشران څنګه چې موږ فکر کاوو هماغسې په قهر وو، خو کله چې له ټولې کیسې نه خبر شول، یو څه په کراره شول، ما ترې یو چانس بل هم وغوښت، او ورته مې وویل چې زمونږ دغه پلان هم څو فیصده کامیاب دی، د یو ناکام پلان په کتار کې یې نه شو ودرولی، دا څو ورځې ټول مطبوعات په همدې خبره لګیادي، هغوی هم دغه حقیقت درک کړی و، او زما خبرو یې لا ماغزه ور خلاص کړل، ما ورته وویل چې که تاسې یو ځل بیا ځان تیار کړئ او یوه بله موقع هم په لاس راکړئ، زه کولای شم چې ولسمشر ووژنم او خپل منزل ته ورسېږو.

ډاکټر صیب غوښتل چې زما توجه راواړوي او دا مسئولیت بیا هم ماته وسپاري

- ستا مسئولیت یوازې او یوازې د ولسمشر وژل دي، ته له دې وروسته نورو کارونو سره کار نه لرې، پلان او عملي کول یې دواړه ستا کار دی، چې مسئولیت یې هم یوازې ستا په غاړه دی، ته باید داسې پلان جوړ کړې چې پلي کېدل یې حتمي وي، مونږ هم درسره پوره مرسته کوو، خو ستا خپله ډله باید تیاره وي، ته دا کار ځکه خامخا تر سره کولی شې چې ته په کابل کې تر نورو ښه بلد یې، رسم رواجونه، دولتي اداري، دولتي مراسم؛ هر څه تاته مالوم دي، خو دا به ستا لپاره وروستی چانس وي، که تا ونه شو کړای ته په دې میدان کې ناکام شوې! بیا به ستا هغه محبوبیت په خلکو کې ورک شي او د یو بې ایمانه کس په نوم به دې خلک وپېژني، خو موږ ټول په دې پوهېږو چې ته دا کار تر هر چا ښه کولی شې، دا یې هم وویل چې ته پلان جوړ که بیا به په ګډه پرې خبرې وکړو، خو داسې پلان چې سل په سلو کې بریالی وي. ما هم هر څه ورسره ومنل.

دلته زما یو عرب ملګری و چې موږ ته به یې بمونه او دا ډول نور وسایل جوړول، په دې کارونو کې یې دومره مهارت درلود، موږ به ورته د فیصل په نامه غږ کاوه، ډېر خوش اخلاقه هلک و، ده او ملګرو ته یې په یوې لویې زېر زمینې کې کارخانه جوړه کړې وه، داسې زېرزمیني وه، چې د بې پیلوټه الوتکو بمونو پرې څه تاثیرنه کاو، څو ورځې د فیصل خواته د پلان د جوړولو لپاره ورغلم، د هغه په مشوره مې داسې پلان جوړکه چې نوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



فیصده بریالی و ، فیصل ژمنه وکړه چې زه درسره مرسته کوم، کله چې مې پلان جوړ شو ، ډاکټر صیب ته ورغلم، ورته مې وویل چې زما پلان جوړ دی، غواړم چې درته تشریح یې کړم، ډاکټر صیب وویل چې نه ددې لپاره باید مجلس جوړ شي او د ټولو مشورې پرې واخلو چې مسؤلیت په ما وتا رانه شي، همداسې یې وکړل، څو ورځې وروروسته یې مجلس جوړ که، ما له ځان سره فیصل هم راوست، مجلس کې ټول ټال یوولس کسان وو ، ما خپل ټول پلان داسې ورته تشریح که:

-زه باید د کابل په راډیو تلویزیون کې وظیفه واخلم، داسې وظیفه چې یو څه صلاحیت هم ولري چې یو یا دوه ملګري په تخنیکي برخه کې هلته له ځان سره مقرر کړم، زه او زما ملګري باید یو څه وخت د راډیو او تلویزیون د تخنیک په برخه کې (ټرین ) شي، ځکه چې کله دولتي جشنونه او مراسم جوړېږي نو ملي راډیو تلویزیون یې تخنیکي کارونه لکه ژوندي نشرات ،کامره، مایک، لوډسپیکر او داسې نور کارونه کوي.،دا مې هم یاده کړه چې فیصل راته داسې ریموټي واړه بمونه جوړوي، چې په مایکونو کې ځای شي، دا بمونه هغه کس ډېر ښه وژلی شي چې مایک ته مخامخ ولاړ وي، یانې د بچېدو امکان یې نشته،کله چې ولسمشرخبروته پورته شي نو همدې وخت کې به بم ته انفجار ورکولکیږي، ریموټ باید د مبایل په شکل جوړ شي چې دا هم فیصل را سره منلې او تر ټولو مهمه یې دا چې په دې ډول چاودنې کې یوائې یو یا دوه کسان وژل کېږي.

دې کې د خبرو وار رانه فیصل واخیست اود بم په هکله یې مالومات ورکړل.

چې که چېرې د بم په یو متر کې څوک ولاړ وي نو کېدای شي چې ووژل شي، خو لرې خلکو ته زیان نه رسوي، زموږ له خبرو وروروسته ډېر بحث وشو ،چې ما او فیصل ورته ځوابونه ورکول، بلاخره پلان په همدې ډول ومنل شو ، خود ځینو نیوکه دا وه چې تر جشن پورې خو ډېر وخت پاتې دی، باید دا کار ژر تر ژره تر سره شي، خو ډاکټر صیب او ځینو نورو بیا ددې پلان حمایت وکړ، هغوی ویل داسمه ده چې ډېر وخت به ونیسي خو په دې ټول



سره باور لرو چې ولسمشر به خامخا وژل کېږي ، دا له هغه پلان نه چې ژرتر سره شي او د ولسمشر د وژلو امکان پکې نه وي ، ډېرښه او منطقي دی.

پای کې زموږ پلان ومنل شو ، ډاکټر صیب په فیصل تاکید وکه چې هرڅه راته چمتو کړي، دایې هم وویل هر څه مو چې جوړ کړل یو ځل یې باید همدلته امتحان کړو ترڅو ښه ډاډه شو ، ما ډاکټر صیب ته دا هم وویل چې په راډیو تلویزیون کې زما د مقرري کار هم په دوی دی، چې دا یې هم راسره ومنله او مجلس پای ته ورسېده.

کله مې چې له ځان سره فکر وکه، ماته او ملګروته مې پکار و چې د راډیو او تلویزیون د نشراتو ، تخنیک او د خپرونو په هکله یو څه مالومات زده کړو ، کله مې چې ډاکټر صیب سره دا خبره شریکه کړه ،هغه وویل چې له هغو دوو نورو کسانو سره پېښور ته لاړ شئ، هلته به تاسو ته هرڅه تیار شي او دا یې هم وویل چې مالي نه پیسې واخلم بیا لاړ شم.

دوه ورځې وروروسته ما ، جمال او یعقوب د پېښور په لورحرکت وکړ، پېښور کې ټاکلي ځای ته لاړو ، هغه ځای نه یو کس راسره مل شو او په ارباب روډ کې یې یوې ښایسته بنګلې ته بوتلو ، چې پرته له یو اشپز او یو تن پیردار نه نور څوک پکې نه وو ، دا زموږ د اوسېدو ځای و ، موږ ته یې دا هم وویل چې له (ایتوار ) نه وروروسته ورکشاپ پیلېږي، کله مې چې ځان په هنداره کې ولید سم دم کلیوال سړی وم، دا راته ښه ښکاره نه شو چې په دې حال دې په صنف کې کېنم، په سبا زه او ملګري مې ښار ته لاړو ، ما او جمال خپل وېښته او ږیره جوړ کړل، یعقوب نه غوښتل چې ږیره کمه کړي، خو هغه د چا خبره په وچ زور مو پرې پټې کړه، خو ما اوجمال بیا ان یو درجه ماشین کړې وه، پسې ښار ته لاړو ، هلته مو افغاني جامې، دریشي، پتلونونه، کمیسونه( یخن قاق ) او بوټونه واخیستل،خو کله چې کور ته لاړو بیا بله تماشه جوړه شوه، یعقوب په ښارکې ویل چې دریشي نه اغوندي، خو ما ځکه ورته واخیسته چې که هر ډول کېږي باید ځان نه ښاری جوړ کړي او دریشي واغوندي، خو کورته چې راغلو ما او منصورچې څومره خواري وکړه، خو یوه خبره یې په خوله کې وه، چې دا د کافرو جامې دي، پو شوم چې نه یې اغوندي زه او جمال بلې خونې ته لاړو او ټولې دریشۍ او پتلونونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



موبیو یوځل واغوستل چې لنډ او ورېده نه وي، خو جمال ډېر ښه ښکاریده داسې لکه شپاړس کلن کابلی زلمی، خو جمال بیا ماته ویل چې په دریشي کې ډېر ښه ښکارې، نه پوهیږم چې جمال په څه شي بوخت شو چې زه د یعقوب خواته لاړم، همدا چې خونې ته ورننوتم، یو وار په خندا شواو ویې ویل: سم انګریز ښکارې، واوا

زما یې هم خندا راوسته، په خندا مې ورته وویل: مولانا صیب ! بدخو به نه ښکارم؟

دې وخت کې شاوخوا رانه تاو راتاو شو اوپه خندا یې غبرګه کړه

_ورکېږه تورنه، هر اندام دې پکې بیل بیل ښکاري شرم دی.

په حیرانۍ مې ورته وویل:نو تا تر اوسه په دریشي او پتلون کې څوک نه دي لیدلي؟

_لیدلي مې دي، خو په دوستانو مې نه لوریږي چې داسې درویشي واغوندي.

دې وخت کې جمال چې کاو بای پتلون یې له شین رنګه بلوز سره اغوستی و ، په خندا خونې ته راننووت.یعقوب یې په لیدو حیران شو په خندا یې په کندهارۍ لهجه وویل:اوهو نانینه الله دې راوله،تانه خو سم ژڼۍ جوړ سوی.

جمال ورته په خندا ځواب ورکه: ظالمه ته خو یې هم یو ځل واغونده، څه ! خیردی، د تورن لپاره یې یو ځل واغونده، اوس یې درته په شوق اخستي،که خوند یې درنه کړ بېرته یې وباسه،څه د زور کار خو نه دی.

دې سره یې له واره خپل کاوبای پتلون چې له نورجامو سره په توشک پراته وو ، راپورته که، موږ یې له خپلې خونې نه د باندې ووېستو ،کوم شل دقیقې وروروسته یې ورخلاص که موږ یې لیدلو ته ډېره تلوسه درلوده،خو ګورم چې له ور نه یې سره راووت.

_وه جماله ته راشه کنه یار.

دې سره موږ دواړو پخ وهل خو ښه و جمال په منډه خونې ته ور دننه شو ، لږ وروسته دواړه له خونې راووتل، ګورم چې یعقوب په خپلې دریشۍ کې سم ورک دی، کورتۍ یې ان په زنګنونو لږېده او د پتلون پیڅې یې ورته بډ



وهلې وې، اوس څوک خپله خندا ټینګه کړي، د دالېز په یو کنج کې جمال له ډېرې خندا کېناست او بل کې زه، دا ځکه چې په ښار کې یې هم له موږ سره لانجه کوله، له موږ نه به لرې ولاړ و ، نور به یې زړه تنګ شوی و ، ما ته خو یې څه نه ویل، یو وار یې جمال سره په جنګ شو دوه واره یې پې وکړل، خو جمال چېرته غلی کېده، بیا مې په ډېر عذر او زاریو هغه کاوبای پتلون له تور اوسپین (بلوز ) سره پرې واغوستل چې ډېر ښایسته ښکاریده، د کاوبای پتلونونو یوه ښېګڼه داده چې هم په زوړ او هم په ځوان کې ښه ښکاري، خو یعقوب بیا ان د شپې هم ورسره ویده کېده، داسې فکر ونه کړئ چې یعقوب بې سواده و او له سره یې ښار نه دی لیدلی، نه ښه پوی هلک و ، په انګریزي، پښتو ، دري او اردو ژبو ډېر ښه پو هېده، خوهغه بیل ډول هلک و.

خیر په دې خبرو به مو سرنه په دردوم، پوره دوه میاشتې مو د راډیویي او تلویزیوني پروګامونو درس وویلو ، لکه کول ایډېټ، پریمیر ، نور اړین د کمپیوټر پروګرامونه، د خپرونو جوړول او داډول ډېر نورکارونه مو هم زده کړل، ډاکټر صیب به هره ورځ زموږ خبر اخیسته، همدا چې کورسونه مو خلاص شول ډاکټر صیب امر وکړ چې زه کابل ته لاړ شم، جمال او یعقوب د اوس لپاره کرمي ته ورولېږم او له ځان سره به هغه بمونه هم کابل ته راوړي، یعقوب په دې خپه و ، چې ږیره مې پرې کمه کړه، خو کابل ته تګ هم ونه شو ، جمال او یعقوب ویل چې موږ څو ورځې دلته پاتې کیږو ترڅو چې ږیرې مو لوېې شي، خو ما ورسره ونه منله ورته مې وویل چې سبا لاړ شي، زه ترې د تورخم په لاره کابل ته روان شوم، مخکې له دې چې له تورخم نه ننګرهار ته حرکت وکړم، اوښي ته مې زنګ وواهه چې جلال اباد ته راشي، همدا سې وشول، شپه مو په جلال اباد کې له اوښي سره یو ځای تېره کړه، اوښي مې ویل چې خوریې ترپخوا بیا یو څه ښه شوې، یانې په څلورویشت ساعتونو کې یو ساعت یا دوه ساعته لږه ښه وي، ډاکټر صیب چې راته د کوم صراف پته راکړې وه، پیسې مې ترې واخیستې یو څه مې ترې خپل اوښي ته ورکړې چې دوا دارو پرې واخلي، هغه کلي ته روان شواو زه مخ په کابل روان شوم، په کابل کې مې اوله شپه له یو ملګري سره وکړه، په سبا مو په درېمو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکروریانو کې یو اپارتمان په کرایه کړ، لوښي، کمپیوټر، یو سیټ ښه ښایسته دوبۍ کوچونه، هرڅه مې ورته واخیستل، ښه ښایسته کور مې جوړکه، اخیر په یوې ملي راډیو کې راتلونکی رئیس او یامرستیال وم، زه کوم بې سواده نه وم چې دا خبره مې وکړه، دا منم چې ما به ډېرې لوړې زده کړې نه وې کړې او یو نظامي سر تیری وم، خو له ډېرو رییسانو، وکیلانو او معینانو نه ښه وم، د مصلحت حکومت دی، که څوک په څه پوهېږي او کنه نه پو هېږي، غټ پوست باندې یې خېته اچولې وي، تاسو به وایئ چې زه خو په هر څه پوهېږم نو بیا ولې داسې کوم؟ خو که تاسو زما پر ځای وای تاسو څه کول؟ زه خو په لوي لاس داسې شوم، ځکه خو اوس د ولسمشر په وژلو پسې راوتی یم، هغه چې ټول افغان ولس ته خیانت کوي او ورسره ځان له ملایکې نه کم نه ګڼي ، په افغانستان کې هرڅوک تر خپل توان پورې خیانت کوي او کړی یې دی، خو د ځینو باندې ټول خلک خبرېږي او د ځینو بیا پټ وي.

خبره رانه بله خوا لاړه؛ یوه اونی مې په کابل کې تېره شوې وه، چې ډاکټر صیب راته زنګ وواهه ویل یې چې یو کس ستا خواته درځي ځینې اسنادونه ور سره دي، هغه در سره واخله او سباته د ملي راډیو تلویزیون رئیس خواته لاړ شم، خو زه له دې وېرېدم چې څوک مې ونه پیژني، هسې نه هدف ته له رسېدلو نه مخکې ونه نیول شم، په سبا مې لوکسه دریشي واغوسته، شخه نیکټایي مې وتړله، دیپلومات بکس مې په لاس کې ونیو او په خپل موټر کې روان شوم، کله چې د رئیس شعبې ته لاړم، ګورم چې یوه ښایسته جنۍ د مېز شاته ناسته ده، پوه شوم چې دا یې سکرتره ده، د ناستې بلنه یې راکړه، څو شېبې وروسته د رئیس شعبې نه دوه کسان راووتل، جنۍ لومړی زما نوم ورپوښته بیا د رئیس شعبې ته ورننوته، لږ وروسته راووته، زه یې د رئیس شعبې ته بوتلم او خپله ووته، له څو شېبو خبرو وروسته حیران شوم، سخت حیران، هېڅ باور مې نه کېده چې موږ دې دومره ځواک ولرو ، کله کله به مې له ځان سره ویل چې دوی هسې زموږ د ډاډ لپاره وایي چې موږ په هره اداره کې کسان لرو ، باور به مې نه کېده، ځکه رئیس ما ته د راډیو تلویزیون د نشراتو د مسئولیت مبارکي راکړه، حال دا چې ما لا خپله عریضه هم نه وه ورکړې، خو ټول قانوني کارونه مې خلاص شوي وو ، ان نوم مې هم بدل شوی

و ، له تورن توریالي نه په (وحید الله وحید ) بدل شوی و ، په خوشالۍ خپل کور خواته روان شوم، ټوله شپه مې له خوشالۍ خوب ونه که، ډاکټر صیب ته مې ټوله کیسه په تیلیفون کې وکړه، خو هغه هیڅ حیران نه شو ، یو څه لار ښوونې یې راته وکړې، نور مې تیلیفون بند که او ویده شوم.

کله چې سبا سهار دفتر ته لاړم، اول د رئیس خواته ورغلم، له سترې مشې وروسته یې په یو لوی هال (سالون) کې کاروکونکي راټول کړل او زه یې ورته د نشراتو د نوي مسئول په توګه ورو پېژندلم، زه اوس د ژورنالیزم له پوهنځي نه فارغ وم، نه یم خبر دا چا به فارغ کړی وم، ما په راډیو تلویزون کې دنده پیل کړه، خو تر څه وخته ددې اداري کارونه راته نوي وو ، ښه و ، په لږ وخت کې مې ځان په ټولو کارونو او د نشراتو په سیستم پوه کړ، هغه داسې اداره ده چې د ځینو کارکوونکو ان شل د ېرش کاله کېږي چې دلته کارکوي، خو په موقف کې یې لا هم تغیر نه دی راغلی، بله عجیبه راته دا ښکاره شوه، چې یو کس به مثلاً د خپروني مواد راوړل، لکه راپور، مرکې، بل کس به ورته سکرېپت لیکه، بل کس به ایډیت کاوه، بل کس به بیا خپرونه پرزنت کړه او بل به بیا میکس کړه، حال دا چې دا ټول د یو کس کار دی، یانې هرڅه هلته داډول دي، په راډیو تلویزیون کې شاوخوا دوه نیم زرو کسانو کارکاوه، ډېره عجیبه ده کنه؟ دلته یوه خپرونه په شپاړسو کسانو جوړېده، خو کله به دې چې د کیفیت له پلوه تلله، په افغانستان کې د ټولو رسنیو له خپرونو نه بې کیفیته وه، د راډیو او تلویزیون خپرونو کې ذوق او سلیقه او نوښت ډېر اړین توکي دي، خو دې خپرونو کې د نوښت څرک نه لیدل کېده، کله مې چې د شخصي رسنیو خپروني وکتلې خپلو خپرونو ته مې زړه تنګ شو ، هرې شعبې ته چې به ننوتم، د هر یو په لاس کې به د چایو ګېلاس و ، یا به په څوکۍ او یا هم په مېز به ناست وو او ګپ به چالان و ، خو د ښځو او نجونو غږ به ان دوهم پوړ ته هم راته، هره ورځ چې به راتلې نو ما فکر کاو چې پوره یو ساعت خو به یې په ځان خواري کړې وي او عمر ته به دې چې کتل ځلو ېښتو کلو نو نه به پورته وه.

له یوې خوا زاړه مامورین په اصلاحاتو کې منفک شول، او یو څه تقاعد شول، ما یې پر ځای زلمیان استخدامول، چې په دې ډله کې مې خپل ملګري

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم مقرر کړل، په لږه موده کې خپروني یو څه ښې شوې او هم تلویزیون او راډیو لیدونکي او اورېدونکي پیدا کړل، په دې دوران کې د ښځو په هکله په دې پو شوم چې ښځه ووژنه خو کار یا دنده ترې مه اخله، داسې نه وچې دوی اقتصادي ستونزې درلودې، دوی هم غوښتل چې لکه نارینه ګان له کورنه د باندې کار وکړي او په ټولنه کې ځان ته موقف جوړ کړي او ځینو ته بیا په کور ناستی خوند نه ورکاو.

له بده مرغه دا اصلاحات زما په وخت کې شروع شول، ځکه خو مامورینو دا هرڅه له ما انګېرل.

څه موده وروسته چې مې پام شو، همکارانو رانه سخته وېره لرله، په لومړیو وختونو کې نه وم خبر، خو دا هرڅه په کلاره وشول، ځکه له یوې خوا زماني له ما نه خواږه اخیستي وو، په اسانۍ مې خندا شونډو ته نه راتله، د ملګرو په خبره ډېر جدي وم او له بلې خوا منفکیانې هم زما په شتون کې وشوې، چې زه پرې سخت خپه شوم، ځان سره مې وویل ته یې څه کوې! ته خو د بل کار لپاره دلته راغلی یې، چې ښې خپرونې لري او که بدې په تا یې څه؟

خو چې بېکاره خپرونه به مې ولېده یا واورېده ځان به مې نه شو کنټرولولی، کنه ما یوائې څه باندې دوه میاشتې په یو شخصي راډیویي او تلویزیوني پروډکشن کې له خپلو ملګرو سره زده کړې کړې وې، خو پېښوریان بیا ډېره پراخه مطالعه او پوخ علم لري او بل دا چې ډېر هنرمند خلک دي، هغوی ته د تعلیم زمینه برا بره ده او مهمه خبره داده چې هغوی خپل وخت بې ځایه نه تېروي، په لږ وخت کې یې هرڅه را زده کړل، خو دې دفتر کې خلکو ان څلوېښت کاله تېر کړي وو، خو اوس هم په څه نه پوهېدل، ټول مامورین داسې نه وو خو داسې مامورین ډېر زیات وو، کله کله به ځینو ما مورینو ویل: د دوه روپو همدومره ګوره وي.

هغه په دې مانا چې د مامورینو میاشتینی معاش دوه نیم درې زره افغانۍ وې، خو ځینې پکې داسې کسان هم وو چې ډېر ښه کار یې کاوه، هغوی به په یو ډول احساس خپل کارونه تر سره کول، هغوی ته مادیاتو ارزښت نه درلوده، خو دا ډول کسان په ټولنه کې ډېر لږ وي.

ولسمشر ما وژلی ارش ننگیال

د ژور خفګان یو کتاب راته یو ملګري له کابل نه راوړی و، هغه د اروایي ناروغۍ ډاکټر دی او دا کتاب یې په خپله لیکلی و، کتاب مې چې ولوست، غټ تشویش راته پیدا شو، ځکه د رواني ناروغۍ نښې راته په هر افغان کې ښکارېدې، او که رښتیا ووایم د (ډپریشن) او ژور خفګان په اړه دغې کتاب زما ډپریشن لا زیات کړ، بیا مې خپل دغه ملګري ته یو لیک ولیږه، ورته مې ولیکل، چې داسې بل کتاب چاپ نه کړې، ځکه د دې پرځای چې څوک ترې ګټه واخلي، برعکس غم او اندېښنې ترې اخلي، ما ورته لیکلي وو، چې په لسو کې پینځه نوي سلنه افغانان په رواني ناروغیو اخته دي چې یو یې زه په خپله یم.

څه به مو سر خوږوم، اخیر مې په دفتر کې خپل سلوک کې تغیر راوسته، ځکه او به له پاسه خړې وې، ما به څه د خلکو دښمني اخیسته؛ ما د خپل تندي ګونځې هوارې کړې او ټول همکاران مې دوستان شول، ان د زړه خبرې به یې راسره کولې، هیڅ پوه نه شوم چې دومره ډېر وخت څه ډول راباندې تېر شو، د ثور د اتمې جشن ته لس ورځې پاتې وې، چې د جمهوري ریاست مطبوعاتي دفتر نه موږ ته د امادګۍ خبر راغی، خو خبرنه وو چې د ولسمشر د مرګ خبر هم جشن پورې تړاو لري، د مکتوب له رسېدو سره رئیس خپلې شعبې ته وغوښتلم، راته یې وویل چې د جشن لپاره ټول اړین وسایل او کارکونکي اماده کړه، هغه نور څه ویل هم غوښتل، خو ما یې خبره پرې کړه، په ښه ډاډ مې ورته وویل چې ددې ورځې لپاره ما له پخوا نه فکر کړی، ته بېغمه شه، له دې سره یې په خندا وویل:- خودیت میفامي دیګه.

هسې هم زما د ښه کارنوم په ټول دفتر کې خور ؤ، رئیس به ځنګه په ما باور نه کاو، د تخنیک د برخې مسئول ته مې امر وکه چې د جشن لپاره ټول وسایل اماده او چک کړي، بیا یې ځانګړې خونې کې (قرنطین) پابند کړي، چې دې کارسره رئیس زښت ډېر خوشاله شو، بیا یې دا خبره ان د جمهور رئیس دفتر ته هم کړې وه، هغوی ته مې وویل چې په هیڅچا هم اعتماد پکار نه دی، د احتیاط لپاره باید دا وسایل په محفوظ ځای کې وي، خو اصلي راز بیا ما سره و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غونډې لپاره مې هرڅه اماده کړي وو ، ځکه چې مونږ باید غونډه ژوندۍ په تلویزیون کې ښودلې وای، یوائې کامرې پاتې وې، ځکه چې موږ دومره ډېرې کامرې نه درلودې چې هم زموږ د ورځینوخپرونو لپاره ترې کار واخلو او هم یې د جشن لپاره په خونه کې بندې کړو ، کله چې غونډې ته دوه ورځې پاتې شوې، د رخصتۍ په وخت کې د وسایلو د چک په بهانه هغې خونې ته لاړم کوم چې د جشن وسایل پکې ساتل شوي وو او یعقوب لکه پیره دار ورته ناست و ، خونې ته ننوتم او یعقوب مې بهر ودراوه، څلور واړه مایکونه مې په خپل دیپلومات بکس کې واچول او له خونې ووتم، یعقوب ته مې وویل، چې هرڅه منظم دي، خو څوک ورته پرې نه دې، د جمهوري ریاست ترټولو کلکه غوښتنه د وسایلو امنیت و ، چې دا کار ما له پخوا نه تر سره کړی و.

کله چې زه کابل ته راتلم، یعقوب او جمال کرمې ته لاړل، هلته یې دوی دواړو ته په مایک کې د چاودېدونکو توکو چلونه او کارول ټول ښودلي وو او همدوی له کرمې نه تر کابله له ځانه سره راوړل، د شپې مو په مایکونو کار شروع که، ډېر اسانه کارو ، خو اصلي خبره داوه چې موږ ته اسانه شوی و ، فقط یوه وړه او سپنه لکه د مبایل بطرۍ چې شاوخوایې واړه، واړه سیمان درلودل او د اوسپنې شاوخوا ته بیا یو ډول د ښیښو په شان څه ترې چاپیره شوي وو ، په لږ وخت کې مایکونه جوړ شول، مایکونه مې ژر چک کړه چې روغ دي او که خراب، د مایک آخزه روغه وه، موږ د مایک له سیمانو سره غرض ونه که، خو د احتیاط لپاره مې وکتل، جمال دوئ دا مواد په کرمې کې ازمویلي وو ، ټول ترې ډاډه و.

په سبا مې مایکونه بېرته دفتر ته یوړل او په خپل ځای کې مې کېښودل، بس د ولسمشر مرګ ته شپې را لنډېدې او هغه ورځ هم راغله چې سهار وختي زما تر نظارت لاندې د غونډې لپاره ترتیبات روان وو یعقوب او جمال ټول کارونه زموږ د پلان له مخې جوړ کړل، لومړی یې ستېج او ستیج باندې د مایکونو سیستم، له راډیو تلویزیون او لوډسپیکر سره عیار کړل، هغه جوړ شوي مایکونه یې په میز ودرول، یعقوب او جمال خپل کارونه داسې منظم پر مخ بېول لکه لس کلنه تجربه چې لري.



دښاراوشاوخوا سیمه خو لا یوه میاشت وړاندې امنیتي کسانو په اجاره کړې وه، خو په دې سهار چېرته چې عسکر او پوځیان وو دلته راغلي وو ، اخیر جشن و ، زموږ نطاقانو له سهار اتو بجو نه په ستېج باندې شعرونه او شعارونه ویل، خو په ما هیڅ وخت نه تېرېده، جمال اوس له دې ځای نه تللی و ،هغه له موټر سره راته د زړو مکرویانو په سړک ولاړ و ، کله، کله مې د هغه خبر هم اخیسته، ډاکټر صیب مې له جمال سره په تماس کې کړی و ، چې د هرې شېبې خبر ترې واخلي، ځمکې راته ځای نه راکاو ، کله، کله به وېرې پسې واخیستم، بیا به مې ماشومان سترګو ته ودرېدل، ځکه تر اوسه مې لا زړه هماغسې ډک پاتې و.

د دې جمهور رئیس وژل زما نه بلکې د ټولو افغانانو ارمان و ، افغانانو په دې باور درلود چې دا جمهور رئیس به افغانستان ته سوله او پخلاینه راوړي، خو پوهان په دې پوهېدل چې دا رئیس جمهور به د هېواد جرړې وباسي.

له ځانه سره مې پرېکړه کړې وه چې دا به زما وروستي عملیات وي، نور به په کور کېنم او له سره به خپل ژوند پیلوم، ښه پوهېدم چې ولسمشر دلته راځي خو کله به وېره راسره پیدا شوه، چې که رانه شي، که مخکې له وخت نه څه ګډوډي رامنځ ته شي، بس وسوسې وې چې تلې راتلې، که مو فکر کړی وي د امتحان شېبه ډېر سخته وي هرڅوک ترې وېرېږي، دا هم زما د امتحان ورځ وه، داسې امتحان چې ډېره موده مې پرې کار کړی و او دا زما لپاره وروستی چانس هم و ، هره شېبه مې خپل ساعت ته کتل، اته نیمې شوې، نهه شوې نهه نیمې شوې خو د ولسمشر درک ونه لګېد ، لسو ته لس دقیقې پاتې وې چې نطاق په یو ډول احساساتي لهجه ولسمشر ته ښه راغلاست وویلو ، ګورم چې ولسمشر په جیپ موټر کې په غونډه راننوت، ناست کسان یې د احترام لپاره له خپلو ځایونو نه پورته شول، یوه لنډه دوره یې ووهله، له جیپ نه راکوز شو ، په شونډو یې مُسکا غوړېدلې وه او لاسونه یې خلکو ته ښورول، له بلې خوا په ستېج باندې بدحال و ، کله به ویاند راوړاندې شو او کله به ویانده، مراسم ښه په درز کې روان وو ، د پخوا په پرتله امنیتي تدابیر ډېر سخت شوي وو ، ځکه خو دولتي چارواکي په ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاډه زړه په جشن کې ناست وو ، خو زه نه یم پوه شوی چې مراسم څه ډول وو ، چا خبرې وکړې او څه څه کارونه وشول، سخت ستړی شوی وم، ځکه چې زه شاوخوا ګرځېدم، همکارانو ته به مې لار ښوونې کولې، د ژوندیو نشراتو پوښتنه به مې کوله، چې دې وخت کې، زموږ نطاق ولسمشرته بلنه ورکړه چې سټیج ته راشي او ورسره ټول ناست خلک یو ځل له خپلو ځایونو نه پورته شول، خو د نطاق له غږ سره په ما سمه تبه راغله، زړه مې سخت وارخطاو ، دا وخت له سټیج نه لږ غوندې لرې تللی وم، ولسمشر خبرې پیل ،کړې خو زه لکه مېخ شوی چې یم، دې وخت کې جمال راته زنګ وواهه، له زنګ سره لکه له خوب نه چې ویښ شم، پرته له دې چې څه ورته ووایم، ټلیفون مې بند که او ښه چابک مې ځان سټیج ته ورنژدې که، خو د سټیج شاوخوا ننګه چاپلوسان ولاړ وو ، ما کوښښ کاوه په داسې ځای کې ودرېږم چې مایک راته سم ښکاره شي، دې کې تقریباً شل دقیقې تېرې شوې، نور مې زړه پړسېدلی و ، نور مې حوصله نه وه پاتې، پوه شوم چې کار خرابېږي، سټیج ته وړاندې لاړم، ولاړو کسانو ته مې په ډېر ادب د ناستې بلنه ورکړه، ما وې چې ولسمشر سم نه ښکاري، ژوندي نشرات دي، کور یې ودان ځینې په خپلو ځایونو کې کېناستل او ځینې بیا ان له مانه هم شله وو ، خو له دې کار سره ما ته لار صافه شوه، دې وخت کې د ولسمشر خبرې پای ته نیژدې وې، چې مبایل مې پسې راوویست، ما وې چې همدا اوس وژل کېږم هم ژوندی به رانه لاړ نه شي، تقریباً خبرې یې خلاصې وې خدای پا مانې یې کوله، چې مبایل مې غوږ ته ونیو ،له مایک سره مې مخامخ کړ او ټنې مې کېکاږله او ورسره داسې درزشو ، چې ولسمشر یې ان په د ېوال وویشت، ګډوډي شروع شوه، هرچا کوښښ کاو چې ځان وباسي، په منډه مې ځان جمال ته ورساو ، ټوله سیمه یو ناڅاپه کلا بنده شوه، خو زما په موټرد لوړ پوړو چارواکو د موټرو ټاپه شوی کارت لګېدلی و ، چا راته څه نه شو ویلی، یعقوب له ما نه مخکې موټر ته راغلی و ، په یوه شېبه کې مکرویانو ته ورسېدو ، موټر مو د باندې ودراو ، په منډه کورته ورننوتو ، دستي مې ډاکتر صیب ته زنګ وواهه، لاسونه او پښې مې رپېدل، سخت ډارشوی وم، په ډېرې سختۍ مې ډاکتر صیب ته وویل: کارو شو.



دې خبرې سره له ها خوانه د خنداګانو غږونه پورته شول، پسې مې د ډزو غږونه هم واورېدل، ډاکټر صیب د کامیابۍ مبارکي راکړه او ویې ویل، چې همدا اوس ځانونه راوکاږئ..ما خپله فرانسوۍ ږیره ژر، ژرکله کړه افغاني جامې واسکټ او پکولونه مو په سره کړل، کور مو قلف که او خپل موټر کې مو لوګر خوا ته حرکت وکړ، خو داسې بده ورځ مې په خپل عمر کې هم نه وه لیدلې، ډېری خلک لا له پېښې خبرهم نه وو.

جمال دوی ته مې وویل چې څو ورځې به لږه ګډوډي وي، خو بیا که خدای کول ډېر عمر به امن او کراري وي، ښه و تر لوګر پورې له ډېرو تالاشیو نه ژوندي ورسېدو ، لوګر نه خوست ته لاړو هلته مو هم یوه قرارګاه وه، هلته مو ښه شپه تېره کړه، موټر مو پکې ودراوه، سبا سهار له لمانځه نه وروروسته مو ( ببرک تانې ) ته حرکت وکړ، ببرک تانې نه، علي زیو ته ورسېدو ډاکټر صیب ته مې زنګ وواهه، د هغه خوشحالي مې د ټلیفون په غږ کې حس کړه، چې ویل یې میرام شا ته ځان راورسوئ، څو ساعته وروسته مرکز ته ورسېدو ، کوم زر کسان به په یوې کلا کې راټول شوي وو ، زموږ په لیدلو ټولو زموږ په خوا رامنډې کړې، څو چې مې ځان ته پام کېده، هوا ته پورته شوی وم، کوم لس دقیقې یې په اوږو کېنولی وم، په دې ورځ مشرانو او کشرانو زموږ ښه هرکلی وکړ، ډاکټر صیب خو په جامو کې هم نه ځایېده، بس میلمستیاوې او انعامونه راته راکړل شول، ډېرو خو پېژندم، خو دا وار چې هر ځای ته تللم، خلکو به یو بل ته ویل: دغه دی تورن !.

ځینو خو به داسې فکر کاوه چې تورن یاني تورزن.

زموږ په مرکزکې مو یو ځانګړی دفتر درلود چې د تلویزیونو او راډیوګانو خپرونې پکې لیدل کېدې او اورېدل کېدې او ځینې مهمې خپرونې یې ثبتولې هم، دغه عملیات زمونږ د ملګرو له خوا نه هم په یوه سیډي کې بازار ته وړاندې شول، خلکو به زمونږ لخوا جوړې شوې سیډي ګانې لکه ډرامې داسې کتلې، د ولسمشر په وژلو سره ټوله نړۍ ولړځېده، له (سي ان ان ) نه نیولې بیا تر سیمه یزو رسنیو پورې د ولسمشر په وژلو رپوټونه او بحثونه جوړ کړل، زما تصویرونه یې په تلویزیونو کې ښودل، او د رادیو ټلویزون رئیس بندي شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاو خوا درې ځلور میاشتې دلته ایسار شوم، کورته مې سخته تلوسه وه، ځکه میرمن مې تر پخوا یو څه ښه شوې وه، غوښتل مې چې په خپلو سترګو یې وګورم او خپل غمونه ورسره وژاړم. دا هم ورته وایم چې ما د خپلو اولادونو بدل واخیست.

د جمعې ورځ وه چې ډاکټر صیب نه مې د کورته تګ اجازه واخیسته، درې ساتونکي یې راسره کړل، د روانېدو پرمهال یې راته په خندا وویل: تورنه ! ستا دا زړورتیا او قرباني کومه بې مانا کیسه نه ده، دا منم چې تا ولسمشر وواژه، دا ډول کار د نړۍ په تاریخ کې ډېر لږ تر سره شوی دی، خو ته یو واقعي اتل یې، تا د انسانیت، افغانیت او مسلمان په جامه کې یو لوی خاین او د کفارو ګوډاګی او جاسوس وواژه، نړۍ به هم په دې پوه شي چې که د ټولو افغانانو په خوښه او سلا یو ریښتینی او مسلمان انسان د دې خاورې مشر انتخاب نه شي دلته به د نورو په خوښه او د نورو په ګټه رالېږلي ګوډاګیان که ټوله نړۍ هم ورسره وي بریالي نه شي.

ما ته هغه وخت دا خبرې هسې ګپ ښکارېدې، کله به شیطان راته وسوسه راپیدا کړه، له ځانه سره به مې وویل، هسې مو سړی راباندې خراب که، خدای خبر که افغان دولت کې تاسو ته څوک برخه درکړي، کله به مې ویل، که دا حالت لکه څنګه چې مور فکر کاوه د خبرو او سولې له لارې سم شي نو دا ځل به د رادیو تلویزیون د نشراتو مسئول نه بلکې د رادیو تلویزیون رئیس شم.

زه هم عجیب سړی یم، د خپل خیال پلو کیسې تاسو ته کوم، خیر لږ،لږ دې دا هم پکې وي، را به شم اصلي کیسې ته، ډاکټر صیب راته ویل چې بل سبا ته لاړ شم، ما هم ورسره ومنله، بل سبا یې ښې ډېر پیسې راکړې او د کور په لور روان شوم، شپه مې کلي ته ورسوله او ملګري رانه سپین غره ته لاړل، ډاکټرانو ویلي وو ، چې له میرمینې سره مې باید ډېر ښه سلوک وشي، هغوی ویلي و چې ددې درمل د مور، پلار او خاوند مینه او محبت دی، تر څو چې هغه تېر وختونه یې هېر شي، هېرېدل چېرته خو دا مې زړه ته ولوېده چې که مور یې خوشاله وساتو کېدای شي چې یو څه ګټه به ورته ورسوي، اوس مې غچ اخیستی و اوس نو ما ته همدا کار تر ټولو لوی کار و چې د خپلې



مېرمنې د درد دوا شم، له کلي خو هسې هم نه شوم وتلی، بس ټوله ورځ به یې سرته ناست وم، په لومړیو وختونو کې به په شپه ورځ کې کله د یو ساعت لپاره او کله دوو ساعتونو لپاره رکه روغه شوه، خو همدا چې ما شومان او هغه ناوړه پېښه به یې په زړه شوه، په هماغې شېبه به بې هوښه شوه، خو کرار کرار ښه کېده، یو وخت داسې هم راغی چې په ورځ کې به ځلور یا پینځه ساعته ښه وه، سړی په خپل عمر نه پوهېږي او نه خو کوم مامور وم چې د معاش لپاره به مې ورځې شمېرلې، خو داسې ورځ مې هم ولیدله چې الله پاک یو ګلالی ځوی راته را ډالۍ کړ، یوازې ځوی نه بلکې د ځوی له پیدا کېدو سره زما د میرمنې حالت هم ښه شو.

دقیق وخت خو راته نه دی مالوم چې په کلي کې مې څومره وخت تېر کړ، خو دا مې په یاد دي چې په لومړیو کې حالات یو څه خراب شول، د حالاتو د ډېرو خرابېدو د مخنیوي لپاره ټول همدې یوې نتیجې ته ورسېدل، چې د افغانستان د حالاتو د کنټرول کېدلو یوائینۍ د حل لاره بیړنۍ لویه جرګه ده؛ لویه جرګه جوړه شوه، ټولو افغانانو او د ټولوافغانانو او د ټولو سیاسي ګوندونو استازو پکې برخه واخیسته، په دې لویه جرګه کې ګډونوالو یو بل د معدني اوبو په بوتلونو سره ونه ویشتل او نه هم د بهرنیو جاسوسانو نه جوړه یوه لویه جرګه وه، بلکې رښتیا هم د ټولو افغانانو په خوښه یو ملي حکومت جوړ شو ، خلکو د خوښۍ جشنونه کول، څه وخت وروسته، په کور کې د غرمې په خواږه خوب ویده وم، چې دروازه وټکېده، په غږ یې راویښ شوم، کله چې دروازې ته ووتم، څو پوځي موټرونه او په عسکري لباس کي خلک له کوره تاو شوي دي، خو دا ځل یې زما د کور دروازې ته بم کېښنبود ، بلکې دروازه یې وټکوله او چې زه بهر ور ووتم بې له کومې خبرې په هرڅه و پوهېدم، بې له دې چې کورته ننوځم په موټر کې یې واچولم او حرکت مو وکړ؛ دا حکومت زما په هڅو او زما د ملګرو په وینه جوړ شوی و او همدې حکومت زه بندي کړم؛ زما مېرمن اوس ښه شوې ده، اوس کله، کله بندیخانې ته راځي او ماته پاکې جامې او نور څه چې زه ورنه وغواړم راوړي، ځوی مې هم غټکی شوی دی، زه ورته ډېر خوشاله یم،اخیر د ړندې سترګې اوښکه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ولسمشر ما وژلی

ارش ننګیال

په دې دوران کې کوم وهل ټکول نه وو، په لومړنۍ محکمه کې راته د عمر قید سزا واورول شوه، ځکه په زغرده مې وویل چې ( ولس مشر ما وژلی ! )

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**